آری در چنین حالت وچنین فضای آرامش واطمینان بدو نازل میشود وفیوض ربانی شامل حالش میگردد، چشمه های محبت ربانی جوشان می شود واو غرق در این محبت میشود ودر راه خدا جل وعلی فنا میگردد.

انسان ذلیل وکم منزلت که در تاریکی های جهل وبدعت فرورفته بود، از پستی ها وذلت ها خلاص میشود به جانب نور وهدایت به پرواز میاید ودر نور وروشنائی عقیدهء صاف وسالم حظ وافر خویش را از جانب خداوند قدوس میابد، حظش حظ موفورش از حب و دوستی اللّه ، رأفت ونرمش اللّه ورحمت بی پایان او

څۀ هم فقیر محمد خان ددې خبرې د اثبات د پاره چې دغه تخلص یې د کومې قبیلې نوم نۀ، بلکې د خپل نیکه دنوم پۀ وجه ایښی دی، حتی تر وزیره پورې تللی ؤ، خو فایده یې نۀ وه کړې او وروسته خبره ورته دا شوې وه، چې نوی نظام ملي وحدت او یووالی ته ډیراهمیت ورکوې اوپۀ همدې منظور یې د سیمه ایزو او قبیلوې افکارو او احساساتو د مخنیوي د پاره پۀ دغه ډول تخلصونو بندیز لګولی او څرنګه چې د نظام ټول مسؤلان او ګرده اولس پۀ دې حقیقت نه شې پوهیدلی، چې لعل زې دقبیلې نوم نۀ دی نو احسنه داده چې هغوی باید لۀ دغه تخلصه لاس واخلي. شیر محمدخان مخکښې لۀ دې چې، دنوي نظام پۀ طبع برابر تخلص پیدا کړي، تقاعد شوی ؤ او دۀ خپل تقاعد هم دخپل تخلص دمنع کیدنې پۀ شان دځان پۀ حق کښې ظلم ګاڼۀ. ښاغلي فقیرمحمد خان«لعل زی» لۀ معلم صاحب نظرې سره په لومړني ملاقات کښې دزړۀ ددې غوښې دخلاصولو جرات ځکه کړی وُچې دا ورمعلومه شوې وه. چې معلم دډه دیوۀ پخوانې دوست زوی دی.

دهغۀ دتخلص دکیسې لۀ اوریدنې وروسته معلم غلام مجدد نظرې هم پرته لۀ دې چې دحکومت نوم واخلي یوه سړه سا ایستلې او پۀ داسې الفاظو یې دحکومت شکایت کړی ؤ؛«یو انقلاب خو مخکښې لۀ دې چې ستاسې شنۀ بریتونه سپین او زما تور بریتونه شنۀ شي، باید زمونږ هیلې بشپړې کړي، خومتاسفانه پۀ دې سست رفتار سره به ډیر زیات وخت پکار وي».

دمعلم غلام مجدد نظرې پلار په «صنعتي بغلان» کښې اوسیدۀ.هورې یې اتیا- نوي جریبه زمکه وه. درې ودونه یې کړي اودګنو اولادونو خاوند و. دهغۀ

پر زراعت سربیره لۀ تصوف سره دلچسپي وه او دا مشهوره وه چې پۀ دې لاره کښې يې څۀ پر مختګ کړی دی. معلم نظری د هغۀ د مشرې کډې زوی او ددۀ پۀ ګڼو اولادونو کښې تر ټولو مشر ؤ.د معلم کۀ څۀ هم کډه او ماشومان د پلار کره په صنعتي بغلان کښې وو، خو دی د متعلمې لۀ وخته پۀ ډګر اموخته شوی او صرف يوه جمعه بله جمعه به کور ته تلو.

لۀ فقیر محمد خان لعل زی سره د معلم غلام مجدد نظري د نوې انډيوالۍ وجه د پلار يارانه نۀ بلکې داوه چې بناغلي لعل زی ماسکو او لينن ګراد ته سفرونه کړي او سوز ميدان،دنيواسين او داسې نور ځايونه يې ليدلي وو او ددۀ پۀ حساب يو روښانفکره سړی ؤ. سربيره پر دې يو بل روحي ضرورت هم فقيرمحمد خان دمعلم زړۀ ته نژدی کړی او هغه دا چې معلم لۀ بوډاګانوځخه ځان لرې محسوساوۀ. دۀ پۀ لاشعوري توګه دااحساس کاوۀ چې لۀ خپل محدود چاپيريال بايد راووځي او د بيلابيلو عمرونو، ذهنونو او قشرونو لۀ خلکو سره بايدمانوس شي. لۀ همدې کبله يې لۀ لعل زی سره لګيدلې او له واز موټر يې د کوز يدلو پۀ وخت لۀ لعل زی سره د بيا بيا ليدلوارزو څرګنده کړې او عبدالباقي رستورانت يې وربودلی ؤ. فقير محمدهم د معلم اشنايی ته ښۀ خوشحاله ؤ. معلم پۀ ټوله لاره کې ددۀ خبرو ته پۀ دقت غوږ اينښی ؤ او دا هغۀ شی ؤ چې د لعل زی صاحب زړۀ يې تسکينولی شو بناغلي لعل زی کۀ څۀ هم ډير عمر په مطبوعاتو کښې کار کړی او ډير مضمونونه او شعرونه يې چاپ شوي وو، خود خپلو خبرو درسولو تنده يې نۀ وه ما ته، هغۀ احساس کاوۀ چې پۀ دې وطن کښې چا ددۀ خبروته پۀ دقت غوږ نۀ دی اينښی او ددۀ د افکارو پۀ معنا او

عظمت څوک نۀ دي پوهيدلي.

پۀ عبدالباقی رستورانت کښې به دمعلم او لعل زی مجلس ته اکثر مامور عبدالاحدراتۀ. عبدالاحد چې پخپله به يې ځان ته «احد» ويل او پۀ ونه متوسط سړی ؤ، ددشت ارچي داولسوالۍ اوسيدونکی ؤ. پلار او مشر ورور يې پۀ دشت ارچي کې اوښبنی کوله. مامور عبدالاحد دبغلان دزراعت پۀ ليسه کښې سبق لوستی، هوري لۀ معلم نظری سره بلد شوی او اوس دخان اباد دزراعت پۀ اداره کښې مامور ؤ.

مامور عبدالاحد کۀ څۀ هم پۀ فکري لحاظ دمعلم نظري خولې ته کتل او دهغۀ لاره يې منله؛ خو دمعلم برخلاف، بې حوصلې ځوان ؤ،او ددو ستانو پۀ موندلو او پاللو کښې يې هم مزه نۀ وه. مامور پۀ عمر دري ديرش کلن ؤ، وادۀ يې لانۀ وکړی، لۀ کليوالو نجونو يې ورته کيدۀ او پۀ

ښاري ټولنه کې لاجذب شوی نۀ ؤ. سينما ته به ډير تلو او چې پيسی به ورزياتې شوې؛ نو شراب يې خامخا څښل، مامور احد ډيرو خبرو او بحثونو حوصله نه لرله؛ خو چې يونيم وخت به يې خولۀ پرانستله، نو دخپلو افکارو له څرګندولو يې ډډه نۀ کوله. هغۀ به ويل چې د کرهنې دوزارت وجود بې فايدې دی، ځکه چې زمکې دفيوډالانو پۀ لاس کښې دي او فيوډالان لکه څنګه چې دنور علم دښمنان دي دزراعت علم ته هم پۀ څۀ سترګه نۀ ګوري او دزراعت دمتخصصانو لۀ نظرياتو استفاده نۀ کوي او بزګران خولۀ سره ځان ته داحق نۀ ورکوي، چې فکر دې وکړي. مامور عبدالاحد به پۀ دې خبره ټينګار کاوۀ، چې ټولې زراعتي زمکې دې لۀ فيوډالانو واخيستل شي، پۀ غټوغټو فارمونو دې وويشل شي او دزراعت دمامورينو تر کنترول لاندې دې

راشي . مامور عبدالاحد به خپله داخبره هم نۀ پټوله چې په اوسنيوشرايطوکښې دزراعت دحاصلاتو کميدل او دشتمنو جايدادونو ته زيان رسول، تاوان نۀ، بلکې ګټه لري او دانقلاب لاره پرانيزي. هغۀ دښځو دازادۍ، دزمکود دولتي کولو او دملايانو دنفوذ دختمولو دپاره دزور او برچې پۀ ځوکه داقداماتو پلوي ؤ. مامور عبدالاحد به يو نيم وخت شعرونه هم ويل او پۀ همدې وجه معلم نظري، لعل زی او مامور يوبل ته وروپيژندل. دزراعت مامور خپلو شعرونو ته پۀ درنه سترګه کتل او نۀ يوازې يې موجود مطبوعات دخپلو شعرونو دخپرولو جوګه نۀ ګڼل، بلکې چاته يې په اسانه خپل شعرونه او رول هم نۀ، ددۀ داخيال ؤ، چې دلته څوک په ښۀ شعرنۀ پوهيږي.

دقربان دوی دری واړه بدايسيدل؛ خوډير به معلم ته پۀ غصه ؤ او سخت يې زړۀ غوښتل چې پر معلم او ددۀ پر شپې مالي بحثونو څۀ بلا پر يوځي.

پۀ هغۀ ماسپښين قربان داوبو راوړلو دپاره جومات ته لاړ. هوري يې دځاه پۀ غاړه سطلونه کيښودل، اودس يې تازه کړ اودلمانځۀ پۀ نيت دجومات برنډې ته ورپورته شو. دجومات ملا،ميا شمس الدين، دجومات په برنډه کښې پيتاوې ته نيم ويښ نيم ويدۀ پروت ؤ. دقربان په ليدو يې سترګې پرانيستلې او ورته ويې ويل ؛«ځنګه، هغه سرلوڅی لکه چې اوس هم درځي!»«قربان خواب ورکړ؛«هو، اوس هم راځي، بس بل کارنۀ لري ترنيموشپو پورې خبرې کوي.» ميا صاحب وويل ؛« عبدالباقی ماما ته دې خدای انصاف ورکړې، دغو ناولټوته به هم دی خوشحاله وي.»

ميا شمس الدين نور غلی شو، خو دقربان زړۀ غوښتل

چې هغه دې ددوی پۀ باره کښې نور څۀ هم ووایي، نو ځکه یې پوښتنه وکړه؛« میاصاحب، ستاپۀ خیال دوی څنګه خلك دي؟

میا ورته پۀ ځواب کښې وویل ؛« مخ دې یې ورك شي، مه یې یادوه!» خودقربان زړۀ ورته ډیرډك ؤ او په عین حال کښې معلم او دهغۀ ملګري مجهول کسان ورمعلومیدل او ددوی پۀ باره کښې یې نورو معلوماتوته سوداوه،نولۀ همدې کبله یې میا شمس الدین بیا وپوښت ،(میاصاحب،داخلك تا مخکې پیژندل ؟میا په تروه تنده ځواب ورکړ،(نه، څۀ شولې مې ورسره کړلې دي ،داسې خلك خو زۀ له رنګه پیژنم، چې څرنګه‌مې ددوی سپیرو، بې نمکوابې نورو مخونوته وکتل نو ومې پیژندل، چې دخبروڑرندې به وې خوکه یې وپوښتې نودوعائی قنوت به یې هم نه وې زده.»

قربان نور دمیاصاحب پۀ عذابول ونۀ غوښتل، پۀ لمانځۀ ودریدۀ خوپۀ لمانځه کښې یې همدغه عجیب کسان لۀ ذهن څخه نۀ وتل.

پۀ راتلونکې شپه چې لعل زی رستورانت ته راننوتو، معلم ترده دمخه رارسیدلی اوپۀ ځوکی غلی ناست و.درستورانت پۀ شاتنۍ برخه کښې پر تختونوباندې (ارباب عزیزاحمدخان)لۀ خپلو دووتنوکلیوالوسره ناست وَ.

دلعلزي چې څنګه پرَارباب سترګې ولګیدې، نومعلم یې پریښودۀ، اول ارباب ته ورتیر شو. لۀ ارباب اودهغه لۀ ملګروسره یې روغبړوکړاوارباب ته یې،چې دی یې هیرکړی و، ځان دوباره ور معرفي کړ اوبیادمعلم خواته راغی. پر معلم دغه حرکت ښه ونه لګیدۀ، خو پۀ خولۀ یې څۀ ونۀ ویل.

دقطغن دځینولویو اوپخوانو اربابانو اوبایانوپۀ ځیر دارباب عزیز احمدخان داعادت

و، چې کۀ به کوم رستورانت ته ورغی، نو ترکله چې به هوری ؤ، دټولو مراجعینودچای اودوډی پیسې به خامخا ده ورکولې.

کله چې لعل زی صاحب دمعلم ځنګ ته پۀ کرسی کښیناست، ارباب پخپل لور اواز عبدالباقي ماما ته ورناړې کړې چې: باقي!! مدیرته (منظوریې فقیرمحمدخان لعل زی ؤ .) دوډی راوړئ!» پۀ همدې وخت کښې دزراعت مامورهم راورسید، چې پۀ راتګ یې دمعلم تندی ورین شو او پۀ مینه یې ورسره روغبړ وکړ.

مامورچې ځنګه کښیناست، سترګې یې پۀ ارباب ولګیدې. ارباب پۀ چیلم ځکولو بوخت ؤ. مامور،چې ارباب یې ډیر بدایسیده، ایسارنۀ شو. معلم اولعل زی ته یې صرف دومره وویل، چې چیرته یې کاردی اوبس پۀ بیره ولاړشو. دهغۀ داخیال ؤ چې دارباب به ورپام شوی نۀ وي، نوځکه ارباب ته لۀ ورګرځیدوپرته غلی شانته بهر ووت؛خودارباب ورپام شوی و اودچیلم لۀ ځکولواوتوخلووروسته یې دمعلم اولعل زی خواته مخ راواړاوه،ویې ویل:« (دامامورګی خوتاسې پیژنئ،ورته ووایاست ځې دلته پۀ ښارکښې بې عقلي مه کوه.احتیاط کوه .نن دسینما مالک راته کیسه کوله ځې پۀ سینماکښې مې ګیرکه ځې پاکې یې په لاس کښې وه او دځوکیو پلاستیک یې ځیرې کاوه. دامامورګی پوه کئ ځې خدای دې خوارکه دابنار دی،کلی نه دی ، ځې مور درنه خبریږوتۀ به یې رانه وهلی یې او ځې کار تر کار تیرسې بیا ځۀ پایده(فایده). داخبره خامخا ورته وکی. د ما بیاله هیره وځې.»

ارباب پـهٔ پـاو بـانـدې نهـو بجـو پـاځـيـد. عبدالباقی ماما ته يې څو نوټونه پهٔ موټ کښې ورکښيښودل او چې کله عبدالباقی ماما دمننې دپاره دوعاګانې کولې، ارباب ته ميا شمس الدين وريادشو، لهٔ جيبه يې دوه دري سوه افغانۍ راوايستلې او عبدالباقی ماما ته يې وويل: «داپيسې به داهغه ته ورکې، داځهٔ نوميږي،دا،دابدمخی تورملا.»

عبدالباقي ماما ځنې پيسې واخيستلې او ويې ويل: «هوصاحب، پهٔ دواړو سترګو،ور به يې کړم،خدای پاك دې ستاسو آل واولاد...»

دارباب دتلو پروخت معلم اولعل زی هم ولاړواو دواړوپهٔ ډيره احترام ورسره خدای پامانې وکړه. دهغهٔ لهٔ وتلو وروسته هم دمعلم طبيعت راسته نهٔ شواو هماغسې غلې پاتې شو،خولعل زی دارباب سخاوت خوشحاله کړی ؤ اوپهٔ دې ارتباط يې ډيرې خبرې وکړې. هغهٔ وويل چې دسخاوت دا روحيه يوازې دقطغن پهٔ بايانو کښې نهٔ، بلکې دقندهار او هرات پهٔ خانانو کښې هم ډيره ده او داروحيه اصلا دعيارانواوځوانمردانو لهٔ تاريخ سره ارتباط لري چې... اوپهٔ ډيره قديمه زمانه کښې چې ددی ښکلې تاټوبې نوم آرياناؤ ... پهٔ حقيقت کښې دآرين توري معنا نجابت ده او د نجابت يو اصلي شرط سخاوت دی ....»

د هغهٔ خبرو معلم ته خوند نهٔ ورکاوهٔ؛ خو ځرنګه چې معلم د سړې سيمې خاوند سړی ؤ، نو د هغهٔ خبرې يې اوريدلې او چې پهٔ پاو باندې لسو بجو لعل زی د يو بل چای فرمايش ورکاوهٔ ،دهٔ د خبرو

لـۀ تـم کيـدو استفاده وکړه، لعل زی ته يې بهانه وکړه، چې پۀ سر يې درد دی او نـن شپـۀ غـواړي دوختـه ويـدۀ شـي. لعـل زی هـم د چـای لـۀ څښلـو صرف نظر وکړ، لـۀ دۀ سـره غـبـرګ راولاړ شـو او د خـدای پامانې پـۀ وخت يې د مامور پـۀ بارهٔ کښې د ارباب خبره يادە کړه.

معلم وويل : دا دارباب د خپلې خيټې خبرې او د هغـۀ د طبقـاتـي ذهنيـت محصـول دی. د «طبقاتي ذهنيـت »کلمې مـامـور پـر لعـل زی هيـر کړ، لـۀ معلم سـره يې پـۀ بيړه خـدای پـامـانـې وکـړه او پـۀ لاره لـۀ دې خـوږې ارزو سـره، چې يـو نيـم وخـت بـه يـې ددۀ زړۀ تـه لاره کـولـه،مشغـول شـو، چې حکـومـت لـۀ شتمنـو مـادي امتيـازات او مـزايـاوې واخـلي او پـرمنـورينـو، روښـا نفکرو،اديبانو اوليکوالانو يې وويشي.

دوه ـ دري شپـې راوروسـتـه يـو ماخوستـن يـوه داسـي کيسـه پيښـه شوه چې پـر دوی بانـدې دقربان نور شکونـه هـم پيـدا شـول . کيسـه داسـي وه چې پرنـومـوړې شپه چې سربيـره پـر معلـم، لعـل زی او مـامـور عبـدالاحـد د معلـم صـاحـب دوه دري کسـه شاګـردان هـم راغـلي وو. لعـل زی قـربـان تـه پنځـه افغـانـی بخشش ورکـړي خـو ددې پـر ځای چـې د زړۀ سـوی او غـريـب دوستـی پـۀ صفـت وستـايـل شـي، د زراعـت دمـامـور لـۀ اعتـراض سـره مخامخ شـو. مـامـور ورتـه وويـل :«څـوک چـې پـۀ داسـي شـرايطـوکښې خوارانو تـه يـوه افغـانـی ورکـوي پـۀ حقيقـت کښې د انقـلاب پـر اور يـو ټانکـر اوبـۀ شيندي!»

لعـل زی تـه دا خبـره بـالکـل عجيبـه ښکـاره

شوه ، مخ يې د معلم خواته راواړاوه او پۀ تمسخر سره يې وويل : «داسې څه وايي ؟» خو مخکښې تردې چې معلم څۀ ووايي، د زراعت مامور ورته وويل! « لعل زی صاحب ! مونږ د هغۀ انقلابي نسل ځوانان يو، چې پۀ مظاهرو کښې به مو دا چيغې وهلې چې « اين ملك يك انقلاب مې خواهد وبس، خونريزيی بې حساب مې خواهد و بس »

د زراعت مامور په داسې حال کښې، چې خپل لستونې يې رابډوهل ، خپلو خبرو ته داسې ادامه ورکړه :«زۀ غواړم چې هر څۀ دې سپين شي ، تر بوسولاندې اوبۀ تيرول فايده نۀ لري ، زۀ د ډيرو خبرو حوصله نۀ لرم ، لۀ نظری صاحب څخه غواړم، چې زما پۀ خبرو دې بالکل آزادانه قضاوت وکړي.»

معلم چې يو وخت لۀ خوارانو سره د نۀ مرستې کولو همدا خبره پخپله مامور ته کړې وه او د خپلې خبرې پۀ اثبات کښې يې ډير دليلونه راوړي وو، اوس پۀ دوه کښې حيران شو، چې کۀ دلعل زی خوا نيسی، نومامور داسی سړی دی، چې خبره به سپينه کړي او کۀ د مامور لوری کوي، نو لعل زی به پر دوی بدګومانه شي. معلم پۀ چورت کښې لاړ، چې څۀ ووايي. لعل زی خپلې عينکې لۀ ميزه راواخيستلې ، پۀ سترګويې کړې او بې لۀ دې چې دمعلم خبرې ته انتظار وکړي ،د معمول برخلاف پۀ ولاړه او قاطع لهجه وويل ؛ «زۀ پۀ هيڅ شرط دا خبره نۀ منم. لۀ خورانو او غريبانو سره مرسته خامخا لازمه ده. پۀ نيکۍ کولو کښې د خو ځای نشته... د هغۀ خبرې د زراعت مامور ورغوځې کړې، ويې

ویل :دا زهٔ منم چې لهٔ خوارانو سره مرسته پهٔ کار ده، خو کاذبه نهٔ؛ بلکې حقیقي مرسته او حقیقي مرسته هم د کارګري طبقې پهٔ نماینده ګوند کښې شاملیدل دي او بس!»

لعل زی د هغهٔ پهٔ خبرو کښې ورولویدو او لهٔ استهزا څخه پهٔ ډکه لهجه یې پهٔ داسې حال کښې چې دچپ لاس ګوتې یې تاوولې،ویې ویل :زهٔ ګردسره نه پوهیږم، چې دا تهٔ څهٔ وائې » د زراعت مامور دخپلې خبرې د اثبات د پاره بیا شروع وکړه او د تائید د پاره به یې دهرې خبرې پهٔ پای کښې معلم تهٔ پهٔ مخ اړولو کښې دا سرو کی تکراراوهٔ «که داسې نه ده !»

څرنګه چې د زراعت مامور لهٔ معلم څخه زده کړې خبرې کولې، نو معلم دا جرات نه کاوهٔ، چې د لعل زی خواونیسي. معلم څوځله غاړه صافه کړه چې څهٔ ووایي او د دوی د بحث موضوع واړوي؛ خو خبره به نهٔ ورجوړیده. معلم بالاخره د خبرو وار ونیوهٔ او ویې ویل «پهٔ کومه مسالهٔ چې تاسو خبرې کوئ، ډیره پیچلې ده. دا مسأله څوبعدونه لري او کیدای شي، چې له مختلفو زاویو ورته وکتل شي. واقعاً چې زوره موضوع ده ډیرځهٔ پري ویل کیدای شي، خو زه فکر کوم چې نن شپه دا مسالهٔ پهٔ همدې ځای پریږدو .ځکه دا دیوساعت او دوو ساعتونو خبره نهٔ ده » پهٔ همدې وخت کښې معلم دا فرصت هم ومونده، چې د زراعت مامور ته سترګه ووهي او غلي کولو ته یې راوبولي.

معلم غلي شو خو لعل زی د بس کیدو نهٔ وُ او له اوږدو خبرو وروسته یې وویل :«خلاصه دا چې لهٔ

عزاسمه وفنا شدن در راه او.

آری این نعمت های الهی در این فضا میسر میگردد ودر چنین لحظات نه در دیگر هنگام و اوقات.

اگر در چنین وقت انسان مرتکب عمل زشت وناشایستی گردد نه تنها صفای حجش مکدرمیگردد بلکه صفای همه عباداتش مکدر میگردد همه عمرش تباه میشود وحاصل آن را به باد میدهد.

سوال مانبود غیر آرزوی محال
نشسته ایم بر آن در که وانخواهد ماند.

«کلیم»

خوارانو سره مرسته هم ددې دنیا خیردی هم د هغې دنیا او څوک چې دا نظر نۀ منې هغه به خسرالدنیا والآخوه وي.»

پاو باندې یو ولس بجې وي. د زراعت مامور خوبولی ؤ، لعل زی د خبرو لۀ ختمیدو سره سم ولاړ شو او په تمسخر آمیزه لهجه یې وویل: «اوس چې خبره اخرت ته ورسیده نو صحبت به بس کړو ،لاړ به شو.»

د قربان زړۀ ته کۀ څۀ هم د مخه دالویدلې وه، چې معلم او ملګري یې پۀ پوست پاک خلك نۀ دي، خو د هغوی د رازونو د معلومولو تندې لۀ یوی خوا او د بحثونو پۀ نتیجه کښې دهغوی پخپلو مینځونو کښې د سره ورانیدنې تمې لۀ بلې خوا پۀ قربان وخت تریخ تیر نۀ کړ.هغۀ چې پۀ سبا ماسپښین بیا اوبه راوړي، میا صاحب ته چې دیوال ته یې ډډه وهلې او پیتاوي ته ناست ؤ.د تیرې شپې کیسه وکړه، چې مامور دخیرات مخالفت کاوه او معلم په کې ځان غلی نیولی ؤ . ملاصاحب د قربان خبرو پۀ فکر کښې لاهو کړ.څودقیقې پۀ فکرکښې ډوب ؤ او بیا یې قربان ته وویل: «خدای مې دې غاړې نه بندوي ، دا مامور او معلم لکه چې پنج پیریان دي، قربان لۀ هغۀ څخه د پنج پیریانو پۀ باره کښې پوښتنه وکړه.میاشمس الدین ورته پۀ ځواب کښې وموسید او بیا یې وویل « دوه او یا فرقې دي،تۀ یې څۀ پوښتنه کوې.بس پۀ پنځۀ وخته لمانځۀ کښې دغه سوال کوه، چې ایمان دی خطا نه شي. » خو قربان چې ددغو کسانو لۀ پیژنولو سره یې دلچسپي وه، میاته وویل:« صاحب یو څۀ مونږ هم خبر کړه، چې سمه اوکړه لاره خو سره وپیژنو» میا شمس الدین چې ددغو کسانو د راز لۀ موندنې یې شوندې

موسکۍ وې اوزمکې ته یې کتل، سترګې راپورته کړې، قربان ته یې وویل: «پۀ دی خبرو پوهیدل آسانه نۀ دي، دا ډیرې باریکې خبرې دي، خو زۀ دومره درته وایم چې دغه کسان به خامخا زیارت نۀ مني زیارت نۀ منل یې غټه نخښه ده او بله علامه یې هم داده چې ددوی بیخ و بنیاد پۀ «دشت ارچي» کښې دی. د قربان سترګې لۀ خوشحالۍ وبریښدې او د میا صاحب پۀ خبرې پسې یې سمدستي پۀ لوړ آواز وویل «مامور د دشت ارچي دی» د میا پر شوندو او سترګو لۀ ځانه د رضایت موسکا یو ځل بیا خپره شوه سر یې وزنګاوه او پۀ داسې حال کښې چې د شهادت ګوته یې پۀ غاښ ایښې وه، وویل «ماخو ویل!»

څو شپې راوروسته قربان تردي هم حیرانوونکې پیښه ولیده، خبره داسې وه چې یو ماخوستن د زراعت مامور تر نورو دمخه رستورانت ته راغی. لۀ هغۀ سره داځل یو ملګری هم وۀ. پۀ دغه ماخوستن د مامور سترګې سرې وې، زانګه وانګه کیدۀ او د نور کله برخلاف چې سینما یې عکسونو ته به مخامخ کښیناستۀ، د معلم پرځای کښیناست، چې د سینما د لوبغاړو عکسونو ته یې اړخ او ددولت د رئیس او صدراعظم عکس ته یې مخه شوه. د مامور عجیبو حرکاتو قربان حیران کړ او ماما یې پۀ اشاره وپوښت. ماماپر شوندو ګوتې کیښودلې او خپل شاګرد یې پوه کړ، چې سر پرې مۀ خوروه.

کابونیم ساعت وروسته معلم او بیا لعل زی هم راپیدا شول. د زراعت مامور وویل، چې نن شپه غواړي خپل یو پخوانۍ نظم واوروي. لعل زی یې

پشنهاد ته خوشحاله شو او ویې ویل آشه ،دا دي بنه کار کړی دی ، هله ژرسه ،کاغذ راباسه د خیر په کار کښې بیړه پۀ کار ده معلم چې لۀ شعرو شاعری سره یې نۀ لګیده، پۀ ټوقووویل:« خو ګورئ بیړه شیطان کړې ده.» د هغه پۀ خبرې چا تبصره ونۀ کړه او معلم د خپلو اشعارو لوستل چې نوم یې «انساني دنیا» ؤ پیل کړل ؟

او ستا تۀ کړئ اور ورته
دنیا خلاصه لۀ «مزدا» کړئ !
دا بې کاره ارزښتونه
یوځای هیراو ورته شاکړئ !
د وهمونو د دودونو
دنیاګی تالاوالاکړئ!
دسروویرنو په سیلاب کښې
سرۀ ګلونه پۀ خنداکړئ!...

مګرلعل زی چې دمامور اول بیت خوند نۀ ؤورکړی اوتردې وخته پورې یې خبره جوړه کړې وه،دمامور وینا ورغوځه کړه،خپل تنقید یې شروع کړ:«زۀ پردې شعرسخت انتقاد لرم»دزراعت مامورلعل زی پر تنقیداودهغۀ دوینا پر غوځولو سخت غصه شو اولۀ ډیره تاوه په داسې حال کښې، چې بلې خواته یې کتل،موسیدۀ.لعل زې ویل چې «اوستا»ته اور ورته کول پۀ حقیقت کښې خپلوملي ویاړونوته اور اچول دي اوداډیره دافسوس خبره ده، چې زمور پۀ لرغوني هیوادکښې داسې زلیان هم پیداکیږي چې خپلوافتخاراتوته پۀ سپکه سترګه ګوري.» وروسته بیا هغۀ لۀ خپل عادت سره سم نورې هم ډیرې خبرې وکړې.هغه وویل چې پۀ تیر ژوند کښې

یې دملي افتخاراتواوتاریخي ویاړونو دساتنې اوپالنې پرضرورت پۀ ځلونو ځلونو ټینګارکړی،سرمقالې یې پرې لیکلې اومضامین یې پرې چاپ کړي او...

مامور لۀ ډیرې غصې نه پوهیدۀ چې څۀ وایي.معلم دموضوع حساسیت ته متوجه او وارخطاغوندي ؤ.لعل زی پۀ یوه سالګیاؤ اووروسته لۀ دې چې یې دخپلو مطبوعاتي کارونواو تیروتجربو پۀ باب ګڼې خبرې وکړې،بیرته اصلي خبرې ته راغې ویې ویل:«نوزمامطلب داؤ چې ددارنګه افکاروپۀ خپرولوکښې بۀ شاید دپردو ولاس وي او داڅکه چې دهیواد منورو لیکوالو پردوته ،چې دوطن دتاریخي ویاړونودخپلولو نیټونه لري،خولۀ ماتوونکي ځوابونه ورکړي دي اواوس چې بله لاره ورڅخه ورکه ده؛ نوشایدلۀ دې لارې به لاس پۀ کار شوی وي اودتیلو دبیې ناڅاپي لوړیدنې ددې بدمرغه هدف دحصول دپاره مادي زمینه هم برابره کړې ده.»

مامور داسې محسوس کړه چې لعل زی یې لۀ «ساواک»څخه پۀ پیسواخیستلوتورن کوي، راولاړشواوپرته لۀ دې چې لۀ چا سره خدای پامانې وکړي ،لۀ خپل ملګري سره و ووت.

معلم چې پۀ دې ځای کښې ددغه شعر پۀ ویلو ناکراره ؤ،دمامور بې خدای پامانې تلنې نورهم ناکراره کړ، خوپۀ ځان یې رانۀ وړه اودمامور لۀ تګه وروسته یې ترپایه پورې کوشش وکړ، چې دمامور په نسبت دلعل زی بدبینې کمه کړي.دلعل زی احساسات ژر ساړۀ شول، خومعلم خپلو خبروته ادامه ورکړه .لعل زی نوردمامور دشعر اوشخصیت پۀ باب دخبرو داوریدلو سره دلچسپي نۀ لرله.ددۀ زړۀ غوښتل

چې معلم خپلې خبرې ژر تمامې اودۀ ته نوبت ورکړي، مګر معلم نۀ بس کیدۀ اودهغۀ لۀ خبروسره به دښاغلي لعل زی عدم دلچسپې نورهم وهڅاوۀ، چې دمعلم دشعرونوپۀ باب توضیحات ورکړي اوپۀ چل چل کښې کښینوي داخبرهم دلعلزی پۀ مغزو کښې ؛چې مامور یو عصبي مرض لري، چې کله ناکله ورپیداکیږي او نن یې هم مرض رابوتیدلی وۀ. معلم پۀ دې ډول سره غوښتل چې هم دمامور شعراو د اوبې خدای پامانې تګ ته دلیل جوړکړي اوهم دمامور دشعر اونشې خبره پته کړي.

خولعل زی یې خبروته دقت نۀ کاوۀ،دهغۀ خپلوخبروته تلوسه وه؛ مګر نوبت ورنغی.

قربان دمامور مروریدنې خوشحاله کړی اوددې خوشحالی پۀ ځنګ کښې دمعلم شراب ځښلو بوږنولی وۀ.دۀ ته ځووخته دمخه دمامما خوریې دشرابو دنشې پۀ باب خبرې کړې او دایې هم ورته ویلي وۀ، چې مامور شرابي دی.دقربان اوس دهغۀ پۀ خبره باور راغلی وۀ ، دې خوشحالی اودې بوږنیدا پۀ شریکه سره خوب ته نۀ پریښودۀ.دشپې تر ډیروپورې پۀ یوۀ ارخ بل ارخ اوښت؛ خو ستړګې یې نۀ سره ورتلې هغه پۀ بېرستن کښې پۀ تنګ شو،راولاړشو درستورانت دشمالي دیوال یوه کړکۍ یې خلاصه کړه اوپۀ توره شپه کښې یې بهرته وکتل. دعبدالباقي رستورانت مخه دشرق خواته وه.دشمال خواته یې د«ګاوکش»سین بهیدۀ.ددې دپاره چې دسین منظره معلومه شي درستورانت پۀ شمالي دیوال کښې څو وډې کړکۍ وي.قربان لۀ کړکۍ سر بهر کړ،پۀ ښارکښې دانسانانوشورماشور غلي وۀ.دسین دکوزنې خواآبې ژرندی هم غلي وي،خوسین لکه دزمانې بهیربهیدۀ

اودخان آباد شپود همیشنی ورمې، دکورونو دونواو دکوڅو دچنارونواوباغونوپۀ مرسته یې دطبیعت نغمه غږوله خان آبادویده ؤ. دخان آباددناوی ختیځ ته دڅوسیندو نواو غرونوور هاخوا «ګزستان» هم ویده ؤ.پۀ دغه نیمه شپه کښې نۀ دماما سترګې پۀ پیسوپسې ستړې وې،نۀ معلم دافکارو لومی اینې وې،نۀ میا شمس الدین لۀ خپلې پوهې درضایت خوند اخیست،نۀ لعل زی پخپلو خبرودخپل شخصیت مجسمه جوړوله اونۀ هم دمامور ذهن لۀ چاپیریال سره پۀ جګړه بوخت ؤ.

قربان دیوې شیبې دپاره دانسان اوخان آباد دنشتوالي شدیده ارزووکړه اوپۀ فطرت ورک مین شو.زړۀ یې وغوښتل چې داسې اورونه دې بل شي، چې کلي،کوڅې اوکورونه لۀ خاوروسره خاورې کړي، خوسمدستي یې ذهن ته لۀ هغولیدلیو نجونو یوه راغله دهغۀ نااشناارزویی ورهیره کړه اوپۀ ذهن کښې یې دایمان اوشیطان ستومانوونکې جګړه پیل شوه،ترسپیدو پورې ویښ پاتې شواو چې سحر لمانځۀ ته راپاڅیدۀ، ډیر بې سیکی ؤ،قربان جومات ته لاړ، چې هم لونځ وکړي اوهم میا شمس الدین لۀ دغه حیرانوونکی رازه خبر کړي، خوهورې ورمعلومه شوه چې ملا صاحب پرون ماسپښین دڅوورځو پۀ مخه خپل کلي «آقتاش» ته تللی دی.

مامور نور رستورانت ته نۀ راغی،دمامور مروریدنه کۀ څۀ هم دقربان دپاره خوندوره پیښه وه؛ خو دی یې لۀ مصیبته خلاص نۀ کړ.قربان بنه هماغه شان دکم خوبۍ ستونزه محسوسوله.پۀ تخت یاکرسۍ به لۀ مجبوریته ناست ؤ،سترګې به یې پټې - پټې کیدې اوکۀ څۀ هم یونیم خل به پۀ کلي کښې

دکوټي جوړولو اودو نواوتاکونودږدولوارزواو تصور لۀ عبدالباقی رستورانت لري کړ خواکثربه يي دوی ته پام ؤ. دی به د دوی ناستوته حيران ؤ چي اکثره به يي پۀ داسي الفاظو پيل کولي: «واقعاً چي دانا ستي ډيري ښي دي.داملاقاتونه ډيرزيات مفيددي اوډيره ګټه لري.واقعاً چي بي حده استفاده تري کيږي...» او ډير ځله يي پۀ دا رنګه کلماتو ختمولي :«رښتيا هم چي نن ډيري مفيدي خبري وشوي داسي ناستي بايد هميشه وشي.هميشه بايد سره کښېنو خبری وکړو... ده به لۀ ځانه پوښتنې کولې، چي دوی څۀ وايي، څۀ مقصد لري اوڅۀ کول غواړي.قربان به ددوی پۀ ليدلو داسي احساس کاوۀ، لکه څوک چي حرامي غوښي خوري. دهغوی لاسونواومخونواو پۀ تيره بيا دمعلم هغوته به يي چي وکتل نوددوزخ اوربه يي سترګوته ودريدۀ اوپۀ ځان به وډارشو.يونيم وخت به هم دهغوی ليدلودحرامی غوښی دخوړلو کرکجن احساس ورپيداکړ.

معلم اولعل زی به دجمعې اوپنجشنبې لۀ شپوپرته چي معلم به کورته تۀ،نور هره شپه راتلل.ورورودمعلم دشاګردانوشمير ډيريدۀ تقريباً ټولې خبري به معلم اولعل زی کولې اوقربان فکرکاوۀ چي کۀ ددوی ترمنځ توره پيشوتيره شوه، نوددې مجلسونوتغربه ټول شي.معلم به پخپلو خبروکښې يونيم ځل قربان اوماماته ګوته و نيوله اوددوی دمقايسې خبري به يي کولې. دغه وخت به لۀ ناستوکسانوڅخه يوۀ- نيم ماما اوقربان ته کتل او پۀ شوندوکښې به موسيدل. دغو خبرواو موسکاووبه د کمخوبې پۀ وجه دقربان کمزوري شوي اعصاب نور هم وډيچول، خودخپلوغابنونولۀ ټينګولواودسړوساوو لۀ

ایستلوپرته یې بل څۀ پۀ وس کښې نۀ وُقربان صرف دې ته هیله من وُچې ګوندی معلم اولعل زی پۀ خبروکښې وران اوسره مرورشي اوهمداوجه وه، چې هروخت به دهغوشور جګ شو،نو ددۀ غوږونه به څك شول اوغاړه به یې راهسکۀ کړه.د لرم دمیاشتې پای رانږدې شودښوونځیواولیسوکالنی آزموینې ته ډیروخت نۀ وو پاتې.دعبدالباقي رستورانت پۀ شپې مالي ناستوکې دلیسې دزدکوونکو تعداد مخ په ډیریدو وُ.

یوه شپه چې تر بل هر وخت ډیرزده کوونکی راغلي وو، ښاغلي لعل زی پۀ خبروسرشوی،بل چاته یې نوبت نۀ ورکاوه .لعل زی خپلې هغه تجربې چې معلم او اکثرو حاضرو زده کوونکو مخکښې هم ځنې اوریدلې وې پۀ تفصیل سره اورولې .داوریدونکو زړۀ پۀ تنګ و، خو ددۀ خبرې کولې: «... اصلاً زمود وطن څکه وده نۀ کوي چې زمود خلك اخلاص اولورینه نۀ لري... زه یوځل قریب هندوستان ته پۀ رسمي سفر تللی وم؛ خو خپلو همکارانو مې کار پۀ لغته وواهۀ.زماتقاعدهم دبې ځایه کینو اوسیالیو لۀ کبله وُ...ما یوځل پۀ یوه مقاله کښې لیکلې وو، چې موربایداول خپل خپل ځان وپیژنو.دافغاني سید یوه مشهوره جمله ده چې...داوطن هرڅۀ لري...زمود تر خلکو ذهین خلك پۀ دنیا کښې ډیر لږ پیداکیږي ... داغرونه چې تاسې ګورئ داسپیرې ډبرې

نۀ دی؛ بلکې سرۀ زردي...زمود کانونه... مود اوجاپان پۀ یوه ورځ پرمختګ شروع کړی وُ...پۀ کندهارکې دشاکر دچینې جوړولو فابریکه...زمود پۀ باب علامه اقبال ویلي دی

چې...زمونږ يوه انجنير ځلورسوه اخترا ګاني کړي دي ...»دلعل زی خبرومعلم پۀ تنګ کړی ؤ .دمعلم پخپله دډيرو خبرو کولو نيت ؤ په دې شپه دوه تنه نوي زده کوونکي راغلي وو او دده زړه ؤ چې پر هغوی خپله اغيزه وشيندي.سربيره پردې لعل زی پخپلو خبروکښې پۀ ځينو محسوسو اوملموسو مسائلو غږيدۀ اومعلم دګنوکسانومخې ته داسې خبرې،بې خطرې نۀ بللې .همداراز معلم ته پۀ غير تصميم شويو مطالبو غږيدل بې فايدې ښکاريدل.دمعلم داباور ؤ چې خلک بايد پرهغوقوانينو چې ددۀ پۀ اندپر انساني فکر،ټولنه اوطبيعت حاکم دی خبرشي او ترهرځۀ ضروری خبره پۀ همدې قوانينوخبريدل دي .دهغۀ بالآخره زړۀ صبر نۀ شود لعل زی د خبرولړی يې ور غوځه کړه ،ويې ويل: «لعل زی صاحب؛ معذرت غواړم چې خبره درغوځوم خوداهرض کول غواړم چې متأسفانه زمونږ ګڼ کسان مسائلو او موضوعاتوته پۀ علمي نظر نۀ ګوري... ټولې نيمګړتياوې ځيني اصلي علتونه لري چې داعلتونه بيا پخپل وار سره دفلسفې عمومي قوانينو اوهغه حرکت سره چې پر ټولو کائناتو اوپديدو حاکم دی ، رابطه لري»

تردې ځايه لعل زي دهغۀ خبروته سرخوځاوۀ؛خوچې کله معلم دخپلو خبروپۀ دوام کښې پۀ تلويحي ډول وويل، چې تاسوهم مسائلوته پۀ علمي نظرۀ ګورئ، نودلعل زي تائيد پۀ پټه خوله توب اوورسته بياپۀ اعتراض بدل شو.

معلم وويل چې: «تاسودکينې کرکې،حسداوبدبينې مخالفت کوئ ، حال داچې دا برسپرنې خبرې دي،اصلي پوښتنه داده چې کومه کرکه،کومه کينه،کوم حسد؟... مونږ

هرځۀ باید د تاریخ اوټولنې دقوانینو پرتله وتلو...» خو د لعل زې اعتراض داؤ چې کینه پۀ هرحال کینه ده او دغندلو وړده. لعل زې پخپلو خبرو بې حده ټینګاروکړاودومره ډېر تأکید معلم لږغوندې بې حوصلې کړ، ویې ویل: «وبخښئ، زۀ فکرکوم چې ډېربحث ته به ضرورت نۀ وي ځکه زماپۀ خیال زما دخبرو ددفاع دپاره توضیحاتوته حاجت نشته او دا ځکه چې زۀ دعلمي قوانینو پۀ اتکاء غږ پورم خوخپله دایوه خبره بیاهم تکراروم چې ترڅوپورې پرطبیعت، ټولنې، فکراوکائناتو باندې حاکم عمومي قوانین ونۀ پېژندل شي، نوترهغوپورې به ستاینې اوغندنې عمیقې اوکړه نۀ وي.»

لعل زې پۀ داسې حال کښې چې دمعلم شاګردانوته یې کتل اولږلږموسپدۀ، وویل: «انسان بې وسه موجوددی، انسان لاډېره لاره پۀ مخ کښې لري اوداسې یوۀ عاجزاو بېچاره موجودته دکائناتوپېژندل څۀ آسانه خبره نۀ ده.»

معلم هم پۀ داسې حال کښې چې خپلوشاګردانوته کتل، وویل: «ستاپۀ نظرهمداستاخبره سمه ده، تۀ ملامت نۀ یې، هرفکرد عیني چاپېریال منعکس کوونکی دی. آیډیالیستي فلسفې پۀ زرګونوکلونوهمداتبلیغ کړی چې انسان دکائناتو دپېژندنې وس نۀ لري، خوالبته داخبره بایدوکړم چې دافلسفه لۀ علم او علمي جهانبینې سره مغایره ده. علمي فلسفه دنړۍ اوکائناتو پۀ پېژندنې عقیده لري، ستاسو پۀ څېر دجهان دیده اوفاضل لیکوال نه داګیله کېدی شي، چې اخر ولې دعلمي نظرپۀ مقابل کښې درپېرئ. اخرتاسوخوسترګه وریاست، موږته باید تاسو لاره راوښیئ؛ اخرمونږاوتاسوخودعلم اوسوسیالیزم لۀ مترقي دنیاصرف دیوۀ سین پۀ وسیله بېل یو، حتی نورومليتونوته باید مونږ حقایق بیان کړو، پۀ ټپره بیا ستاسې پۀ څېر فاضل اومجرب کسان خوستر مسئولیت لري.»

محمد معصوم هوتك

پته خزانه فی المیزان،ته یوه کتنه

«پته خزانه فی المیزان »د بناغلي قلندرمومندیو انتقادي اثر دی،چې په ۱۹۸۸ع کال په پېښور کښې په ښه قطع او صحافت په ۲۷۲مخوکښې چاپ شوی دی.دااثر دبناغلي مؤلف دځوکلن زیارمحصول دی اوکوښښ یې کړی دی، چې ددې اثرپهٔ خپرولو سره د«پتې خزانې» په باب خپل شکوک لوستونکو ته په دې نیامت څرګند کړي ، چې "راتلونکي نسلونه" له ګمراه کېدو وژغوري او د"مستقبل د تحقیق او ریسرچ لار لرې کړي . دکتاب مؤلف په دې عقیده دی، چې دهٔ «داهرڅهٔ په ښهٔ نیت اوپهٔ دلیل کړي دي « او که څوك «حمله » پرې کوي؛ نودا به لهٔ مؤلف سره«ډېره لویه بې انصافي وي»اود«حملې»یا اعتراض پهٔ صورت کښې به « دخدای په مخکښې ځواب ورکوي»دبناغلي قلندر مومند ددغه ر از «خلوص نیت»لهٔ مخې ماداکتاب پهٔ ډېر شوق اومؤلف ته یې داخلاص پهٔ روحیه ولوست. چې رښتیا شي ځوواره مې وکوت؛ ځکه پهٔ لومړي وار لوستلوسره یې لوستونکی اوپهٔ ټېره بیا ماوارومبتدي ته داسې احساس پیداکېږي، چې ګویا بناغلي مؤلف ډېره مستدله لیکنه کړې ده اورښتیا هم کتاب یوجالب تحقیق دی؛ مګر

لعل زی نور غلی شوخووروسته بیا دمعلم یوهٔ شاگرد د«زارهٔ »او«نوي»پهٔ فلسفي اصطلاحاتوخبرې وکړې چې پهٔ ضمني توګه يې لعل زی هم پهٔ غوږواهه.پهٔ«لعل-زي»دهغه خبرې بدې لګيدې؛ خوځرنګه چې يو دی له دې مقولاتو خبرنهٔ واوبل يې لهٔ يوهٔ زده کوونکي سره بحث کول کسر شان ګانهٔ نوتر پايه پورې غلی پاتې شو.

لعل زی چې پهٔ هغه شپه کوټې ته روان اولهٔ خپلو فکرونوسره يوازې شو، پخپل زړهٔ کښې يې لهٔ معلم اوشاګردانوځخه يوه کرکه احساس کړه.هغهٔ ته دااحساس پيداشو، چې دوی سره يولاس اودی پکښې پردی دی.لعل زې چې نورهم فکر وکړ نودځان اوهغوی دجدايی سرحداسلام ورمعلوم شو.دهلکوانی اونوې ځوانی دکلونوپهٔ هغه مينه يې يوځل بيا مينه راغله چې داسلام سره يې لرله.

لعل زې پهٔ هغه شپه خوب وليد چې دماشومتوب دوخت پهٔ کورکښې لهٔ مور اوپلار سره ناست وي، چې دشمال لهٔ لوری نابېره يوسيلاب راشي،دسيلاب اوبه سړې بخونې وي.دی لهٔ ويرې مور اوپلار پريږدي،لهٔ کوره بهر يوې لورې ته وخيژي اولهٔ هغهٔ ځايه دسيلاب دسرد بيړيو مانوګانوته ،چې ګواکې سيلاب دوی راروان کړی،نارې کړي، چې زه مو خپل يم ،ماته لاس راکړئ؛خوپهٔ عين حال کښې يې زړهٔ وروورووايي چې زهٔ مو خپل نهٔ يم زهٔ دښمن يم،اودی ددې دپاره چې مانوګان يې دزړهٔ اواز وانهٔ وري لاپه زوره دخپلولې چيغې وهي.

لعل زی چې سحر راوينې شوخوب

وریادشو،دخوب پۀ باره کښې يې فکر وکړ خوځۀ معنا يې ځنې ترلاسه نۀ کړه.دهغۀ طبیعت کری ورځ خته ؤ.پۀ ماښام يې رستورانت ته نۀ ورغی .معلم اوملګري يې پردي احساسول.ماخوستن پۀ کوټه کښې پاتې شو.رادیويې ونیوله پۀ خبر ونوکښې ددولت درئیس اوصدراعظم یوه مرکه خپره شوه چې دیوې پوښتنې پۀ ځواب کښې يې پخپلې مسلمانۍ ډیر ټینګار وکړ،دې مرکې يې جرات ډیر اوروحیات پیاوړي کړل،پۀ سباماښام رستورانت ته پۀ نۀ زړۀ نۀ بلکې پۀ خوشحالۍ سره لاړ.

معلم لۀ خپلو شاګردانوسره پۀ خبروبوخت ؤ .ددۀ پۀ ورتګ سره دهغوی خبرې بس شوې.معلم ته يې راتګ خوند ورنۀ کړ خوپۀ ظاهره يې تودروغبړورسره وکړاودحال احوال پوښتنه يې ځنې وکړه.

لعل زی ورته سمدستي لګیاشوچې حال احوال خودغه دی چې تیره شپه ددولت رئیس اوصدراعظم ډیرې پخې خبرې وکړې .واقعاً چې ډیر پوه ومدبر مشر لرو،هغۀ چې پۀ خپلوخبروکښې پۀ اسلام کوم تاکید وکړ هغه ستاسې ټولو ځوانانو دپاره دلارې دمشال حیثیت لري...»لۀ معلم اوملګروځخه ورته دلعل زي پۀ زړۀ کښې داسلام ویدۀ شوې مینه بیا راویښه کړي اوددۀ دخبرواندا ز ته يې قوت بخښلی ؤ:«خبره داده: هلکانوچې اسلام اومسلمانۍ ته مور سخت ضرورت لرو،بې اسلامه نۀ کیږي ،اسلام پۀ حقیقت کښې دټولو ناروا و دغندنې اودټولو

ښیګنو دستاینې دین دی...دافسوس ځای دادی چې مونږ اسلام نه دی پیژندلی ..اول پۀ دې خبره غور پۀ کار دی چې اسلام څه شی دی؟ کۀ مونږ صرف همدغه یوې پوښتنې ته هم ځواب ورکړو... حقیقت دادی چې اسلام به ذات خود نداردعیبې ..اسلام یعنې..."قربان داسلام پۀ باره کښې دلعل زې خبروته ښۀ متوجه وۀ، چې ګوندې څۀ منفې تکی به پکښې پیداکړې .معلم یې خبرو ډیر ناکراره کړی و.هغۀ خپلوشاګردانوته لعل زی یو مترقي اوفاضل لیکوال ورمعرفي کړی واودلعل زې دارنګه خبرو ددۀ ټول پروګرام ورګډوډولی شو .معلم نورځۀ نه شول کولې،بس دفرصت پۀ انتظارۀ چې دخبرو واګې پۀ لاس کې واخلې،خومخکې لۀ دې چې معلم پۀ دې کار موفق شي دهغۀ یوۀ شاګرددلعل زې دچایودپیالې دډکولو دوخت لۀ سکوته استفاده وکړه اولۀ معلم څخه یې د "پخلاکیدونکو" او"نۀ پخلاکیدونکو"اضدادوپۀ باره کښې پوښتنه وکړه معلم سمدستي پۀ مفصلوخبروپیل وکړ اوچې کله یې دخپلو خبرو پۀ لړکښې لۀ سوسیالستي نړۍ سره دپانګه والې دنیا پخلاکیدل ناممکن وبلل نو لعل زی یې خبره ور رده کړه،ویې ویل:"زماخوخپل فکر دادی چې دوی دواړه به آخر سره پخلاکیږ ی ولې چې کۀ پخلانۀ شي نودواړه به دبربادۍ کندې ته ورولویږي" دلعل زې دارنګه تردیدونوځځله پخواهم معلم خپلوشاګردانوته پیکه کړی وۀ؛ خوچاره یې نۀ لیده.معلم به خپلوشاګردانو ته همیشه داخبره کوله، چې د نړۍ ټول پوهۀ اورسیدلې کسان پرعلمي فلسفۀ

باور لري او څرنګه چې ده لعل زی دیوۀ پوه اوفاضل لیکوال پۀ توګه ورپیژندلی ؤ، نومعلم ځان پۀ لانجه کښې راګیر لیدۀ .معلم فکر کاوۀ چې دلعل زي خبروته پریکنده ځواب ورنۀ کړي نو داسې به یې پۀ دغوورځوشپوکي،چې کالنی ازموینه رانژدې اوګوندته دجذبولو امکانات ډیر وو،لۀ کاره وباسي.معلم دخپلې همدې فیصلې لۀ مخې دلعل زي پۀ ځواب کښې وویل چې دکارګري طبقې اوبورژوا طبقې ترمینځ تضاد دنۀ پخلاکیدونکی تضاد پۀ توګه یو علمي اوثابت حقیقت دی اولکه څنګه چې دلیوۀ او میږي روغه نۀ سره کیږی دسوسیالیزم او کاپیټالیزم دکیمپونو تر مینځ سوله هم ناممکنه ده.

لعل زي دخپلې خبرې دوباره پخلی وکړ اومعلم هم دخپلې خبرې پۀ دفاع کولو ځان مجبور وبالۀ، لعل زي وویل چې هغه خپله ماسکوته تللی اوهورې یې لۀ غټوغټو روسانو اوریدلي چې پۀ ننني نړۍ کښې سولې ته ډیر زیات ضرورت دی.معلم ځواب ورکړ، چې سولې ته پۀ اړتیاکښې شک نشته؛ خو طبقاتي نظام دخپل خصلت لۀ مخې هم داخلي جګړه لري او هم بهرنۍ او تزځو چې طبقاتي نظام پۀ دنیاکښې وي،سوله نۀ رامینځ ته کیږی .لعل زي وویل: «نوچې سوله ناممکنه وي شوروي اتحاد یې ولې غواړي» خومعلم هم داځل ورته پښې پۀ یوه موزه کښې کړې وي اودلعل زي خبرې یې بې ځوابه نۀ پریښودي.دواړه پخپلو خبروکلک ولاړ وؤ.ددوی بحث دومره جدي شو چې دمعلم شاګردانو پۀ کښې دخپل استاد پۀ

ملګرتابه پوره برخه واخیسته .ښاغلي لعل زی بالکل یوازی پاتي ؤ او دومره تنهایي یي محسوس کړه چي بیا رستورانت ته راځه غی.

لعل زی هم لاړ خو دقربان هیله ترسره نه شوه.امتحان رانڅرګندي کیدهٔ او شاګردان ډیریدل.معلم به ورته پهٔ کائناتو تاریخ اوانسان دواکمنوقوانینو خبري کولې،دوی به ورته سرونه خوځول او ضمناً به یي پهٔ امتحان کښي ورته دواسطه کیدو یادونې کولې.قربان سره لهٔ دې چي لعل زی هم تللی ؤ؛ خو ددې ناستو لهٔ ختمیدو ناامیده ؤ.هغهٔ دامنلې وه چي کهٔ ټول کال هم پهٔ کم خوبی تیرکړي پروا نکوي.قربان ته خپل مقصددي کړاونه لوی ښکاریدهٔ.دکور دجوړولو اودتاکونو،و نواو بوټو دوړدولو امید به داهرځهٔ پري آسانه کړل،هغه پهٔ دې پوهیدهٔ چي پهٔ نابلد ښارکښي ددا سي کار پیداکول ځهٔ اسانه خبره نهٔ ده.پهٔ هغهٔ چي به سروزنګیده خوب به پري زورورشو نو په ذهن کښي به یي هغه شیبي تصورکړي چي په رستورانت کښي دکال لهٔ تیریدو پس عبدالباقي ماما کورته دتلو اجازه ورکوي، پهٔ موټرکښي سپریږي،لهٔ تالقانه تیریږي اودفرخار تنګي ته رسیږي،اوبیا به یي پهٔ پټه خوله ،دبدن هر غړی اوهر رګ دغه محلي سندره وویله چي:

ازتنګی فرخار برایم به ګزستان ....
من بلبل شوریده وتو کبك خرامان
دغوتصوراتو به قربان په خوب برلاسی کړ.

لهٔ همدې ورځوشپوځخه پهٔ یوه شپه کښي پهٔ سی حال کښي چي قربان نیم ویښ -نیم ویدهٔ

پۀ کرسۍ ناست ؤ اوسر پرې زنګیدۀ،معلم ناڅاپه تردواړو مړوندونو ونیو، راولاړیې کړ او پۀ داسې حال کښې چې قربان لۀ وارخطایۍ یوخوا ـ بل خوا اړیان دریان کتل،معلم خپلو خبرو ته ادامه ورکړه: دی وینئ،همداهلك،دنیادهمدوی ده،دسباورځې اصلي واکداران دوی دي،دوی دي چې نعمتونه پیداکوي،کارخانې جوړوي،کروندې کړي اوتاریخ جوړوي،ټول زور دهمدې متو دی...»

ناست هلکان دقربان حیرانتیا اووارخطایۍ ته پۀ شوندوکښې موسیدل.ماما هم موسکی موسکی کیدۀ، معلم ولاړؤ.دمعلم شاګردان هم ولاړ وو او چې معلم خبرې خلاصې کړې، لۀ هغۀ سره یوځای روان شول.معلم لۀ ماماسره خدای پاماني وکړه اوو ووت .ماما هم کوټ واغوست اوکورته لاړ.

قربان چې رستورانت بند اوځراغ مړ کړ،پۀ بستره کښې ډیر وژړل. هغه احساس کاوۀ چې دخواری اوبیچارګۍ لۀ لاسه پرې پردي خلك ملندې وهي اولۀ بې وسۍ خوله هم نۀ شي چوله کولی.سحر یې لۀ لمانځۀ وروسته ددعا پر وخت خدای پاك ته صرف اوصرف دمعلم دنۀ راتلو سوال وکړ.

څۀ وخت وروسته چې ماما راغی، قربان پۀ تعجب سره واوریدل، چې امتحان ختم شوی اومعلم به نن کورته ځي اوبیا به ټول ژمی نۀ وي ،قربان چې تیره شپه پۀ نیم ویښ نیم ویدۀ حال کښې پۀ دې نۀ ؤ پوه شوی چې معلم عبدالباقي ماما ته دنۀ راتلو خبره کړې وه،دخپلې دعا سمدستي اجابت بې حده

خوشحال اودایمان یوبې ساری قوت اوکیفیت محسوس کړ.زړۀ یې لۀ ډاډ اوتسله ډک شو.

پۀ دې وخت کښې ماما دیوۀ نامې «چاپ انداز» عکس چې تازه یې پیداکړی وُ،دۀ ته ورکړ، چې پۀ یوۀ دیوال یې ټک وهې .دعکس دټک وهلو پروخت میاشمس الدین راپیدا شو، دهغه لیدلوقربان نور هم خوشحاله کړ، میا شمس الدین لۀ روغبړه وروسته ماماته ووېل:«څنګه،هغه سرلوڅې ورك شول اوکه لا راځې؟»ماما ورو غوندې ځواب ورکړ: "چې اوس نۀ راځې"اوبیا یې د میا شمس الدین دپام اړولو دپاره پسې زیاته کړه:«رښتیا میا صاحب کالۀ ته تللی وې، هلته خوبه انشاالله خیر خیریت وُ؟»

میا ځواب ورکړ:«هوخیر خیریت وُ،کور دې ودان،خوماما آفرین پۀ تاشه،کۀ زۀ ستاپۀ ځای وای والله کۀ یې پل راځخه اینښی وای،خوتۀ ډیره حوصله لري .»

ماما سوکه ورته ووېل:«بس دانوړوندې، لۀ هرچاسره به ګوزاره کوو.»

میا شمس الدین بیا پۀ لوړ اواز ووېل:«ستا خپله خوښه خوداسې خلکوته ډوډۍ ورکول چې دین او ایمان یې معلوم نۀ وې،سم کار ولاکه وې.»

ماما ووېل:«میاصاحب خبره داده چې دا د روزۍ مسئله ده.چې دچارزق اوروزي چیرته لیکلې وې،هوری به یې خوري.»

میاشمس الدین ووېل:«بې شکه،داخبره درسره منم ؛ خوتۀ پۀ دې کې ځۀ وایې چې آیا داپۀ پوست پاك خلك وُ؟»

ماما په داسي حال کښي چي کوزکتل خواب ورکړ: «الغيب عندالله، په ظاهره خوماپکښي څه نه دي ليدلي.»

مياشمس الدين په کت کت وخندل ،ويي ويل: «نبه پوهيږي ،نبه پوهيږي، خودپيسو دي زوی ومري، چي سړی په غبرګوسترګوروندکړي.»

ماماځان ډير حقير احساس کړ او په شوندو کښي يي لکه څوك چي له ځان سره خبري کوي وويل: «ولا ماخوپکښي څه نه وُليدلي.»

قربان چي نن تربل هر وخت ډاډه اوخوشحاله وُاوداخبري يي په خوند خوندداوريدلي، زړه صبرنه شو اوبي له دي چي فکر وکړي له خولي يي ووتل: «ماماهغه يوه شپه خرلکه چي مامور شراب څښلی وو»

دي خبري دمعلم دوی په باب له ماما سره پخپلو تولو خبروکښي مياشمس الدين بريالی کړ، له ډيري خوشحالۍ يي لاسونه يوپر بل ووهل او په لوړ اوازي ويل: «ماماجانه اوس پکښي څه وايي!! اوس ! اوس! »

له ماما بالکل لاره ورکه شوه .سترګي يي هسکي کړي، قربان ته يي وويل: «راشه چي حساب درخلاص کړم زمانۍ يي په کار.»

قربان نه پوهيده چي څه وکړي، خوماما يوولس نيم سوه افغانۍ په لاس کښي ،ورکښيښودي، تر لاس يي ونيو، ورته يي وويل: «څه په هره خواچي ځي، بستره دي واخله زماپه

کار نه یې!»

هغۀ بستره اودجامو غوټه راواخیسته، لۀ رستورانت نه پۀ ریږدیدلیو ګامونو کوز شو او چې څوقدمه لاړ ،ودریدـ، شاته یې وکتل.

دمیا شمس الدین پر شونډو او لیمو فاتحانه موسکا خپره وه، هغۀ ماما ته کتل ، قربان ته یې پام هم نۀ وۀ .ماما میا شمس الدین ته دچایو ست وکړ. شمس الدین رستورانت ته ورپورته شو، قربان دریدل بې فایدی وګڼل، روان شو ، سوړ منی وۀ. دشمال بادونو پانې رژولې .لمر زیړ بخون او کمزوری وۀ، قربان روان وۀ . زمانۀ هم روانه وه، ددۀ لوری نۀ وۀ معلوم خودهغې لوری معلوم وۀ.

تهران خیابان جهان کودك

د۱۳۶۹ کال سرطان

محمد زرین انځور

ډیوې بلیږي، ډیوې سوزیږي

دالومړی ځل نۀ وچې لعل محمدپۀ همدې نیت هلته روان و.دري ځله وړاندې هم هغه پۀ دې نیت دخپل پخوانې اشنا اوټولګیوال احسان الله لیدلوته ورغلی و. هسې خولعل محمدلۀ هغه سرهدد یروخوورورځوشپو، دډیروخوروخاطرو یادونه لرل،خودلته یې دهغۀ پۀ باب پۀ زړۀ کې کله کله داسې تیریدل چې ګوندې هغه پخوانی احسان الله،اوس لږ وډیر بدل شوی دی. هغۀ ته به پۀ زړۀ کې ورګرځیدل:

ـ خرڅوکه بدلیدل خویې حق هم دی.لۀ دومره هستۍ سره خوبه یو څوک خامخا بدلیږی.کۀ زه وای هم ، ښایې یوځه بدل شوی وای.

خودوروستۍ جملې پۀ هکله به بیرته شکمن شو:

ـ کۀ زۀ وای؟ نه نه ولې، اخر پۀ څۀ اوهغه هم داحسان الله پۀ وړاندې؟

خوداځل هغۀ یوې ډیرې سختې مجبورۍ داحسان الله لیدلوته اړ کړ،پخوابه چې کله احسان الله پۀ زړۀ ورووریدـ،نولیدلوته به یې ورغی،یوه شپه به یې ورسره تیره

کله چې مې هغو آثارو ته (البته هغه چې زما په واک کښې وو) مراجعه وکړه، چې شاغلي مؤلف ترې اقتباسونه کړي دي،پرې ږغیدلی دی اویایې دهغو په باب شکوک ښودلي دي،نومې نظر بېخې بل راز شو.له خانه سره مې وپتپیل چې یوځه خوباید هرو مرو پرېږدوکړم .ددراز لیکنې ضرورت مې په دې دلیله ډېر احساس کړ:

لومړی داچې دپټې خزانې اوسنۍ نسخه زموږ په کورنۍ کښې زما دیوه مشر نیکه حاجي محمد اکبر هوتک له پاره، اوذهغه په غوښتنه اوفرمایش په کوټه کښې د«عباس کاسي» په کتابت په ۱۲۰۲ ه ق کال استنساخ شوې ده او زه دخپل پلار مرحوم اوخپلو نورو مشرانو له خولې غوږیدلی وم، چې دحاجي محمد اکبر هوتک زامنو (عبداللطیف هوتک اوحاجي احمدعلي هوتک)دپټې خزانې تر خپرېدو مخکښې لاهم ددغې نسخې په باب بیانونه کول . یعنې ددې اثر پر موجودیت باندې زما یقین دخپلې کورنۍ دمشرانو دروایتونو پر بناء دی.بل چاته که یې موجودیت مشکوک وي، وي به، مګرماته یې شته والی دلمر په شان یو حقیقت دی. په همدې خاطر مې دپټې خزانې په باب دشکاکانوشکوک په ډېرې حیرانتیا سره اورېدل. داشکوک ماته په دې معناوو، لکه یو څوک چې دلمر له مو جودیت څخه انکار کوي اوددغه انکار له پاره توجیهات او استدلال ! هم راوړي . ددا راز معلوماتو اوسابقې په لرلو سره مې دالازمه وګڼله چې د«پټه خزانه فی المیزان» په باب یوځه ولیکم .

دوهم داچې د« پټه خزانه فی المیزان» کتاب ځواب په (قالوا سلاما)باندې ورکول مې له آینده نسل سره ډېره جفا اودځان فریضه وګڼله، چې ضرور بایدیوه لیکنه پرېږدوکړم.

دغه راز،کله مې چې دشاغلیو ورونو محمد آصف صمیم

کړه ،دپوهنتون ددوران کیسې به یې سره وکړي، دپوهنځي ،د ټولګي ،دلیلیې ،د طعام خوری،لۀ ازموینې وروسته پۀ ګډه سینماوته د تګ ،دلیلیې پۀ کوتهوکې له ازموینو وروسته داوردوقطعه بازیو اونوروساعت تیریو خاطرې به یې سره یادې کړي، سره به یې وخندل اودخپلوهم ټولګیو پۀ باب به یې هم ښه ډیره مرکه سره وکړه چې هغه پلانکی اوس کوم ځای دی اوهغه بل یې چیری دی اوڅۀ کوي؟ لعل محمد داسې محسوسوله چې پۀ هر ځل ورتګ کې داحسان الله لۀ مینې یو څه کمیږي ،ددوی پۀ کیسوکښې ورو وروهغه خوند نۀ پاتې کیږي او احسان الله د تیروکیسوپر ځای داوسنیوخبرواوپیښوخواته دلعل محمدپاملرنه وراړوي،خولعل محمدبیاداسې نۀ و.

دهغۀ ټول یادونه لۀ ماضي سره تړلي وو،دهغۀ دژوند پۀ هره اوسنۍ شیبه کې،دیوې پخوانۍ شیبې یاد پروت و. هغۀ ته دماضي هرې پیښې،دژوند دیوې نۀ هیریدونکې پانې پۀ ځیرزیات ارزښت لاره.

لعل محمد دکابل پوهنتون دعلومو لۀ پوهنځي نه فارغ شوی و.دی اواحسان الله دواړه دریاضي پۀ ځانګه کې سره ټولګیوال وو اوپۀ دغوځلوروکلونوکې به بیا دلیلیې پۀ یوه کوټه کښې وو.لعل محمدته دخپل ژوندپۀ کلونوکې دغه دپوهنتون،پوهنځي اولیلیې دژوند کلونه ډیر پۀ زړه پورې وو. مخکښې ژوندیې ټول پۀ کلي کې تیر کړی و.لیسه یې هم خپل کلي ته پۀ یوه نړدې برخه

کې پای ته رسولې وه او چې کله پوهنتون ته راغی نوهرڅۀ نوي،ښکلي اوپۀ زړۀ پورې ورته بریښیدل.دپوهنتون لۀ فراغت وروسته هغه پۀ ننګرهار کې پۀ یوه لیرې پرته لیسه کې ښوونکی شو.هغۀ ته دلته درس ورکول ترهرڅۀ ښۀ ښکاریدل.لعل محمدته

به هغه وخت وریادشوچې پۀ لیسه کې زده کوونکی و.لۀ پوهنتون نه دفارغ استاد به پۀ هغه لیسه کې ډیر قدر و.هرچابه ویل:

ـ لیسانسه دی، عجب استاذدی!

اوهغه همداسې یواستادو، یواځې دوه کاله شوونکی و،بیاځه عجیبه پیښې راغلې ،روسان راغلل،وسۀ اتګ یوه بدمرغې وه اوعسکری ته دنیولوهنګامه بله بدمرغې.یوه ورځ یې هغه هم لۀ معلمی منفک کړ،خولعل محمد ددی پرځای چې عسکری ته لاړشی،سیده پیښورته راغی.پۀ پیښورکې ځوکاله سرګردانه و،پۀ دۀ پسې یې ښځه،ماشومه لور اوبوډی مورهم راغلې وو.پۀ پیښور کې دکاروبار هیڅ درک نۀ و،هرې خواته چې به یې مخه کړه ،کار به یې نۀ شو پیداکولی.بیایې ځۀ موده دخښتومزدورې کوله.هغې هم خوند ورنۀ کړنوې کورونه او تعمیرونه جوړیدل،هلته به یې دورځې مزدورې کوله،داکاریې ډیر وخت وکړخوځوورځې به کار پیداکیده اوډیرې ورځې به وزګارو.ترڅا ښته به پۀ تاکلې ځای کې،لۀ هغوډلوسره ناست وچې دکار لۀ پاره به منتظرروو،خوددغومنتظرینوشمیر به دومره زیات وچې یواځې نیکمرغه کسانوته به کار پیداشو.

لعل محمدلۀ ډیرومنډوترډو وروسته اخرهم یوبری تر لاسه کړ.پۀ یوه کمپ کې یې دمهاجروپۀ یوه لیسه کې معلمې پیداکړه اوپۀ دې کار لعل محمددومره خوشحاله وچې ګله یې هم دومره خوښې نۀ وه حس کړی. پۀ ماضي کې چې به یې ددغې خوښۍ دسیالی دلټون کومه شمع بله کړه نویواځې هغې ورځې به دسیالی سرورسره وخوځاوه چې دپوهنتون نومرې اعلان شوې وې اودده نوم دساینس پوهنځې ته دبریالیوکسانوپۀ لست کې لیکل شوی واوهغه ورځ،لعل محمدهغه لست،لۀ لسوځلوزیات لۀ یوې مخې لوستی اوهرنوم یې پۀ لوړ غږلۀ ځانه سره تکرار کړی و،هرځل چې به

دلست دې برخې ته راورسید؛

ـ لعل محمدولداخترمحمد ـ ننګرهار ـ دسیدجمال الدین افغان لیسه ـ دعلوموپوهنځی

نوپه شوندوکښې به موسکی شو.نن هم چې هغه دمهاجرودیوې لیسې دحاضرۍ په کتاب کې خپل نوم ولید،نوهمداسې څه کانه پرې وشوه،څوځله یې دښوونکودحاضرۍ کتاب لۀ پیل نه تر پایه لۀ نظره تیرکړ او هر ځل چې به یې پۀ خپل نوم سترګې ولګیدې،نوموسکابه یې پۀ شوندوکې غزونې وکړې.حاضرې یې لاسلیک کړه اوداسې،دهغه دژوندداميدونويوه بله غوټۍ ګل شوه.

لعل محمدیوه ورځ خپل یوبل ټولګیوال ولیددخپلوپخوانیویارانویادونه یې تازه کړل اوبیا چې لعل محمدته معلومه شوه چې دهغه اشنااحسان الله اوس ښه معتبر شوی دی نو هغه ډیر خوشحاله شو.لۀ دې وروسته به هغه وخت ناوخت داحسان الله لیدلو ته ورته اوچې هغه به یې دومره نیکمرغه اومصروف ولید نویویومن غوښه به یې اخیسته. هغه دیارانو پۀ ښه ورځ زیات خوشحالیده،هغه چې به یل ځوک هم هوسا او نیکمرغه لیدل، نولکه چې دی خپله هوسا او نیکمرغه وې اویاران خونو بیا یاران وې.

داخل لعل محمد پۀ ګلکه دا تکل کړی وچې خامخا به احسان الله ته هغه خبره کوم.دړې ځله مخکې هم هغه پۀ دې نیت ورغلی و، خوچې احسان الله به یې ولید،نویووار به یې تیاره جوړه کړی خبره پۀ خولۀ کښی وچه شوه.نور نو هغه ډیر تنګ و، نوریې نوخپله خبره لۀ احسان الله نه نۀ شوه پټولی. هغه پوهیده چې احسان الله ته داخبره هیڅ هم نه وه. هغۀ چې به داحسان الله ډول ډول موټرو،حجرې،میلمنواودکاروبار سلسلوته وکتل، نوهغه خپله هیله به ډیره کوچنۍ ورته ښکاره شوه.

پنځه میاشتې کیدې چې لعل محمدته یې تنخواه نه وه ورکړې.هغه نور ډیر بې طاقته شوی و بله هیڅ لاره یې نه لرله . پۀ کورکې لۀ ځیرمې ناروغه وو.دی خپله هم ناروغه و،خوټولې ناروغۍ یې دخدای (ج) اسرې اوهغې ورځې ته پرېښې وې چې کۀ کومه تنخواه واخلي. نورې نو انتظار نۀ شوکولی،خوآخرځه یې کړی وای؟ پۀ خپل عمرکې یې لۀ چانه څه نه ووغوښتې. دالومړی ځل وچې څۀ یې بایدغوښتی وای اوهغه یواځې احسان الله ددې کار لۀ پاره غوره کړ. بل چاته یې خولۀ نۀ جوړیده.کله خوبه یې پۀ زړۀ کې تیرشول؛

ـبس نۀ یې تری غواړم.

خوزربه بیرته پښیمانه شو:

ـ نوځنګه به کوم،له چابه یې غواړم ؟

سختوفکرونوبه پۀ مخه کړ. تنخواه نۀ شته،بل کارهم نۀ شته، نوآخرځه به کوم؟

پۀ زړۀ کې به وروګرځیدل:

ـ کۀ یې رانۀ کړې،کۀ ځۀ بانه وکړې؟

اوبیابه لږشانته ډاډه شو:

ـ دومره یې پیداکړی چې پۀ دازرومروخویې جیب پۀ خدای که پوه هم شي.

اوبیا به ځۀ فکرورغی:

ـ چې زمابه خولۀ ځنګه ورته جوړه شي؟

بیابه یې خپل ځان ته قهرورغی!

ـ خولۀ خومې څه ماتیږی نۀ! ولې به نۀ جوړیږي،کۀ نۀ نرځۀ به کوم؟

ـ بیابه دوه زړی شو:

هغه دري ځله مخکې مې هم جرأت ونه کړ،خبره رانه وتښتیده.

خوبیابه یې زړه بیرته ډاډه کړ:

ـ داخل به خامخا ورته وایم.ډیرې نۀ یوپنځه سوه به تري غواړم.

ـ اوپنځه سوه هغۀ ته څۀ شی دی؟

بیرته به ټکنی شو؛

ـ اول خل دی چې پیسې غواړم.

دزړۀ درزابه یې نوره هم زیاته شوه .زمکې ته به یې وکتل ؛

چې لۀ هغۀ یې ونۀ غواړم لۀ چابه یې غواړم.

لعل محمدپۀ همدغوسوچونوکې داحسان الله دکور تر دروازې ورورسید .پۀ دادومره لاره هیڅ پوه شوی نۀ و،خدای زده څوک څوک به یې پۀ لاره لیدلې وي،څۀ څۀ به مخې ته ورغلې وي،خودۀ هیڅ شی هم نه وو لیدلی، یواځې خپل سوچونه ورسره وو.اوس یې پۀ جیب کې سره ټکه هم نۀ وه.وروستی دوه روپۍ یې هم پۀ موټر کې تردې خایه دراتګ کرایه کړه. هغه حجری ته ورننووت. مازدیګرو.احسان الله پۀ کور کی نه و،ورونه یې وو. دی داحسان الله دراتګ پۀ امید کښیناست،ترماښامه هم هغه رانغی. دماښام ډوډۍ وخوړله شوه او ماسخوتن احسان الله له ګڼ شمیر کسانوسره پۀ یودوه سیټه نوی ډاټسن کې راورسید .لۀ لعل محمدسره یې ستړې مشې وکړل،خوهغومره مزه پۀ کې نۀ وه.داخل هغه لۀ پخواهم یوځه سور شوی و.یوځه خنداخویې ورسره وکړه ؛

ـ څنګه ده معلمې مو،ښې مزې مووکړې!

اودلعل محمد سترګی دهغه پۀ نوی ډاټسن کې ورښځې شوې،بیادخپل ښوونکې تهول ښوونکې یویو سترګوته ورته ودریدل. یوۀ یې هم موټر نۀ درلود.موټرځۀ؟تولویې پنځه پنځه میاشتی تنخواه نۀ وه اخیستې،تهول دلاري کرایې ته هم پۀ فکر کې وو،دخپل مکتب دوخت ښوونکې یې یویو لۀ

نظره تیرکړل، یوه یې هم موټر نۀ درلود. دهغه ذهن ته دپوهنتون استاذان هم یویو راغلل، یوه یې هم موټر نۀ درلود، دهغۀ سترګې لاهماغسې پۀ نوي دوه سیټه ډاټسن کې

ښخې وې، احسان الله ورغږکړ؛

ـ بچوخانه په مزوکې یې ...

اولعل محمدلکه لۀ خوبه چې راجګ شوی وې:

ـ څه مزی پنځه میاشتې کیږي...

خو«پنځه میاشتی» یې دومره وروکړې چې خپله یې هم وانۀ وریدې. بیرته پښیمانه شو. فکریې وکړ چې اوس یې وخت نۀ دی.

تر یووخته احسان الله پۀ حجره کې ناست و، دیوځۀ اوبل څۀ پۀ باب خبرې وې. ډیرخلك وو او ډیرې خبرې. کله کله به یې لعل محمد ته هم پام شو، لعل محمد څوځله پۀ زړه کې خبره راجوړه کړه چې راشه ورته ووایه. خوبیرته به پښیمان شو. پرده دهوډاو پښیمانۍ څپې تلې راتلې،کله به یوه پۀ بله زوروره شوه اوکله به بیابله پۀ بله.

هغۀ فکر وکړ چې اوس نۀ کیږی،سبا سهار به بیا خبره ورسره کوم.لعل محمد به دخبرو پۀ منځ کې کله کله دخپلو ستونزوځۀ تتې اشارې احسان الله ته ورکړې، خواحسان الله به خبره بیا بلې خواته واړوله. خدای زده څنګه یې دلعل محمد دستونزولۀ خبروسره چندانې دلچسپې نه ښودله،یاخوښایی لعل محمدداسی احساس کاوه.

سهار دچایولۀ څښلووروسته،لعل محمد غوښتل چې تري رارخصت شي. هغه راپورته شو. لږه شیبه احسان الله لۀ لعل محمدسره یواځی شو.لعل محمدفکر وکړ چې راځه همدایې وخت دی .خولۀ یې خبرې ته جوړه کړه.لایې شونډې نۀ وې خوځیدلې چې پښیمانه شو. لاړه خبره یې پۀ ستونې کې وچه شوه. هغۀ بیا پرځان فشار راووړ،خپلې تولې بدمرغۍ مخې ته ورته ودریدې. بیایې پۀ

زړهٔ کې خبره جوړه کړه.لهٔ جوړیدلو سره سم،بیرته ویجاړه شوه.لعل محمدته هغه ورځې وریادې شوې چې کله به دی اواحسان الله لهٔ پوهنتون څخه دښار پرلور چکرته راووتل اوپهٔ «ملي بس»کې به کیناستل، نودسرویس نګران ته به دپیسوپهٔ ورکړه ،دده اواحسان الله همیشه جنجال و.لعل محمد به غوښتل چې احسان الله دکرایې پهٔ ورکړه کې لهٔ دهٔ نه مخکې نهٔ شي، اوهمدې سوچ ددهٔ هیله بیخې وسوزوله . داحسان الله غږواوریدل شو:

– چې ځې نوپهٔ مخه دې نه!

دهغه لاس لعل محمدته وراوږدشوی و.لعل محمد دوروستې ځل لهٔ پاره پر ځان فشار راوړ. داځل یې وغوښتل چې لږ تر لږه دلارې کرایه خوترې واخلم.

یوه روپۍ هم راسره نهٔ شته،خودې خبرې ته یې هم خولهٔ جوړه نهٔ شوه.دې سوچونودهغه لاس داحسان الله پهٔ لاس کې یوځه ځنډنی کړ اوهغه پوه شوچې احسان الله خپل لاس تر یې راښکود.

لعل محمدپرلوی سړک پلی روان شو، وروسته یې پهٔ یوه برخه کې ولیدل چې داحسان الله نوی دوه سیټه ډاټسن دهغهٔ ترڅنګه تیر شو،اوهغهٔ پهٔ خپل ښي لاس خپله سپینه جالي خولۍ کلکه کړه.

پیښور – بورډ

٦جوزا ۱۳۷۰هـ ش

۲۷می ۱۹۹۱ع

اورنګ زیب ارشاد

زړې هیلې او زاړه وختونه

پۀ شړې کښې تاوکړی دپښو پۀ سر ناست و، دکوټې دیوال ته یې تکیه کړې وه کله به یې لاندی دخور اوبو ته کتل او دتیرو لسوکلونوقصې به یې پۀ ذهن کښې ګرځیدلې. داوبو شرهار ته به پۀ یوغوږ دسوچونوپۀ خوږونوکښې ورک شو اوکله به یې ورو غوندې دنصوارو قطې خپل مخ ته ونیوه اودهغې پۀ هنداره کښې به یې خپل مخ ته کتل. دډیرې تارونه به یې یو یو لۀ پورته ښکته راښکل، لکه چې سړی په دقت دډیرې سپین ویښتان وشمیرې، بیا به یې لږه شیبه وروسته ورو غوندې اوسیلی وکړ وبۀ یې ویل: توبه خدایه؛ ته رحیم او کریم یې مونږ دې ګنهکار بنده ګان یو.

خیر ګل ماما چې به لمر ته ډډه ووهله بیا به یې زړۀ نۀ کیده، چې پاڅیږي. داسې پرې لګیده لکه ملهم، یوخوله عمر نه پوخ سړی و. دعمر تقاضا همداسې وه

چې تود دې وي اوبل دزندان سړو کوټو سړیجن کړی و، چې هر وخت به دې لیده، لږ ته به یې ډډه وهلې وه. دخور پۀ غاړه دفکر او سوچ پۀ در یاب کښې ډوب و،کله به یې تیرې شوې ناکردې راپۀ زړۀ کړې اوتیرو تکلیفونو او زجرونوبه یې پۀ سترګو توره شپه راوستله اوکله به یې خپل شهید زوی اوشهیده نږور چې پۀ بمباری کښې شهیدان شوی وو را پۀ زړۀ شول، ورسره به یې دخپلې دهقانۍ خوږې او له کیفیتهډکې شپې ورځې را په زړه شوې.

خو چې کله به یې همغې ځمکې ته وکتل، چې خیر ګل ماما پۀ کښې دهقاني کوله اوس لۀ صحرایې بوټو ډکې پرتې دي، پسونه پۀ کښې څړی؛ نو سړو اوسیلي به یې وکړ.

یوه ورځ همداسې پۀ شړۍ کښې تاو کړی ناست دی، چې ګوري لۀ لاندې یو سړی ددوی دکور خواته روان دی، یوه شیبه وروسته چې دۀ ته رانږدی شو، نوویې پیژند، مخې ته یې پورته شو ،دواړو غیږ سره ورکړه، دجوړ تازه پۀ ځای یې یوه شیبه سره وږدل، دواړو غاړه پۀ غاړه سلګۍ سره ووهلې.

څۀ شیبه وروسته دواړه پۀ یو زوړ کټ کښې کښیناستل، پخوانۍ کیسې او دخورو ترخو خاطرو دفتر یې پرانست. خیرګل ماما شیرګل ته وویل :

ـ زما شپږ اتۀ شپې کیږې چې راغلی یم، تازما پوښتنه قدرې هم ونۀ کړه. انصاف داره چې ددنیا پۀ حال احوال سره پوه شوی وی، زۀ خوداسې یم لکه ترلې چرګ.نه صحیح ګرځیدلی شم اونه کښیناستلی. دظالمانو دې خانه خرابه شي دغه مې حال شو.

شیر ګل اکا ورته وویل:

ـ مسلمانه چې زۀ خبر شوی وای چې تۀ پۀ خیر راغلې یې؛ نوزه به ولې نۀ راتلم لیکن خبر نۀ وم، اوس زما

وروکی زوی پسونه څرول، هغۀ راته وویل چې پۀ پورته کلی کښې یو سړی ددیواله غاړې ته ناست و. خو پیژندلی یې نۀ وې . زه حیران شوم چې دابه څوک وې، چې راوختم بس ته مې ولیدلې.

خیرګل ماما ورته وویل:

ـ تۀ چیرته اوسیږې خپله مینه دې پریښې ده؟ ماته ښکاری دیواځی والې فکر دې کړی دی.

شیرګل اکا ورته وویل:

هو،خبره خو همدغه ده چې ځای پۀ خلکو ښۀ ښکاري، لاندې کلی ښۀ دی، یو درې کورونه پۀ کښې شته او دلته چې هیڅوک نۀ وو ما به څۀ کړی وای دتاله تېر نه هم خبر وم چې دپلار پۀ کور وه، خو تاسره به اوس راغلې وې .

خیر ګل ماما پوښتنه وکړه:

ښه وروره داراته وایه چې څوک مړه دې اوڅوک ژوندې داخلك څۀ شول؟

کلی کور خوپۀ داسې حال شوی دی چې هیڅ پۀ کښې دپخواپۀ ځیر پاتې نۀ دې.

زۀ خولۀ هیڅه خبر نۀ یم . وروره تۀ راته ټوله کیسه وکړه .

دشیرګل پۀ ستړګوکښې اوښکې لکه دملغلرو ښکته پورته شوې اوددیرې مایوسۍ پۀ حال کښې یې وویل:

ـ وروره ددې خبرو پوښتنه مۀ کوه هغه کسان چې تا لیدلې وو تورو خاوروته لاړل ، نۀ ځوانان پاتې شول اونۀ زاړه .

اول زمالۀ خپل کورنه دوه ورونه او درې ځوانان زامن لکه دګل پۀ شان ښایسته ځوانان چې خپله دې لیدلې وو شهیدان شول، همدغسې لۀ هر کورنه دوه درې تنه شهیدان شول او پاتې خلك مهاجر شوي دي. زۀ خپله

اوزرین انځور مقالې د «پټې خزانې میزان ریښتیامیزان دی» په کتاب کښې ولوستلې، نو مې ټینګه اراده وکړه، چې سړیه،دښاغلي قلندر صاحب دکتاب په باب خو دلیکنو بهیر پیل شوی دی،څه ته ګوري ؟ قلم رااخله.

دښاغلیو محمد آصف ضمیم اوزرین انځور په مقالو کښې زما دزړهٔ ډېرې خبرې سپینې شوې دي . خیر دې یوسي، ښې لیکنې یې کړې دي، پاک خدای (ج) دې نورهم توفیق ورکړي، چې دخپلې ژبې اوفرهنګ خدمت وکړي .

له ما سره ځینې نورې خبرې هم په ذهن کښې شته، چې دادی تاسې درنو لوستونکیو ته یې وراندې کوم . البته دامۇجزه لیکنه زما دهغهٔ تحقیق یوه برخه ده، چې د «پټه خزانه فی المیزان» په باب مې کړی دی . که ژوند مهلت او حوادثو فرصت راکړ،دلیکنو دالړۍ به نوره هم دوام وکړي انشاء الله تعالی.

زهٔ خپله لیکنه له دې خبرې څخه رانښلوم، چې دپټې خزانې موجودیت دلر په شان حقیقت دی، ځکه ترخپرېدو مخکښې اووروسته یې لازمور مشرانو دشته والي خبرې کولې. مګر راشئ دیوې شیبې له پاره به داسې فرض کړو، چې پټه خزانه هېڅ نهٔ شته ، نهٔ یې محمد هوتک دلیکلو ستونزې پرځان منلې وې، نهٔ دسردار مهردلخان مشرقي له پاره یو نقل برابر شوی وُ، نهٔ بیا حاجي محمد اکبر هوتک دځان له پاره یوه نسخه تهیه کړې وه او نهٔ هم اروابادعلامه حبیبي له تعلیقاتو سره خپره کړې ده.

نه،ددغه رازفرضیې په صورت کښې به نو څهٔ آسمان مځکې ته راغلی وای ؟ زما مقصد دادی چې که پټه خزانه موجوده وای که نهٔ وای ، پښتون قام موجود وُ،ژبه یې موجوده وه،ادب یې موجود وُ،لیکنی ادب یې موجود وُ، پراخ اوشتهٔ من شفاهي ادب یې موجود وُ.ادب مور دخاورو هغه کنډولی

د یرو خوږو لوستونکیو!
په مینه مونمانځو!!

دسپیدې داګنې داسې وبولئ، چې له تاسې سره باغلیوسره پرې داډیکودپخلې او راشه درشې ترمنځ بیانوی کوو، داتیریوکال که څه هم مونږ وخت ناوخته له ځینوهغو دوستانونه ګیلې هم وکړې ،چې مونږ پرې «سلام» اچوو، خودوی راته «علیک»قدرې هم نه وایې اودامو هم ځکه کول،چې«ګیله له خپلوکیږی» خوروورو پوه شوو،چې یره زمونږ ګیلې تولې دومره پرځای هم نه وې،لکه مونږ چې ګڼلې؛ ځکه مونږ د(خپرنې)کال ترپایه تقریباًتولوهغودوستانو چې زمونږ تره کیده؛ پۀ یوۀ نه یوۀ نامه یې یادکړې یو،چاراباندې مینه

هم مهاجر شوی وم ایله یوه میاشت کیږي چې بیرته راغلی یم .

اګرچې نیم کور مې اوس هم پهٔ پیښور کښې دی اوصرف ددې ځمکو لهٔ پاره راغلی وم.

خو چې تهٔ پهٔ خیر راغلی یې نوزه هم دهمدغه ځای شوم. دواړه به همدلته اوسیږو .

بیا خیرګل ماما دمهاجرینودحال احوال پوښتنه وکړه او دپیژندلو کسانو بیلا بیله پوښتنه به یې کوله دهر یو لهٔ حاله چې به خبر شو نو به یې ویره ور پیده لکه چې سړی ژړاته نژدې وي او ښه ښه به یې ویل.

دوی لاپهٔ خبرو بوخت وو، چې دغره لهٔ خوا دوه جټ طیاری ښکاره شوی. شیرګل اکا لهٔ وراندې بمباری لیدلې وې، پوهیده چې پټ ځای ته ځان رسول پهٔ کار دي خیر ګل ماما یې دلاسه ونیوه ویې ویل:

– ورورہ درځه چې خور ته کوز شو .

هغهٔ خپلې ښځې ته دژر راتګ لپاره اواز وکړ. درې واړه په ډیره چالاکی خور ته کوز شول.

طیارو دوه درې دورې وکړې اوبیا یې پهٔ همدې کلي دوه بمونه راګوزارکړل.

یوه شیبه وروسته چې طیارې لاړې، درې واړو پورته دکلي خواته وکتل.کهٔ ګورې چې دخیرګل ماما لهٔ کور ځخه دخاورو دوړې مخ په آسمان خیژي.

د مولانا محمد امین خوګیانی په یادکښې

هغه نه مړی جاودان دی

لیک او پیرزوینه م. ر. شفق

د علامه محمد اسرائیل شهید مشرزوی او د افغانستان پۀ لوړو صحافیانو اد یبانو او مورخینو کښې شمارو. رئیس محمد امین خوګیانی اول اول د اصلاح او انیس مدیر مسئول و. بیا ور وسته د مطبوعاتو مشیر، د تمیز رئیس او د شورای ملي سناتور پاتی شوی وو. د ذهن او فطانت دولت ورته پۀ میراث کښې رسیدلی و. د افغانستان د انقلاب د پیر دورونه یې لیدلي وو. او د پښتنو د تاریخ ژوره مطالعه یې کړی وه. زامن یې د حکومت افغانستان اعلي منصبونو او مرتبوته رسیدلي وو. د پیر پۀ کښې د مجاهدینو او مهاجرینو ملاتړ اوخادمان دي.

مولانا محمد امین خوګیانی، پۀ سید جمال الدین افغاني، خوشحال خان خټک او د نورو مشاهیرو پۀ حقله تحقیقي کارونه کړی دی.

دی یو خورڅبی مجلس آراء ادیب او پیاوړی عالم وو، چې ټول عمریې د علم د ډیوې بلې ساتلې وې. د کال ۱۹۸۵ آخري مودې کښې ناڅاپه پۀ کابل کښې وفات شو، اوهم هلته ئې مزار دی.

رفتم وازرفتن من عالمی تاریک شد
من مگر شمعم چورفتم بزم برهم ساختم

(شفق)

چې دخبرو پۀ وطن کښې ګل ورين يادېدو
هغه دحسن پۀ نقشونوکښې نګين يادېدو
ښايسته وګړي د دنيا اوهم ددين يادېدو
چې په سنګينوساعتونوکښې متين يادېدو
پۀ ارادوکښې دخيبرغوندې سنګين يادېدو
چې دبيان پۀ روانۍ کښې اباسين يادېدو
چې دپارسي پښتودناوې لونګين يادېدو
چې داسلافو د اوصافو يو امين يادېدو
دخوګيانوپۀ خوږه سيمه کښې شيرين يادېدو

هغه ليکوال چې عنوانونه غوړېدل به ورته
يومصنف چې تصنيفونه خوړېدل به ورته
يومورخ چې تاريخونه زوتېدل به ورته
يومحقق چې تحقيقونه ځيرېدل به ورته
هغه عالم وچې علمونه ځليدل به ورته
هغه فنکارچې ټول فنونه ګډېدل به ورته
يوقلمکار چې شهکارونه مسيدل به ورته
يوسترګه ورچې جهانونه ښکارېدل به ورته
يومدبر چې عظمتونه ټيټېدل به ورته

هغه ارمان چې بهارونوته افسون وبخښي
هغه مغان چې تږي جام ته مې ګلګون وبخښي
يوسخندان چې اولسونوته قانون وبخښي
هغه باغوان چې نګهتونوته سمون وبخښي
هغه طوفان چې ويدوغاړوته بدلون وبخښي
هغه ايمان چې تورو شپوته سباوون وبخښي
داسې جانان چې مئينانوته جنون وبخښي
هغه کاروان چې لاروته خوندديون وبخښي

هغه لقمان چې خفه زړونو ته سکون وبخښي
هـغـه انسان چې انسانانوته ژوندون وبخښي

چا،چې کولې تل دعقل اوحکمت خبرې
دفلسفـو، دمعـانو، د روایـت خبـرې
دعلم وفن پۀ سرچینو کښې دوحدت خبرې
دمشرانود کردار او د عـظمت خبـرې
پۀ فقیرۍ کښې دخودۍ او دغیرت خبرې
شاهي دربارکښې بې پروادحقیقت خبـرې
دۀ به ښودلې دژوندو دسیاست خبرې
ترخووختونو کښې دمینې محبت خبـرې
کۀ ښۀ پۀ زورکښې وې هرلوردرقابت خبرې
دۀ نۀ بس کولې دخپل زړۀ دصداقت خبرې

نو
تاسوڅه وایئ! چې هغه له دنیاتیرشو ګنې؟
تاسومنئ دا! چې هغه لۀ چانه هیرشو ګنې؟
هغه یوخیال وچې دزړۀ نه تیروبیرشوګنې!
ولی هغـه هـم دسپرلې دباد پۀ ځیـرشوګنې؟
ولی هغه هم پۀ عصرې دسیسو زیر شوګنې؟
ولی هغه هم داجل پۀ دام کښې ګیرشوګنې؟
ستاسوګمان دی چې دمړو پۀ صف کښې شمیرشوګنې؟

نه ! داسې نۀ ده عزیزانو! قدرمنو زما
پام ورته وکړئ مئینانو! وه خورمنو زما
چې پۀ دنیاکښې یې ښۀ نوم اوښۀ نښان پاتې شي
شـفـقـه! نۀ مري هغۀ ښکلي جاودان پاتې شي

امان الله ساهو





دریمه برخه

لهٔ ځایه پورته شوم دنورجان خواته ورغلم، دسرټپ یی دړې گوټې تر تندې پورې راښکته شوې او وینه یې وچه شوې وه، بې سده پروت ؤ او دډپرې وینې دضایع کولو پهٔ وجه یې رنگ تك سپین تښتپدلی ؤ.

جامپر مې وایست ددهٔ تر سرلاندې مې کړ او بیا مې دخپلې شخصي تجربې لهٔ مخې ددهٔ معاینه وکړه، زهٔ ډاکټر نهٔ یم خو دومره پوهپږم چې د ډپرو وینو پهٔ ضایع کولو باندې سړی بې هوشه کپږي او دنورجان بې هوشي هم لهٔ همدې سببه وه.

وینې یې اوس تم شوې او حالت یې دډپرې اندپښنې وړنهٔ ؤ. دزړهٔ درزپدا او دلاس دنبضونو غور ځپدایې نارمل وه او زما پهٔ فکر یو ګیلاس سرو اوبولهٔ بېهوشی څخه نورجان ژغورلی

شوای. دمخه تر دې چې داوبو په لته کې شم نه پوهېدم چې څه وکړم، لومړی مې د نورجان عسکري بوټونه چې په خاځیو کې یې ده ته ورکړي وودده له پښو څخه وایستل او ددې لپاره چې دسر ټپ یې له حشراتو څخه پټ وي دخپل لاس رومال مې پرې وغوړوا وه.

خو هلته دیوې تیږې په سرکښېناستم او دنا امېدۍ په څېړو کې لاهو شوم، له پښو لوېدلی وم، ملګری مې بې سده پروت و، ما هرڅه له لاسه ورکړي وو، خپل دامېد یوازېنی مرجع «نورجان» مې هم له لاسه ورکړی و، له هغه سره اوس زما دوك نه و، له خان او، جهان څخه بېخبره پروت و.

دهغه په لېدو زه دېر خواشینی وم، دی زما لپاره په داسې بد حال کې لوېدلی و، که زما سره یې خوا خوږي نه وای نو اوس به دې هم دنورو ملګرو په شان بېغمه په خپل مرکز کې و.

زړه مې دېر په تنګ شو، یو ځل زړه راته ویل چې خان له غره وغورځوم خو ژر مې توبه وایسته او له خدایه مې مرسته وغوښته په خپل خان پورې مې وخندل او له خان سره مې د «نیچه» داجمله تکرار کړه:

«ژوندي کبان هغه دي چې داوبو دمسیر په خلاف ولاړ شي.»

داجمله مې څو څو ځله تکرار کړه او بیا په داسې حال کې چې شکته دچینې په لور وخوځېدم خپل خان ته مې په دې خبرو دا ورکاوه چې: ته لاژوندی یې او په سرباندې لوی او مهربانه پروردګار لرې، چینه لرې نه ده، لږ همت وکړه.

په پښو کې مې یو غیبی قدرت پیدا شوی و او پرته له دې

څخه چې دستر يا احساس وکړم په دې لنډ وخت کې چينې ته ورسېدم، ډېرې اوبه مې په سوي لړمانۀ تويې کړې او دخدای شکر مې پرځای کړ.

زما تنده ماته شوې وه، شاوخوامې وکتل چې کومه پلاستيکي کڅوړه يا کوم لوښی داوبو دخپړولو دپاره پيدا کړم خو هيڅ مې هم ونه موندل. زۀ مجبوروم چې نورجان ته که په هره توګه وي اوبه وروخپړوم تر ډېرې پلټنې او فکر وروسته مې يوازينی لوښی چې داوبو خپړولو دپاره وموندۀ هغه زما ساقداره سپورتي بوټونه وو.

لۀ پښو مې راوايستل، بسۀ پاک مې وړينځل، ددواړو بندونه مې په يوبل پورې غوټه کړل، لۀ اوبومې ډک کړل او دترازو ددووپلو په خپرمې په غاړه کې وځړول.

اوس يوځل بيا زۀ وم او دخورې کوتل، پښې مې په وړو، وړو ډبرو خور بدلی خو هغه دچا خبره: «که گور گران دی، دمړي ناکام دی.» همدا زما قسمت ؤ او داقسمت ما په خپله ځان ته جوړ کړی ؤ.

ښايسته ډېره لار پرته لۀ دې چې دمه ونيسم پورته ختلی وم، چې ناڅاپه مې ترپښې لاندې ډبره وښوئېده، زۀ ولوېدم او دبوټانو په منځ کې لږ ډېرې پاته اوبه په ځمکه توی شوې.

پاس مې اسمان ته وکتل ، لرې دافق لۀ لورې دوه جيټ الوتکې زما لورته را روانې وې، بې اختياره مې وخندل او هغه د «سليمان خېل» کوچې خبره را په زرۀ شوه چې دسپل تر راتګ وروسته يې په آسمان کې برېښنا وليده او په لوړ غږ يې وويل:

«اوزې دې هم را مړې کړې او خاندې لاهم چې ښه کار مې وکړ.» الوتکې را ورسېدې، یو دوه ځله یې زما په سر دوره وکړه او له سترګوپنا شوې، زه اوس بیا فکر په مخه کړم، نه پوهېدم چې څه وکړم نه بېرته چینې ته دتلو وم او نه مې هم په تش لاس نورجان ته ورتګ زړه غوښت او هغه دقادر خان خټک په قول : «لکه بت په بیداری کې وړی خواب وم.»

×- په همدې غرونو کې ځای، ځای دروسي پرغلګرو پوځونو موټې وې چې دکنسرو شوبو خوراکي موادوتش ډبلي یې اوس هم په ځینو مورچوکې پراته دي اوزمونږ ملګرو دلارې په اوږ دوکې استفاده تړې کوله.

زړه مې راډک شو چې وژاړم ، خو چاته ! ژړا په داسې ځای کې چې هیڅوک نه وي دلپونو کار دی، یوازې اسمان ، هغه خو زړه نه لري چې دچا په حال یې وسوځوي ، نوبیا ژړا دڅه لپاره ؟

سوړاسویلی مې وایست، یوځل بیا مې ځان په خدای وسپارلو او له هغه څخه مې مرسته وغوښته.

دعا چې له زړه وي هغه قبلېږي، لږ وخت لانه وتېرشوی چې یو دپاخه عمر کوچی په داسې حال کې چې یوه ګونی غنم یې په خره بار کړي وورا ورسېد.

زه ورولاړ شوم تر روغبړ وروسته مې خپل تکلیف ورته بیان کړ، خدای دې ښه ورسره وکړي، زړه سوانده سړی وپه ډېرې خواخوږۍ یې راته وویل:

«سړیه: داخر در ایسار کړه چې زه اوبه درکړم.»

ماورته وويل:

- زهٔ اوبه نهٔ څښم پاس يې خپل ملګري ته ور وړم: دهٔ وخندل او ويې ويل:

«زور وره ! تهٔ واخله ويې څښه، اول خپله تنده ماته کړه، اوبهٔ خولې نهٔ دي، هغه ده ښکته چينه ده، څهٔ بيه خومونهٔ پرې ځي نورې به راوړو، وڅښه، وڅښه، غم مهٔ کوه ، الله باچا دی.»

پوند لهٔ خدايه څه غواړې ! دوه سترګې - دکوچې ماما لهٔ لاسه مې داوبو روسی پتکی واخيست او ټولې اوبهٔ مې پهٔ يوه ساوڅښلې . چې کله مې تش پتک بېرته ورکولو کو چې وويل:

«تنده دې ماته شوه، که نورې هم درته راوړم.»

ما دلاس پهٔ اشاره پوه کړ چې نورې نهٔ غواړم، ډېر کوروداني مې ورته ووايهٔ.

چينې ته ترتلو دمخه کوچې يوځل بيا لهٔ سره تر پښو پورې ماته وکتل.

ويې خندل او ويې ويل:

«څه بلا دې غوښته چې دلته راتلې.»

ما ددهٔ دخبرې پهٔ ځواب کې څه ونهٔ ويل، هغه ښکته دچينې پهٔ لور روان شو.

هغه لار چې هره لوړشت يې ماته تر عمر اوږده وه دهٔ پهٔ سترګې رپ کې ووهله اوبهٔ يې راوړې او ماته يې وويل:

«درځه چې ځو.»

زهٔ څوګامه ورسره ولاړم، خو دېر زر سر راباندې وخرڅېدو ځای

په ځای کښېناستم.

کوچې په لوړ کوچیاني غږ راته وویل:

«داځه در وشو، ولې ناست یې؟»

ما ورته وویل:

- ماما دتلونهٔ یم په پښو کښې مې حرکت نشته .

هغه لکه چې زما په خبره باندې نه وُپوه شوی، رانژدې شو او خپله پوښتنه یې بیا تکرار کړه.

ما په غصه ورته وویل:

- ته مانه وینې چې په څه حال یم.

کوچې په کټ، کټ وخندل او راته ویې ویل:

« دغرهٔ تاؤ له ما مه باسه، سم راته ووایه چې نه شم تلی. »

او بیا په منډه دخپل خرهٔ خوا ته چې خوګامه مخته روان وورغی او تر غوږ نیولی یې زما خواته راوست او راته ویې ویل چې په خرهٔ باندې سپورشم. زه په پرتکلیف په خرهٔ باندې سپورشوم. که څه هم ډېر کلونه پخوا کله چې« ماشوم وم په خپل کلي کښې له پلار څخه پټ دکلیوالو په خرو باندې سپور شوی وم خو اوس وپرېدم او هره لحظه داوېره را سره وه چې له غنمو سره به یوځای له خرهٔ څخه ښکته پر پوزم. او هېڅ دشك ځای هم نه وُ، ځکه ماته نن خپل بخت معلوم او کرې ورځ مې داسمان ملنډې کتلې وې.

په لاره کښې دکوچې له خبرو څخه معلومه شوه چې په لومړي سر کښې یې په ماباندې دعرب ګومان کړی وُ، هغه ویل:

« کټ مټ دعرب غوندې ښکارپږې » اوبیا یې زیاته کړه:

نه بولو چې داصلیت اوارزښت اندازه یې له زرتابه څخه ټاکل کیږي؛ بلکې دادب دارزښت اوغنا له پاره نور معیارونه اومحکونه شته، چې زر اوکوټ په پیژندل کیږي . که دامیر کرور ویارنه،دښکارندوی بوالله،داسعد سوري قصیده اونور زمور تر کوتو رارسیدلې هم نه وای؛ بیا هم زمور ادب موجود،اصیل ژ رنګین ژ ،له ویاړه ډک ژ.

مقصد داچې دپټې خزانې دموجودیت اوصحت دفاع مور په دې خاطر نه کوو، چې که دااثر دقلندرصاحب په اصطلاح «جعلي »ثابت شو؛ نو خدای مه کړه دپښتانه کور ونړیدهٔ، دادب مانې یې نسکوره شوه،تر سیالانو کم شو اونور اونور.

یه ،خبره داسې نه ده؛ مګر دهغو کسانو اوتې بوتې نوهم نه شومنلای، چې د«خاصو مصلحتونو» له املې لرپه دووګوتو پټوي اوپه خپل دې عمل سره ګویا راتلونکی نسل له « ګمراه کیدو» ژغوري!

ښاغلي قلندر صاحب دخپل کتاب د «وړومبې خبرې»په «ز»مخ کښې وایي:«ددې معروضاتو دلیکلونه پس ماته داپته ولګیده، چې زما دوړومبې مقالې ځواب کښې دکابل بېلا بېلو فرهنګي مؤسسو دمحمد هوتک یاد ، دامیر کرور یاد ، شپږ بستان بېړپځ، دپټې خزانې فرهنګ دنورمحمد غلجي نافع المسلمین ،دزرغونې یاد اودمحمد هوتک ژوند اومزار دمسودې دلیک په دوران کښې ماته رارسیدلې وه، چې مایې دې کتاب کښې نوټس اخستی دی. نورو کتابونوته ماانتظار مناسب ونه ګڼلو....»

پورتنی نقل ښاغلي زرین انځورهم د«پټې خزانې میزان ریښتیا میزان دی ؟» دکتاب په ۲۰ مخ کښې راوړی دی اوهلته یې مستدله تبصره پرې کړې ده. زما داعتراض ځینې اړخونه به د ښاغلي انځور صاحب له ځیرنې سره ورته وي او هغه دا چې محترم قلندر صاحب

دلته کله ناکله دمجاهدینو لهٔ ګروپونو سره یو نیم عرب هم راځي تهٔ دهغوی پهٔ شان یې نورجان ته تررسېدو پورې کوچي دپرې پوښتنې لهٔ ماڅه وکړې چې اوس مې پهٔ یاد نهٔ دي، کله چې خپل ځای ته ورسېدو نورجان هم لږلږ پهٔ هوش کېنې شوی وُ، لږ اوبهٔ مې ورکړې چې حلق یې لوند شي رومال مې لوند کړ او ددهٔ پر مخ باندې وچې شوې وینې مې پاکې کړې.

«کوچي» خرلهٔ بار سره پرېښود او پهٔ خپله لهٔ موږ سره کښېناست بیا بیا یې دنورجان دزخمي کېدو اوغلو پوښتنه کوله.خر لرې تللی وُچې دکوچي ورته پام شواو پرته لهٔ دې چې موږ ته څهٔ ووایي پهٔ منډه منډه لهٔ موږ څخه لرې شو .

دنور جان حال ښه شوی وُ زما تنده ماته وه ، دمازدیګر لمر پهٔ لوېدو وُ او دخدا ی لهٔ لورې زموږ مرستې ته رالېږل شوی کو چی هم لهٔ خپل خرهٔ سره تر غرهٔ واوښت .

اوس یو زهٔ وم اوبل نور جان ، ورځ مخ پهٔ تېرېدو وه زموږ دملګرو هېڅ احوال نهٔ وو، دقوماندان لهٔ وعدې سره سم باید څوک پهٔ موږ پسې راغلی وای توله ورځ مو پهٔ انتظار او بد بختۍ تېره کړې وه .

آیا قومندان موږ هېر کړې یو او که خدای مهٔ کړه دهٔ ته هم څهٔ ور پېښ شوي دي ، داهغه سوال وُ چې هره ګړۍ به پهٔ خیال کېنې را ـ ګر ځېد واوبیا به پهٔ زرهٔ کېنې را تېره شوه :

نه قومانوان مانهٔ شي هېرولی هغه زما دوست دی که نیمه شپه هم وي په موز پسې به څوک را ولېږ ي ، شاید لاره به اوزده وي

اوهسې به يې سهار زماد دادِ ګيرنې لپاره ويل چې دري ساعته لار ده ، او داهم امکان لري چې آس يا کچره يې نهٔ وي موندلې پهٔ هغو پسې به سرګردان وي .

پهٔ داډول خبرو به مې خپل ځان لږ تسلي کړ خو چې ژر تېر- يدونکي ما زديګر ته به مې وکتل بيا به شيطان وسوسه راواچوله او يوه وپرونکې صحنه به مې تر سترګو شوه،قوماندان زهٔ پېژنم هغه ډېر نرم، شريف خو ځينې وخت لجوج، سرتمبه او بې پروا سړی دی نن سهار چې لهٔ مور څخه پېل شو يوازې ؤ هيڅوک ورسره نهٔ ؤ ټول ملګر ي وراند ې تللي وو .

هسې نه چې پهٔ غلو پيښوڼ او خداى مهٔ کړه څهٔ نور ه کيسه نهٔ وى پېښه شوې .زما داندیشو لړی دنور جان پهٔ غږ ماته شوه لهٔ هغهٔ سره داغم ؤچې قوماندان ته به دټوپک ځواب څهٔ وايي که به ما هر څو تسلي ور کوله او کوشش مې کاوهٔ چې دا کيسه يې لهٔ فکر څخه وبا سم خو دهٔ به بيا ياده کړه .

اخر زهٔ سترى شوم او ددې لپار ه چې دبحث موضوع پهٔ بله واړوم نورجان ته مې وويل:- دې سيمې ته پخوا هم کله راغلى او که دايې لومړى ځل دى :

دهٔ پهٔ ځواب کې راته وويل :

هو دوه درې ځله پخوا هم راغلى او پهٔ دې سيمه کې بلد يم .

زهٔ خوشحال شوم ځکه او س تياره موضوع پهٔ لاس راغلې وه او دډېر وخت لپاره مې دقوماندان ،ټوپک،غلهٔ ..... ا و داډول نورو خبرو لهٔ شره ځان ژغورلى شو.

څلور ، پنځهٔ کیلو متره لرې دجنوب خواته یو څو ونې او کورونه ښکارېدل ، دهغو پهٔ هکله مې لهٔ « نو ر جان » څخه پوښتنه وکړه چې دهغهٔ کلي نوم څه دی او او سېدونکي یې څوك دي؟ دهٔ راته پهٔ ځواب کې وویل: «دې کلي ته "توده چینه"وایي او اوسېدونکي یې شاهي خېل ستانیزي کوچیان دي داسیمه تر حصارك پورې درسته د "از ري" د ولسوالۍ لهٔ مربوطاتو څخه ده .-- نورجان غلی شو او تر لږ چوپتیا وروسته یې پهٔ لاس باندې دکلي تر شا غونډیو ته اشاره وکړه او زیاته یې کړه هلته دهغه هسکې غونډۍ پهٔ سر خیمه ویښې ؟

ماورته وویل :

هو

دهٔ وویل:- داداول خان مرکز دی ، مالهٔ هغهٔ سره څلور میاشتې پهٔ ګروپ کې تېرې کړې دي . هغه خو به پېژنې پهٔ دې سیمه کې مشهور سړی دی خپله مستقله وسله او جبهه لري ډېر تکړه مجاهد دی ، خو او س یې کار لږ خراب دی څوك ورسره نشته ددې لپاره چې خبره لږ اوږده شي ما پوښتنه ورڅخه وکړه چې لهٔ اول خان څخه خلك ولې تللي دي ؟

ده راته وویل :

«داټول د اول خان لهٔ خپله لاسه شوي ،هو بلکل همداسې ده اول خان غلطي وکړه، ډېره سخته غلطي، تهٔ داکوچیان نهٔ پېژني ، داډېربل رنګ، خلك دي که یې تورې ته لاس کړ تر دوی جنګیالي نهٔ شته او که یې یو ځل ترپ کړل بیایې واللّٰه که پهٔ دور

بین کی وکوری دوی دانقلاب په اوله کی دیر سه جهاد کولو ، داسیمه وینی دلته حو کاله وراندی دروسانو یوه لویه قوه راعلی وه ، تر اوسه پوری یی لاخالی مورچی شته خلك یی نه ورانوی او وایی چی دایو یادکار دی که زوند و بیابه سیل دز باندی وکرم نو دی کوچینانو دیر سخت جنگوونه ورسره وکرل او داسیمه یی له روسانو حخه پاکه کره ، دیر شهیدان یی هم ور کرل خو خدای دی اول خان ته انصاف ورکری په خپله خوورك و قوم یی هم ،ورسره ورك کر یوحل چی حوك داسرات مخ ووینی بیا کله سختیی وته زره نیسی دمنطقی تر ازادی وروسته اول خان له خلپو مجاهدینو سره دژمیدتیرولو له پاره پاکستنان ته ولار خو پاکستان نه وچی غم و دسیمی تول خلك پاکستان ته کده شول او او س به یی دچا پلا ر راولی.» « نور جان » همداسی لکیاو او په یوه ساه یی دکلی او کوچینانو په باب خبری کولی ماکه حه هم په ظاهر ده ته سر سورولو خو په حقیقت کی می فکر په بل لوری و .

حو لحظی وروسته شپه راتلونکی وه ، زمونز سره نه دخو رلو دپاره حه و او،نه هم دحان پتو لو دپار ه دحفا ظت یوازی وسیله توك راحخه غلو وری و .

اوس مو نز باته و او په غره کی کله کله دانسانانو په غوسو روزدی لیوان او کیدران . مونز دمخه تر دی چی شپه راباندی راشی باید خپله چاره کری وای ، له حکه می نورجان ته وویل :

وروره ! اوس دغه کیسی پریزده داسی سکار ی چی شپه په غره کی راباندی راغله که دی حوسه وی راحه چی دتودی چینی کلی ته

ولار شو ، شاید هلته یوه سر پناه پیدا کرو که بل حه نوی ، تشی ،تی خو شته چی له حنا وروحخه مو وساتی زه او « نورجان » بیرته مخ په سکته روان شوو ، دی مخته اوزه ورپسی وم چی ماحاپه نورجان ودریدو او په خوشحالی ی ویل :

راورسیدل ، زاغلو هعه دی راروان دی ما په حیرانتیا پوستنه ورحخه وکره چی حوك راروان دی نور حان په داسی حال کی چی سکته لری یی یوی نقطی ته کوته ونیو له وویل هاغه سیدګل او کل آغاز مونز ملکری راورسیدل .

په ریستیا هم هلته لری یو دوه کسه سکاریدل چی دوه کچری یی را په مخه کری وی زمونز انتظار دیر اوز نه شو چی رانژدی شول ومونپیژندل زمرز ملکری وو، تر روغبر ورسته موحانونه په حال سره خبر کړل . غله دوي ته هم په مخه ورغلی وو او ویل یی چی دوی تر وار دمخه پوشوی او مور چی یی ورته نیولی وی حنی سید ګل دزی هم یری کری وی او غلو دمجاهدینو دنژدی مرکزنوله ویری حخه لاره چپ کړي او دوی په دی توکه وژغورل شوو زموز مجلس لا تودر وو چی له پاسه مو دعبدالا کبر غز واورید و.

عبدالا کبر دقوماندن کسر ورور دی ، ما هغه یو کال پخوا په ایران کی پیژندلی او حو حو حله په تهران کی زماحای ته راغلی و ، اکبر آغا یو شهزاده افغان زلمی دی خوله یی تل له دخندا دکه وی او په « په ستر ګو قربان » یی دخولی تکیه کلام دی دی نیم کال په ایران کزذری کوی او نیم کال هم بیا په جبهه کی تیروی ، تر لسم جماعت پوریی تعلیم کری اوزه چی تل دی وکور م دپستو دالندی را

په یاد شی .....

«لندی کچر به چلو م تا به ساتم »

اکبر آغاله وطن سره دومره مینه لری چی دساتنی دپار ه یی پ دیر وطن کی خواری مزدوری کوی خو دلته دجهاد دپاره بیاتوله زیرمه مصرفوی.

اوس په ماپسی راغلی ژ، یوبل ملگری هم چی ماته پیژانده ورسره ژ روغبر او مکرره دحال احوال پوستنه تیره شوه او مونز هر یوه په خپل خپل وار تول سرگذشت له الفت نه تری پوری بیان کر.

اکبر سور اسویلی وایست یودوه کنحلی یی په غلو پسی وکری او زیاته یی کره: « بلاوه برکت یی نه ژ، سه ده چی ستاسو سرته خیردی، دی کافرانو خو ورحی مخته یو مسلمان دتوپك دپاره وژلی ژ، توبه خدایه توبه اسلام کده کری، دانسان مرگ تر چرگ ورته اسان سکاری، دا زمونر حال دی چی دخدای قهر را باندی اوری.» او بیا یی دتل په حیر وخندل او په خپل مخصوص اندازیی راته وویل:

«قربان حه سپریره، چی ژر مرکز ته ورسیرو، لالامی ویل چی تاسو دا دوه ورحی هیچ هم ندی خورلی»، دده په خبرو خوشحاله شوم قوماندان ته خیرژ تراوسه پوری ماله ویری حخه دقوماندان پوستنه نه شوه کولی حکه چی له تیری ورحی حخه آسمان دمیری مور سلوك را سره را اخیست ژ او زما هر وهمجن تصور محض تصور نه بلکه حقیقت کرحیدلی ژ.

او دا باور می نه درلود چی دقوماندان په باب دی زما اندیسنه

یوازې یو تبجن خوب وی، شکر دی هغهٔ ته خیر دی، لږ مطمئن شوم او ددې دپاره چې خپل اطمینان ښه حاصل کړم لهٔ اکبر څخه مې پوښتنه وکړه: چې قوماندان خو سهار دوخته درغی، لار خو هم دومره اوږده نهٔ ده تاسو ولې دومره ناوخته راغلئ؟

ده پهٔ ځواب کښې راته وویل چې کچرې مو پهٔ لرګیوپسې غړهٔ ته ښوولې وې او پهٔ نژدې ځایونو کښې لهٔ بل چاسره نهٔ اس شته نهٔ کچرې چې پهٔ تاسو پسې مو را استولې وای ، پهٔ همدې وجه دومره ناوخته شوو زهٔ پهٔ یوه کچره او نورجـان پهٔ بله سپور شو، اکبر زما تر څنګ پیاده را سره روان وُ، او بیا بیایې زما پهٔ ورتګ خوښی څرګندوله.

پهٔ غړهٔ کښې نوی لار، دښېریو ځنګل ، ځای ځای درنو اوبو چینې ، دا هر څهٔ ماته دلپدووواو لذت مې تري اخیست ، اوس دتکلیف او پریشانی موده تپره شوې وه نهٔ تنده وه او نهٔ دلارې ستړیا. کچرې ته خپله لار معلومه وه زما رهنمایی ته نهٔ وه مجبوره .

چې دخَوری تر کوتل واوښتویو وران کلی را ښکاره شو اکبر ویل چې دادشاهي خپلو کوچیانو کلی دی، پهٔ کلي کښې څوك نهٔ وو لهٔ یوې نیمې کوټې پرته نور ټول دپوالونه نړیدلی وودښبارد پهٔ وجه ځای ځای ژوړې کندې را منځته شوې وې چې لهٔ لپدلو څخه یې انسان وحشت کاوهٔ.

چې دشاهي خپلو تر کلي تپر شو مخته یو لوی خوړ راغی پهٔ خوړ کښې نری نری دچینو اوبهٔ روانې وې اکبر ته مې وویل چې کچره ونیسي . رهٔ تري کوز شوم، لاس مخ مې پهٔ یخو اوبو ومنځل او تر لنډ توقف وروسته بیا روان شو.

لږ لار لا نهٔ ووتللي چې یوهٔ بل وران کلي ته ورسېدو داکلی

دکوتي خپلو په‌ٔ نوم یادېدو دلته هم لوبې لوبې کندې ، دېمونو چرې او وران دېوالونه ډېر وو خودحیرانتیا وړ خبره داوه چې په‌ٔ ډیران یو څو چرګې ، دوه اوزې او هلته لرې درنګ دېوال په‌ٔ خوا کښې یو زوړ سپې هم بشکارېدو چې برګ برګ یې زمونږ خواته کتل خو غپل یې نه.

دکلي مخته یوه لویه هدیره وه چې ګنې جنډې پرې ولاړې وې په‌ٔ لومړی نظر پوه شوم چې دشهیدانو هدیره ده ، لاس مې پورته کړ دوعا مې ورته وکړه او ددوی په‌ٔ روی مې خُانته له‌ٔ خدایه «ج» مغفرت وغوښت.

دکوتي خپلو کلی او ورسره هدیره په‌ٔ نسبتاً اوار میدان کښې واقع ده چې شاوخوا ورڅخه تور غرونه را تاو شوي دي، میدان درست دڅېریو په‌ٔ ونو باندې پوښلی او سیمې ته یې دځنګلهٔ بڼه ورکړې ده.

لار دهدېرې په‌ٔ منځ کښې تېره شوې او تقریباً پنځوس ګامه دشمال لورې ته په‌ٔ ښي اړخ کښې دغرهٔ له‌ٔ ډډې څخه یوهٔ لوی خوږ ته کوز پرې.

په‌ٔ خوږ کښې یوه ډرنو او بوچینه او ګنې ونې ولاړې دي، مونږ په‌ٔ چینه کښې له‌ٔ کچرو څخه کوز شو او دخوږ په‌ٔ بله غاړه کښې دلږې غونډۍ په سر خپل مرکز ته ور روان شو .

دماشیندارو زړونه تش شول او دباړونو ازانګې ترلږې ، لرې پورې په‌ٔ غرونو کښې منعکس شوې، مونږ خپل مرکز ته رسېدلي وو او دملګریوپه‌ٔ تاودهٔ هر کلی کښې مو دستومانوونکي سفر تولە ستوماني دځو لحظو دپاره هېره کړه.

محمد صدیق پسرلی



لویه ونه

«لویه ونه وه،دډیروساه به یې پۀ سیوري کښې سمیده اوغرمه به ډیر مسافر ددې تر سیوري لاندې ویده‌وو. ددرست کلې وربانديې رنګ ښه و،دټول اولس په غم ،ښادۍ شریکه وه ،دروغ کلې روغې جوړې به ددې تر چتر لاندې کیدې ،دودونواو پاتاګانوتغرونه به ددې پۀ پښو کښې غوړیدل،دعوتونه اوخیراتونه به ددې پۀ لمن کښې خوندل کیدل،دمیړۀ ژوندې آبرو وربانديې خوندي وه.

ددیرعمر ونه وه،دطفلۍ اوځوانۍ وختی یې دچانۀ پۀ زړۀ کیدې،نۀ وه معلومه چې دابختوره ونه کوم بختور بنیادم پۀ ځۀ نیټ،پۀ کومه زمانه کښې اینبې وه،اوداهم نۀ وه ښکاره، چې چاروزلې اوچا پاللې وه؟ لۀ اټکله داسې ښکاریده چې دکلې ترمشرانوهم مشره وه. فیض یې هم ځکه تر درستوډیررسیدۀ اوپۀ هرچایې یوود سیوری کاوۀ، مشرانوته درست کشران خپل لونه،زامن ښکاریږي اودادواقعي مشرتابه اصول دي، چې واړوته به پۀ یوۀ نظر ګوري اوپۀ ټولوبه یوود مهرباني کوي. ددې مشرۍ پۀ لوړینه کښې هم ځۀ توپیر اوامتیاز نۀ لیدل کیدۀ،دې ته تور،سپین ،نر،ښځه،لوی ،وود،درست خپل ښکاریدل. پۀ واړویې دمینې اوپیرزوینې ځانګې غوړولې اووایه یې پۀ سیوري کښې آرام وو.کلیوالوهم ورته پۀ درنه

سترګه کتل،هیڅاته داحق نۀ وو حاصل، چې یوې ودې څانګې ته یې هم پۀ چپ نظر وګوري.

اولس کۀ بیعلمه و،کۀ بیسواده و.وب؛خوپۀ خیر اوشربنه پوهیده،هر یوۀ ونه دقوم دسر سیوری بلله اوددې وجودیې لوی نعمت ګانه.

یووخت چې لری کلیوته هم دعلم پلوشې راورسیدې ماشومان دلویې ونې پۀ سیوري کښې تورې ډډې ته کښینول شول، چې لۀ تورتکی سره اشنا شي، ډیرولۀ ځانه اوجهانه بیخبرو دلویې ونې پۀ غیږ کښې ځۀ لیك لوست زده کړ،اوپۀ خپل زعم پۀ نبه اوبدپوه شول؛ خوله بده مرغه دونې تنه دلوستو زاودخودنمائی اوشهرت طلبی دمشق تخته وګرزیده،هریوه پۀ تیرۀ چاقووربانديې خپل نوم وکیندۀ.

دوی دونې په سیوری کښې ډیر لوبیدلې وو اوتعلیم یې هم ددې ونې پۀ سیوري کښې حاصل کړی و؛ خودونې پاس خاطریې ونۀ ساتلای شو،یابه نۀ پوهیدله چې ددوی داعمل دونې پۀ ضرر تمامیږي مشرانوهم ددوی لاسونه ونۀ نیول،ځکه چې دوی ورته تعلیم یافته اوپۀ نبۀ بده پوه نبکاریدل. ډیر وخت نه و وتلی، چې دونې بنه مړه ،پانې یې ژړې اوڅانګې یې پۀ وچیدوشوی.

یوه هوښیار سړي وویل: دادونې پۀ ډډ لیکلي نومونه ووچې دلویې ونې زړ، ته یې تباه کوونکې کوخی وې ته ایستې ،لۀ دې لارې دونې منځ لۀ وینو ډك شو اودونې سل کلنی قدرت اوتلاش یې لۀ مینځه یوړ.

پۀ موږ هم دالوبه وشوه ،زموږ وطن هم داسی وران شو اومو ږ هم دسر سیوری داشان لۀ لاسه ورکړ. رښتیا چې هر څه دنا پوهو خودنمایانواودشهرت او قدرت دلیونیانولۀ لاسه تباه کیږی.

د یوهٔ داسې غټ تحقیقي کار پر وخت ولې دومره کتابونه چې ددهٔ پهٔ خیال ددهٔ دورومبنی مقالې پهٔ ځواب کښې لیکل شوي وو «انتظار مناسب ونهٔ ګڼلو» د تحقیق پهٔ کار کښې ددومره بیړې اوعجلې موجبه څهٔ وه؟ پهٔ داسې حال کښې چې داکتابونه د ښاغلي زرین انځور پهٔ قول لرې خونه .همدغه د پېښور پهٔ بېلابېلو کتاب پلورنځیوکښې هم پیدا کیدای شي قلندر صاحب دغو کتابپلورنځیو ته د یو چااستول او د کتابو تر لاسه کول هم «مناست ونهٔ ګڼلو»د کتابو تر لاسه کولوپه ښاغلي قلندرصاحب ته دوې ګټلې رسولې وای. یوه دا چې که یې داعتراض ورخبرې پهٔ کښې موندلې وای، ددوهم وار «جواب الجواب» لهٔ لیکلو به یې اوږې سپکې شوې وای، پهٔ همدې کتاب کښې به یې لهٔ یوهٔ مخه ځواب ویلی وای؛ او که یې کومه پرځای منطقي او مستدله خبره اورپدلې وای نوبیابه پهٔ دې حجم او ضخامت د کتاب کښلو تکلیف ته هم نه وای مجبور شوی څکه قلندر صاحب خو کتاب پهٔ «ښهٔ نیت؟» لیکلی دی !او د ښه نیت لرلو پهٔ صورت کښې د منطقي ځواب منلوته هرومرو تیار دی ،مګر نه،قلندر صاحب وایي (خدای یو مالګې تروې دي) که یې پرپېردم چې ویې نهٔ لیکم .زهٔ «انتظار مناسب نهٔ بولم» پهٔ دې حالت کښې به د قلندر صاحب«ښهٔ نیت» تر پوښتنې لاندې رانهٔ شي؟ لوستونکی به آیا داسې قضاوت ونهٔ کړي، چې ښاغلي مؤلف د «کوم خاص مصلحت »پهٔ خاطر ددې کتاب کښلو ته ملاتړلې ده او پهٔ دې راز قضاوت سره به حق پهٔ جانب نهٔ وي؟ زهٔ خوایم دغوکتابونه «انتظار »مناسب وُ «نهٔ انتظار»یې نامناسب کارُو، چې د قلندرصاحب د «ښهٔ نیت» دعوی

ځیرنمل محمد عارف غروال



پښتو لنډۍ د پښتو د ادب پهٔ تاریخ کښې ځانګړی مقام او حیثیت لري ، پښتو لنډۍ د پښتو د اولسي ادب هغه شعر دی چې د زړونو لهٔ تله راوزی او مستقیماً پهٔ زړونو تاثیرلري او پښتو لنډۍ د پښتو هغه لنډ شعر دی، چې ډیر ستر مطلب پهٔ ډیرو لنډو کلماتو کښې ځایولای شي ځکه دشکل او محتوی لهٔ نظره، دیو بشپړشعر ځای نیسي او هغه دا چې،کهٔ یو مطلب ، پهٔ یو غزل کې بیانیدلای شي، نودپښتو لنډۍ یې پهٔ ډیره اسانۍ، ساد ګۍ او جامعیت سره بیانوي.

دپښتولنډیو دتاریخي قدامت او لرغونتوب په باب ډیرو محققینو او ادب ځیړونکو ځیړنې او تحقیقات کړی دي ځکه خونو زه پهٔ دې باب د تحقیق او ځیړنې فکرنهٔ لرم،بلکې غواړم پر هغه څهٔ وغږیږم ،چې زه یې پهٔ څهٔ لیکلو اړکړی یم او هغه دا چې پهٔ دې وروستیو وختونوکې زما لاس ته د«جهادي لنډۍ» پهٔ نامه یو ښکلی اثر راغی چې پهٔ لومړي نظر سره یې زما توجه او پاملرنه ځانته

راوګرځوله ،چې پاڼې مې يې راواړولې ، نو مؤلف يې زما ادبي همکار او مجاهدورور توريالی ځاځی ؤ او دغه ښکلی اثر يې پخپل قلم ماته اهدا کړی و، د پښتو لنډی او د لنډيو پۀ باب ځۀ ليکل خو هسې هم خوندور وي او لوستونکي پۀ لوستلو مجبور وي، خو زه دوو ټکو ددې خوندور اثر پۀ زر لوستلو اړباسلم او هغه دا چې يو خو يې نوم جذاب او زړه راښکونکی واوبله داچې ليکوال يې زمادوست اوداوردې زمانی ادبی همکارو،ځکه خومې خپل نورکارونه خوشې کړل اوددغه خوندوراثرپۀ لوستلوبوخت شوم،کۀ سړی لۀ حقيقت نه سترګې پټې نۀ کړي،رښتياهم چې دجهادي لنډيودغه اثر زمور دجهادي ادبياتوپۀ بهير کې هغه اثر دی چې دادبي فنکاريولۀ پلوه زيات ارزښت لري.

هسې خودتوريالي ځاځي ليکنې کۀ نثر دی اوکۀ نظم دادبي فنکاريولۀ پلوه دومره زيات تاثيرلۀ ځانه سره لري،چې تۀ به وايې دمنډهيز دغرونوپۀ لمنو کې دهغوشپونکيو دشپيليوازانګی دي،چې د دردمن زړه غمونه پرې تشوي او لاروې پښه نيولې دا وردولارو د مزله ستومانې پرې لرې کوي، د توريالي ځاځي د ادبي نثراونظم ځانګړتيا پۀ دې کې ده چې لوستونکي پۀ ډيره تلوسه کوښښ کوي، دليکوال لۀ زړۀ نه راوتلې کړيکې تر پايه پورې تعقيب کړي او دليکوال دمطلب ټکې ته ځان ورسوي،رښتيا دمطلب اصلي ټکي رانه پاتې شو او هغه «جهادی لنډی»دي چې زمور دفرهنګي سنګر دځوان فکرخاوندليکوال پرې ځۀ ليکلې دي او دجهادي لنډيو يو چاپ يې راايستلی اودجهادي ادب پر ګټوروآثارويې يوبل ګټور آثر ورزيات کړی دی .

«جهادي لنډی» پۀ ښکلي صحافت اوموزونه قطع د۱۲۷۰هـ

ش کال پۀ لومړیوشپو وړځوکې چاپ شوي اودکتاب پیژندنه پۀ دې ډول شوی ده:

نوم : جهادي لنډۍ

لیکوال: توریالي ځاځی

خطاط: نورالدین هنریار

موضوع: دجهادی لنډیو محتوی اومضمون ته لنډه کتنه.

تیراژ: یوزرتوکه.

دخپریدونیټه: ۱۳۷۰هـ ش کال.

دخپریدوځای: پیښور.

قیمت: ۱۰ کلداری.

کتاب لۀ مقدمی سره ۷۸ مخونه دی،فهرست یې پۀ دوو مخونو کې راغلی دی او اهدا یې پۀ دې ډول ده: «هغوبورو میندو، وراره وخویندواوکونډوناووته چې دهغوی دژوبل زړونوزګیروي اوفریادونه تاسی پۀ دغوپانوکې لولئ.

پۀ دې ګټور اوخوندور اثرکې دغه مطالب ځای کړای شوی دي؛ لۀ مقدمی وروسته دلنډیو تعریف،لنډۍ اوټولنیز ژوند،دپښتنو ټولنیز ژوند اواسلام،جومات،حجره،ګودر،اختر،دجهادی لنډیو تاریخ، پۀ لنډیو کې دروسي تیري پر خلاف داولس دمقاومت انعکاس، جهاد،شهادت،دپرګنوچیغې اوفریادونه پۀ لنډیو کې،لنډۍ ددین اوطن ددښمنانو پۀ وړاندې، دپښتو پرګنو دیو ادبي سنګر پۀ حیث،پۀ لنډیو کې لۀ کینې ډکې غضبناکې غندنې،پۀ لنډیو کې داتلانو اوشهیدانو مینه ناکې ستاینې اوپۀ پښتو لنډیو کې دوطن سرکښه مینه.

هو، داهغه مطالب دي چې توریالي ځاځي وړاندې ژوره ځیرنه اوژور فکر کړی دی اوپۀ دې پانوکې پرهغو جهادی لنډیوغږیدلی دی،چې زمور دمسلمان او مجاهد

ملت دسر ښندنو،قربانيو او اتلوليو انعکاس پۀ کې پروت دی، اولۀ يوۀ اوږدۀ تاريخي تسلسل ځخه وروسته يې هغه جهادي لنډۍ انتخاب کړې دي ،چې زمور داتل اوقهرمان ملت دغورځنګونواودماتې خورلې دښمن دسپکاوي راز پۀ کې پروت دی، داثر پۀ پيل کې پخپله توريالی ځاځی وايي:

«زمور دبحث موضوع هغه لنډۍ دي چې پۀ هغوکې پۀ تاريخي لحاظ زمور دمجاهداوجنګيالي اولس ددين،وطن،آزادۍ اوملي ناموس ددفاع اوساتنې ولولې اوجذبات لۀ ورايه ځليږي اودملي مقاومت اومبارزې پۀ ډګرکې دوی ته قوت وربخښي، اوهغه لنډۍ چې پۀ هغوکې زمور دښن ورځې ويرجن حالت تمثيل شوی اودروسې تيرې کوونکو اودهغوی دلاسپوڅو پۀ وراندې داولس دمظلومو پرګنودکرکې،نفرت اوکينې انعکاس اوغضبناکې غندنې اودغه راز دمبارزې او جهاد ويارنه اودشهيدانو ويرنې پکې نغښتې دي».

دمثال پۀ توګه دتوريالي ځاځي لۀ دغه خوندور اثر ځخه دبيلو بيلو موضوع ګانوپۀ اړه ځوجهادي لنډۍ انتخابوو:

جهاد:

ورورجان مې لاړومجاهدشو
دلويوغروزمريان يې مخې ته راځينه
دانقلاب ډيوې بليږی
لۀ هرسنګره دتکبير آوازراځينه

شهادت:

شهيددهروطن شهيد دی
دجنت شمې به زمورشهيدان وينه
زما شهيده ځوانه ورروره
لۀ ارمانونوبه دې جورکړم کتابونه

دپرګنوچيغې اوفريادونه:

پـــهٔ کـــوريې ســـرې لمبـــې شه بـلې
چې کورپه کوريې راپه برخه کړل ويـــرونه
خـــدايـه هغـه ساعت بـــه کـــوم وې
چې په تورخم کې کډې وراندې وروسته ځينه

ادبي سنګر:

دغروسروکې غلبلې شوی مجاهدين دسرورروسانوجنګ ته ځينه
دمدينې سردارخبرکړی چې پرافغان باندې روسان ظلم کوينه

غضبناکې غندنی؛

دوطن فروش کارمل له لاسه
روســان کـورونه رنګوې مـالـونه وړينه
دنابغه پهٔ ګـور اور بـل کـړئ
پهٔ درسـت وطن يې لګولې سره اورونه
اناهيتـاچې هـنـــد تـه لاړه
دروس لپـاره درمـــسال جـاروکـوينـه

داتلانواو شهيدانوياد:

ای جاني خيـله خـدای دې مـل شه
تـهٔ رانه لاړې زه يوازې پاتې شومه
دادسپـورمـې شهـيـدپهٔ تـوره
کابل رناشوسره روسان پهٔ ماتې ځينه

دسپين جـــومات ترمـخې جـنګ و
تاج ګل خان وخوت دخلقيانوپهٔ تانکونه
چې جنت ګل پهٔ لښـکرګـډشـو
خلقيانو جګ کړل دتسليم پهٔ دودلاسونه

دوطن مينه:

جانانه ځه پهٔ کابل جنګ دی
پهٔ وطن ننګ دی پهٔ دښمن وکړه بريدونه
اوښکې لهٔ سترګونه بهيږی

چې راپۀ یادشي دکابل شینکي باغونه
مادپکتیاترغرونوجارکړي
چې پکي مات شول دروسانوکتارونه
پۀ کندهار کې غلبلې دي
بمونه اوري غازیان شنه شي وخاندینه
له ملالې نه کمه نۀ یم
زه دمیوند په جاده ځان قربانومه
پۀ دې توګه مور پۀ داسې حال کې چې توریالي
ځاځي ته ددغه ګټور اثر دچاپ مبارکي وایو،دلوی
اومهربان خدای(ج) پۀ دربار کې سوال کوو،چې زمور
ددغه مجاهدورور پۀ قلم اومتهو کې برکت واچوي چې دغه
نیولې سیخه لار تعقیب کړي، درنو لوستونکوته بلنه ورکوو،چې
ددې اثرپۀ لوستلو نۀ یوازی خپله ادبي تنده ماته کړي
بلکې دخپل مسلمان اومجاهدملت داتلولیواوسرښندنو،کړاوونو
اوویرونو،مایوسیواوپردیسیواوبالاخره دقوي عزم اوارادې پۀ
رازونوځانونه خبرکړي.

$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$

دلا، گر طبعِ تو غیرت بود
نباید اطاعت بہ غیرت بود

پروین فیض زاده ملال

وخته راستون شه

وخته راستون شه
چې دتورو شپو په تورپوډني
دسپوږمۍ ځاځکي
لاتر اوسه اوریدلې نۀ دي
لاسره ورکو دآسمان پۀ لاجوردي تټرکښې
دسپینوستورو ګلالۍ خنداته
خوږوکتوکې لاخوارۀ خوارۀ کتلې نۀ دي

وخته راستون شه
چې دچا پۀ زړۀ ختلې لرکښې
لاپسرلی دنامرادوهیلو
ددروغجن تصویر پۀ شانې
راشین شوی نۀ دی
اودځوانۍ ملال،ملال کاتۀ یې
چې دښوډتورو شپو پۀ غیږ کښې
لاویده شوي نۀ دي

وخته راستون شه
چې دچا پۀ تار پيلې نظر
ديوه ماشوم ديوه کوچني پۀ شاني
دچا معصوم ملال کاته لازنګيدلي نۀ دي
اويايي دسترګو زينتي پيالوکښې
دتمنا پۀ لپو
شراب دمينې
ورشيندلي نۀ دي

وخته راستون شه
چې کيسه دګريوان نيمه پاته
لادکنمان پۀ لارو
دمصر ستړي کاروان
دساراشکې ښکلوي پۀ پلونو
اوديعقوب (ع) دتمنا تلوسې
پۀ ريږديد لو لاسو
دقاصدانو دراتلو زيرې
پۀ زړه توکوی
وخته راستون شه

ادبی او فرهنګی خبرونه

د ۱۹۹۱ ع کال دمی پۀ لومړیۍ نیټه (د ۱۳۷۰ ش د ثور ۱۱) درحمان ادبي - جرګې لۀ خوا د پیښور پۀ ګوهر پیلس هوټل کښې د رحمان بابا د ژوندانو فن

پهٔ باب یو ور ځینی سیمینار جوړشوی و. پهٔ دې سیمینار کښې دغو لیکوالو خپلې مقالې ولوستلې:
همیش خلیل، حبیب الله رفیع،فهم دل راهي ، مفلس درانې ، قمرالزمان قمرطایزی او محمدپرویش شاهین



په زیانمنه کېږي .

ښه،دا خو د مسئلې یو اړخ وُ.دوهم اړخ دادئ :

لهٔ ما سره ځینې دلایل شته چې د هغو لهٔ مخې ویلای شم،چې قلندرصاحب ته داټول یاد شوي کتابونه خونه،مگر د محمد هوتك یاد کتاب هرومرو رسېدلی دی ! تاسې دې لاندې اقتباسونو ته ښهٔ ځیر شئ.

قلندر صاحب لیکي «د پټې خزانې د آخري کاتب **محمدعباس کاسي** د جملې «باستعجال تمام قلمی شد» په عذر د رحمان باباد وفات کال که «۱۱۲۸هـ په ځای «۱۱۱۸هـ لیکل دسهوکتابت نتیجه وګڼلی شي... نو پهٔ اعدادو کښې خوځهٔ یو والی شته چې دهغې پهٔ غلط بنیاد دعوی شوې ده »(د پټه خزانه في المیزان ۱۸۰ مخ)

اوس باید داپوښتنه وشي، چې قلندر صاحب د افغاني لیکوالو پورتنۍ «دعوی» چېرې لوستلې ده؟ او لهٔ کوم اثر څخه یې استفاده کړې ده ؟ دی خو «صریح مأخذ» نهٔ ښیي (محمدهوتك عاجز بیا پهٔ لسګونو ځایه پهٔ دې خاطر ملامتوي، چې ولې یې «ماخذ» نه دی ښوولی ! پر دې موضوع به وروسته وروغږم) دوی ته خو صرف د محمد هوتك ژوند او مزار د مسودې پهٔ دوران کښې ور رسېدلی وهٔ». د نومورې کتاب پهٔ ۳۲ مخ کښې د رحمان بابا د وفات د نېټې پهٔ باب داسې ویل شوي دي «دپښتو پیاوړي او نو میالي محقق پوهاند عبدالشکور «رشاد» دا ثابته کړې ده، چې پهٔ پټه خزانه کښې د رحمان بابا د مرګ کال ۱۱۱۸هـ ق

ښوول یوه هندسي تېروتنه ده، چې د کاتب لهٔ تلواره پېښه ده او سهي نېټه ۱۱۲۸هـ ق ده. نومورې محقق استاد د یونس خیبري پهٔ دیوان کښې د رحمان بابا د مرثیې لهٔ یوهٔ بیته هم دا خبره زباته کړې ده چې د

دغه رازد می پۀ دریمه او څلورمه نیټه د همدغې جرګې لۀ خوا د رحمان بابا پر مزار یوه درنه مشاعره وشوه چې ګڼ شمیر شاعرانو خپل شعرونه او نظمونه پۀ کښې واورول .

***

* د روان کال د ثور پۀ ۲۱-۲۳ (۱۹۹۱ ع د می ۱۱-۱۳) د افغانستان د جهاد د ثقافتي شورى لۀ خوا د افغانستان پۀ راتلونکي ټولنه کښې دډله ییزورسندویو په باب یو علمي سیمینار جوړ شوی و.پۀ دغه سیمینارکښې دافغانستان دمطبوعاتو،رادیو،تلویزیون اوسینما پربیلابیلو مسایلو،تاریخي سیر او راتلونکو



امیدونو او د بیا رغاونې پۀ هکله مقالې واورولې شوې او پرهره مقاله آزاد بحثونه وشول. پۀ سیمینار کښې دغه مقالې بحث ته وراندې شوې :

- دین مقدس اسلام وسایل اعلام - ددوکتور عنایت الله ابلاغ مقاله .

ـ اساسات اسلام و فلسفۀ آزادی مطبوعات ، د حبیب الله غالب مقاله .

ـ دمطبوعاتوله لاری اسلامي دعوت ... د مولانا محمدگلاب بشارمقاله.

ـ وسایل اعلام و طرزوسبك نشرات جمعی درجامعۀ اسلامی ـ دعبدالحق عتید مقاله.

ـنقش آزادی بیان درجهت بخشیدن آرای عمومي ـ د عبدالمالك جوهرصدیقي مقاله.

ـقانون مطبوعات ـ ددوکتورمحمدظاهرصدیق مقاله .

ـ افغاني مهالنی خپرونې ـ دحبیب الله رفیع مقاله.

ـ مطبوعات غیر دولتی قبل از کودتای هفت ثور ـ دمحمد شفیق وجدان مقاله .

ـ پۀ افغانستان کښي رادیو تاریخچه او د ثور ترکودتا وروسته رادیویي انکشافات اوانحرافات ـ د محمد زرین انځور مقاله .

ـ نگاه مختصربرتلویزیون وسینما ـ دسامعه ساعی مقاله.

ـ پۀ افغانستان کښي د تلویزیون د فعالیدلو اوورسره دروسي کولو پروسه ـ د میاگل آروال مقاله.

ـ زمور پۀ راتلو نکي اسلامي ټولنه کښي دتلویزیون رول ـ دمحمد شفیق وجدان مقاله.

ـ وظایف وبرنامه ریزی رادیو وتلویزیون در جامعۀ آیندۀ افغانستان: د شاه آقا مجیدی مقاله.

ـ تاریخچۀ فلم درافغانستان وآینده فلم در فردای افغانستان اسلامی ـ د استاد محمد یوسف آینه مقاله.

ـ نقش زن در مطبوعات ـ د فاطمه امعبدالله مقاله.

ـ د مجاهدینو د مطبوعاتو پیل او پر اختیا ـ د شهرت ننگیال مقاله

ـ نکاهی به مطبوعات مهاجر درایران ـ دمحمداکبر

ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر و یامرون بالمعروف و ینهون عن المنکر.
شورای ثقافتی جهاد افغانستان
سیمینار وسایل ارتباط جمعی در جامعه آینده افغانستان
۲۷-۳۰ سنبله
۲۱-۲۴ سنبله
۱۱-۱۴ سنبله

عشیق مقاله.

- مطبوعات کمونیستی درافغانستان - د پوهاند حبیب الرحمن هاله مقاله .

- تعلیمات ژورنالیزم در افغانستان - د پوهاند حبیب الرحمن هاله مقاله.

دکتاب خپرونې بهیر - د حبیب الله رفیع مقاله .

- نقش وسایل ارتباط جمعی در فردای افغانستان اسلامی - د عبدالحفیظ منصور مقاله.

- ادارهٔ وسایل ارتباط جمعی در جامعهٔ آیندهٔ افغانستان - د نورمحمد رحیمی مقاله.

- ملکیت وتمویل وسایل ارتباط جمعی درجامعهٔ آیندهٔ افغانستان - د صباح الدین کشککی مقاله.

- نقش اقمارمصنوعی درتسریع وسایل ارتباط جمعی - د میرمن نیلیس اوکلې مقاله.

- پۀ پای کښې دسیمینارپریکړه لیک دسیمینارد منشي لۀ خوا ولوستل شو . د افغانستان د مطبوعاتو

د تاریخي لوړو ژورو پۀ باب او پۀ راتلونکي آزاد افغانستان کښي دمطبوعاتو، راډیو او تلویزیون درغاونې پراختیااو پرمختیا پۀ باب د افغانستان د جهاد د ثقافتي شورى دغه سیمناریو نیك اقدام و. دهمداسي نورو ګټورو علمي هر اړخیز هلو ځلو پۀ امید.

****

* د ۱۳۷۰ ش دسرطان پۀ شپږمه(پنجشنبي پۀ ورځ (د ۱۹۹۱ دجون ۲۷) داغفانستان دکلتوري ټولني «د میرعلیشیر نوایی هنرى کورسونه » ددى ټولنى په دفتر کښى پرانیستل شول.

په دغه غونډه کښى دهیواد یوشمیر لیکوالو، هنرمندانو او ددغه کورس شاګردانو ګډون درلود.



په پیل کښې د قرآن عظیم الشان څو مبارک آیتونه تلاوت شول ، بیا د افغانستان دکلتوري ټولنې مشر محمد صدیق پسرلی خپله پرانستونکې وینا



واوروله. هغۀ وویل چې زمونږ د کلتوري ټولنې امکانات سره لۀ دې چې ډیر محدود دي ، خو دغه ټول امکانات د وطن د فرهنګ ، هنر او ادب د غوړونې خدمت ته وراندې کوواو ددغو هنري کورسونو جوړیدل پۀ دې لاره کښې یوه دصمیمیت هڅه ده. ورپسې ددغو کورسونو یو تن استاد او د هیواد ځوان هنرمند ازهرهروی وینا وکړه او د کورسونو په باب یې معلومات وراندې کړل .

د افغانستان دکلتوري ټولنې پۀ چوکات کښې «د میر علیشیر نوایی هنري کورسونه »سمدلاسه پۀ دریو هنري برخو : (خطاطی ، نقاشی او میناتورګ)



کښې فعال شوي او د شپیتو تنو په شاار خوا کښې شاګردان لري .

دویرکښې...

برات محمد سودا شاعر مجاهد کشور به روز سه شنبه ۱۱ سرطان ۱۳۷۰هـ ش (۳جولای ۱۹۹۱میلادی) در شهر پشاور پاکستان دیده از جهان فروبست انا لله وانا الیه راجعون.

سودا به سال ۱۳۲۰ شمسی در ولسوالی جرم ولایت بدخشان دیده به جهان گشود .

تحصیلاتش را تا صنف یازدهم در لیسه غیاثی جرم به پایان رسانید، به سال ۱۳۴۳ شمسی در لیسه موصوف بحیث معلم مقرر گردید واز سال ۱۳۵۱ به بعد در ولایت بدخشان به وظایف گوناگون اشتغال داشت.

سودا پس از فاجعه ثور همراه با دیگر مجاهدان راهی سنگر شد وپس از مدتی به پاکستان هجرت نمود، او در محیط هجرت وظایف گوناگون جهادی را به سر رساند وبه سرایش اشعار جهادی دین خویش را در برابر ملت وطن به سر رسانید وسر انجام در اثر مریضی که عاید حالش بود جهان فانی را وداع گفت.

روانش شاد باد

عاقبت منزل ما وادی خاموشان است
حالیا غلغله در گنبد افلاک انداز

——— حافظ

دزماني اعتبار

هغه يار چې بې وفا دی څه يارنۀ دی
هغه کار چه بې بقادی څه کار نۀ دی
کۀ دسر سنـــندل دشوار پۀ ما او تادي
دا پۀ عشق کښې سهل کاردی دشوار نۀ دی
اندیشه سړی بیدار کاندی لـۀ خوبـــه
کم اندیشه کۀ بیدار وي بیدار نۀ دی
کۀ څه عمر دی عاشق لـره وصال دی
دهجران عمر د عمر پۀ شمـار نـۀ دی
دچشمانو پۀ ځمبل کښې تیروبیـرشي
اعتبار دزمانې اعتبـار نـۀ دی
کۀ دسلو زویو پلارشي، به یې څۀ کا
بې وقوفه زوی دپلار څه پۀ کار نۀ دی
معشوقې همیشه ناز پۀ عاشق کانـدي
رحمان هیڅ لۀ خپله یاره آزار نـۀ دی

رحمان بابا

SPEDE

Bi - Monthly
Literary and cultural Publication
May - June 1991



Second Cycle
Vol,2, No: 1
Serial No: 28

بابا د مرګ کال ۱۱۲۸هـ ق سهي خپړي.»

د محمد هوتک ژوند او مزار د کتاب پورتنی عبارت او د قلندر صاحب د کتاب د (۱۸۰) مخ عبارت خود مفهوم او مطلب پهٔ لحاظ سره ورته دی، مګر د کلماتو د ادا کولو پهٔ برخه کښې زیات توپیر لري او زهٔ پهٔ جرات سره ویلای شم، چې د قلندرصاحب د بیان مأخذ د محمدهوتک ژوند او مزار کتاب نه دی.نوماخذ یې کوم اثر دئ؟ راشئ د محمد هوتک یاد پهٔ کتاب کښې د پښتو د نومیالي محقق پوهاند عبدالشکور «رشاد» مقالې ته مراجعه وکړو. د کتاب پهٔ ۴۸ مخ کښې فاضل استاد داسې لیکي «د پټې خزانې» د خطي نسخې پهٔ ۴۵مخ چې د رحمان باباد مرګ کال د ۱۱۲۸هـ ق پر ځای پهٔ عدد سره ۱۱۱۸ هـ ق ښوول شوی دی، سهو الفکرنهٔ دی دا یوه عددي تېروتنه ده، چې د مطلوبې سنې د عشراتو پهٔ کور کښې پیدا شوېده، کیدای شي ددې سهوالقلم سبب د پټې خزانې د نقل کوونکي هغه تلوار وي ،چې د کتاب پهٔ پای کښې د «باستعجال تمام قلمي شد»پهٔ جمله سره د هغهٔ عذر غوښتی دی»د قلندر صاحب د عبارت او د محمد هوتک یاد پهٔ کتاب کښې د فاضل محقق پوهاند رشاد صاحب د عبارت تر منځ پهٔ دې لاندې کلماتو کښې واضح اشتراک شته ؛

الف ـ «باستعجال تمام قلمی شد» جمله پهٔ دواړو عبارتو کښې شته، پهٔ داسې حال کښې د محمد هوتک ژوند او مزار کتاب پهٔ عبارت کښې نهٔ شته، هلته «د کاتب تلوار» راغلی دی.

ب ـ د «عذر غوښتنه» پهٔ دواړو عبارتو کښې شته د محمدهوتک ژونداومزار پهٔ کتاب کښې خوهډو د «عذر» ذکر نه دی راغلی.

ج- د رشاد صاحب د «سهوالقلم» ترکيب د قلندرصاحب پهٔ عبارت کښې پهٔ سهوکتابت اړول شوی دی، چې مطلب ددواړو يو دی، د «سهوکتابت» ترکيب د قلندر صاحب له خوا ابداع نه ده؛ بلکې د رشاد صاحب د «سهوالقلم» ترکيب څخه مأخوذ دی.د محمدهوتک ژوند او مزار پهٔ کتاب کښې خودا ترکيب بالکل اخستل شوی نهٔ دی.

لهٔ دې مقايسې څخه صفادانتيجه راوځي، چې بښاغلي قلندر صاحب ته د فاضل استاد رشاد نومورې مضمون رسپدلی او لوستلی يې دی. دا مضمون د بحمد هوتک ياد پهٔ کتاب او دغه راز د کابل مجلې د ۱۳٦۱هـ ش د ۴-۵ گڼې پهٔ ۱۵ مخ کښې چاپ شوی دی ، د کابل مجلې نومورې گڼه خو بښاغل قلندر صاحب ته نهٔ ده رسپدلې،ولې چې دغې گڼې ته يې د خپل کتاب پهٔ ۲۱۲ مخ کښې د محمد هوتک ژوند او مزار پهٔ حواله اشاره کړې ده؛ نو د استاد رشاد صاحب دا مضمون به يې د (محمدهوتک ياد) کتاب پرته پهٔ بل کوم ځای کښې لوستلی وی؟ چې خبره داسې ده نو د قلندر صاحب ددې ادعا پهٔ وړاندې، چې دهٔ، ته «صرف» د محمد هوتک ژوند او مزار کتاب د مسودې پهٔ دوران کښې رسپدلی دی» او (دمحمد هوتک ياد) کتاب نهٔ دی ورسپدلی بايد پهٔ ډپراحترام عرض وکړم داکتاب رسپدلی دی او پهٔ دې مورد کښې که مونږ لهٔ قلندرصاحب سپره «ډپره فياضي» وکړو او «کوم الزام» پرې ونهٔ لګوو؛ نو دومره خوبه ووايو، چې ددې رډانکار پهٔ خاطر به «د خدایج پهٔ مخکښې ځواب وايي.» اوس چې (د محمد هوتک ياد) کتاب دنه رسپدلوادعا د قلندر صاحب دخپل کتاب پهٔ داخلي شهادت باطله شوه، دې خبرې ته به راشو چې د محمد

هوتك ژوند او مزار كتاب خو وررسيدلى دى.نوولې ددې كتاب د مطالبو پهٔ باب چوپ پاتې دى، پهٔ دې كتاب كښې خود بښاغلي قلندر صاحب ځينواعتراضونو ته ځواب ويل شوى دى. زهٔ د بښاغلي ورور زرين انځور لهٔ دې خبرې سره بالكل موافق يم، چې وايي «بښاغلى ليكوال قلندر مومند ... ته كه پهٔ همدغه تحقيقي بهير كښې ځهٔ داسې سندونه پهٔ نظر ورغلي دي،چې دغه سندونه د هغهٔ لهٔ نظر سره سمون نهٔ خوري، هغه يې هيڅ راخيستې نهٔ دي، يوازې د خپل نظر د ملاتړلهٔ پاره پهٔ سندونو (اويا هغه د چا خبره پهٔ دستاويزاتو) پسې ګرځيدلى دى».

بښاغلي قلندر مومند صاحب ته كه د خپل نظر پر خلاف ډيره منطقي اومستدله خبره هم په نظر ورغلي ده،پر هغه يې هم سترګې پټې كړې دي. درانه لوستونكي دې لاندې كرښوته ځيرشي.

قلندر صاحب د خپل كتاب پهٔ ۱۸ مخ كښې د محمد هوتك ددې يادونې پهٔ باب چې د پټې خزانې پهٔ كښلويې د ۱۱۴۱هـ ق كال د جمادى الثاني پهٔ ۱۴ د جمعې پهٔ ورځ شروع وكړه،ليكي چې دجمادى الثاني شپاړسمه د جمعې ورځ نه،بلكې د (پير)يا دوشنبې ورځ وه. دا خبره سمه ده او رښتياهم دانپټه پهٔ پټه خزانه كښې سمه نهٔ ده ثبت شوې دا تپروتنه مورِ هم منواو ارواښاد علامه حبيبي ددې نپټې پهٔ برخه كښې داسې رايه لري:«دلته زمايقين دى چې پهٔ كتاب كښې يو عدد زيات شوى دى ځكه چې ددغې مياشتې لومړۍ جمعه د جمادى الاخرى شپږمه ده او دغه شپږمه كاتب د يوهٔ عدد پهٔ زياتولو شپاړس كړې ده، بايد د پوهانو له خوا تصحيح شي ... دا زماحدس به

ځکه سم وي، چې د کتاب په پای کښې يې د ختم نېټه د جمعې ورځ ۲۴ د شوال سنه ۱۱۴۲هـ (ص ۱۱۲) کښلې ده او که مونږ دغه تطبيقي تقويم ته وګورو،نو ددغه کال د شوال لومړۍ ورځ شنبه او ځلیرویشتم يې جمعه ده (ص ۹۷ زیبولسکی)چې دغه تاریخ بیا صحیح رانقل شوی دی او د کاتب له ظالمه قلمه ژغورل شوی دی » (د محمد هوتك ژوندا ومزار ـ ۳۴ مخ)

دعلامه حبیبي مرحوم پورتنۍ تصحیح د محمد هوتك یاد کتاب په ۴ مخ کښې هم راغلې ده اولکه مخکښې چې مې وویل دا کتاب ښاغلي قلندر صاحب ته رسېدلی دی.د محمدهوتك ژوند او مزار خویې ددهٔ په خپل قول په واك کښې وُ؛نو د علامه مرحوم پورتنۍ توضیح او تصحیح ته ولې چوپ پاته شوی دی. دلته ددوو حالتو احتمال شته. یا به له پورتنۍ توضیح سره موافق وي او د علامه حبیبي یادونه او تصحیح به پرځای بولي (او باید ویې بولي) نو په دې صورت کښې د (زرې غرکې بیا شاربلو)ته څهٔ ضرورت و؟ او یا به لهٔ پورتنۍ توضیح سره مخالف وُ؛ نو یې بیا ولې د خپل مخالفت دلایل نهٔ دي ویلي؟

زهٔ خو وایم چې د اروښاد علامه حبیبي څرګندونې د ښاغلي قلندر صاحب لهٔ پاره د قناعت وړدي ،ځکه که یې د (رد) لهٔ پاره لږځهٔ درلودای، نهٔ یې سپمول او لیکل یې. ددوی پټه خوله د توافق نخښه ده؛ ځکه پښتانه وایي «پټه خوله اقرار دی » خو د مطلب تکی دادی چې ددې ضمني توافق په موجودیت کښې دا (زرې بابولالې) بیا تکرارول به آیا د ښاغلي قلندر صاحب (ښهٔ نیت !) ته ورانی پېښې نهٔ کړي؟ تاسې دا لاندې عبارت ته ځیرشئ چې قلندر صاحب د علامه حبیبي مرحوم لهٔ بشپړې علمي تصحیح سره سره چې

پۀ هیڅ ډول د (ردیدو) نۀ ده بیا هم زړه بابولاله وایي «که دا ثابته شي چې ۱۶ جمادی الثاني ۱۱۴۱ هـ ق د جمعې ورځ نۀ وه؛ نو د پټې خزانې ټول عمارت به راپرپوځي او یو دلیل به هم قاري پۀ دې قانع نۀ کړي شي چې ګوندې دې کتاب کښې څۀ اصلیت شته.»(۱۸ مخ) د قانع کوونکي ځواب پۀ شتۀ والي کښې د دغه راز نهایي حکم صادرول به د لوستونکیو او راتلونکي نسل لۀ «ګمراه کیدو» پرته بله کومه نتیجه ولري؟ د کاتب لۀ خوا د (۶) پرځای (۱۶) لیکل، یا پۀ بل عبارت دومره کوچنۍ هندسي تېروتنه دومره لویه ګناه ده، چې پۀ اثبات یې باید د یو کتاب «ټول عمارت راپرپوځي» پۀ هغۀ کتاب کښې چې د بناغلي قلندرصاحب پۀ واک کښې دی، یعنې (د محمد هوتک ژوند او مزار) کښې خو ددغه راز تېروتنو یو دوه نور مثالونه هم ښودل شوي دي، چې کاتب «د ۱۲۲۸ هـ ق درمضان المبارک ۲۸ ددوشنبې ورځ» لیکلې، مګر د عبدالقدوس هاشمي ه تقویم **تاریخي لۀ مخې دوشنبې نه بلکه (شنبه) ده، د غه کتاب د شمس الدین قصه جرجیس نومیږي او لږ** خونه، د پېښور د پښتو اکیډیمۍ پۀ خطي نسخو کښې (د بناغلي هیواد مل قول) شته. پۀ بل مثال کښې کاتب د ۱۲۸۱هـ کال د ربیع الاول لومړۍ نېټه دوشنبې کښلې، مګر ددغې میاشتې اوله د پنجشنبې ورځ ده (محمدهوتک) ژوند او مزار ۳۴ ـ ۳۵ مخونه).

پورتني مثالونه به بناغلي معترض هرومرو لوستلي او منلي یې هم وي؛ ځکه چې پټه خوله د اقرار علامه (نخښه) ده، نو بیا د خپلې ادعا دوهم وار تکرارول به دیوۀ «خاص مصلحت» لۀ مخې نۀ وي "قضاوت" به لوستونکو ته پریږدو چې پټه خزانه «ګمراه

کوونکی »اثردی او که« میزان »یې ؟ پته خزانه به د "خاصو مصلحتونو »لهٔ مخې کښل شوې وې که «پته خزانه فی المیزان ».

پهٔ همدې دول (د محمدهوتك ژوند او مزار کښې) دښاغلي قلندر نورو اعتراضونو ته هم ځواب ویل شوی دی دا چې د « تشویق »کلمه د افغانستان د جدیدې فارسۍ زېږنده بولي، پهٔ نومورې کتاب ۱۰۲ مخ یې ځواب د مروجوقاموسونو پهٔ استناد ویل شوی دی. دا کلمه لرغونې ثابته شوې ده.

یادا چې د ښاغلي معترض (قلندر صاحب) پهٔ پته خزانه کښې د خپسر. ترو. ځبله . نه ـ ځخو ... کلمونهٔ شته والی دکتاب د «جدیدیت » نخښه بولي.دې اعتراض ته هم د محمدهوتك ژوندا و مزار کتاب پهٔ ۱۰۲ مخ کښې ځواب شته، مګر د معترض صاحب له خواپر نومورېو ځوابوبرسپره دخپلو اعتراضونو بیا تکرارول او زارهٔ دول ته لرګي اچول به بله څهٔ معناولري،بې لهٔ دې چې څوك ووایي؛ ښاغلي قلندر د پښتنولهٔ راتلونکي نسل څخه د(لارې لیکې) ورکولو تکل کړی دی. خدایږوکه لهٔ دې کاره لاس واخلي ! پهٔ پته خزانه فی المیزان کښې یو اعتراض دادی چې محمدهوتك ولې «د موضوع د ختمېدونه پس » د فصل لفظ نهٔ دی کښلی.ولې پهٔ «سورخط » فصل یا «ذکرد... نه دی لیکلی (د کتاب ۴ مخ) ،ولې یې «ژب ،نورو ، حیوانات،نشت » د ژبو،نور،حیواناتو،نشته پرځای نهٔ دي لیکلي (د کتاب ۵ مخ) داځکه چې متقدمینو به همداسې کول ! یا یې ولې کتاب پر درېو برخو ویشلی دی؟ ځکه چې «متقدمینو»به دا راز وېش نهٔ کاوهٔ !

اول خو مور ته دانهٔ ده معلومه چې محمد هوتك به پهٔ

خپل لاس کښې (پټه خزانه) کښې څۀ ډول رنګ استعمال کړی وي ـ تور که سور که بل رنګ؟ دا ځکه چې اوسنۍ نسخه چې افغانستان پۀ ملي آرشیف کښې خوندي ده، دریم نقل دی، چې دسردار مهر دلخان نسخه به لۀ اصل څخه نقل شوې وي، که لۀ کوم بل نقل څخه .

بل داچې د ښاغلي قلندر صاحب پۀ نظر «متقدمین» یوه داسې منسجمه اوپریوۀ اکاډیمیک مرکز ټول ټولی وُ چې لۀ کندهاره تر اټکه یې دکتاب دترتیب مشترك اصول درلودل اوپالل یې ، دلیکدود پۀ باب مشترکې فیصلې ته رسیدلې وۀ او یې لۀ انحرافه یې پالله، حتی دکتابت پۀ برخه کښې درنګو داستعمال پۀ باب یې واحد موقف درلود ، پرُاولاړ ووا وپالۀ یې

که داسې وي نو محمد هوتك رښتیا هم مقصر دی.

مګر خبره داسې نۀ ده.« متقدمین» خولا پرپږده همدا اوس د« کمپیوټر » پۀ عصر کښې لاهم دکتابو دترتیب او لیکدود ګډ اصول اوګډه طریقه نۀ پالل کیږي ،آیا دغه راز لیکدود چې پۀ « پټه خزانه فی المیزان» کښې تعقیب شوی دی لۀ نورو سره توپیر نۀ لري؟ آیا نور لیکوال (په ـ وه ـ نه ـ ورد ،خلۀ ،لُست...) پۀ همدې شکل کاږي ؟ مور لۀ مشترکو فیصلو سره سره نۀ یو قادر شوي، چې دکابل او پېښور تر منځ د(ن) او(نړ) پر سر اختلاف پۀ بشپړه توګه حل کړو اوواحد لیکدودوپالو؟ مګر ښاغلي قلندر صاحب «متقدمین» دداسې املایي اصولو پابند ګڼي چې سرغړونه یې دکتاب د« جعلیت» دستاوپز ثبوت کیږي.

لۀ ما سره همداوس دمیرزاخان بارکزي ددیوان یوه خطي نسخه ده، چې غالباً به دشاعر پۀ خپل قلم کښل شوې وي، داستنساخ کال یې ۱۲۸۰ ه ق دی، یعنې دپټې خزانې ددریم نقل تر کتابت ۲۲ کاله دمخه لیکل شوې ده، مګر

لوروله،چارباندی دګلوګوزار(سالم نقد) کړی.چارانه تمه کړی،چاځۍ چاځۍ...مور دغوټولو درنوته چې دخپلې کمزورۍ لۍ امله اویایې تخنیکي ستونزې وبولئ یوۍ یوۍ تۍ پۍ ځواب ورکولوکښې پاتې راغلې یو،پۍ ډیره مینه او مننه کوړ ودانی وایو اودخدای پۍ ستر دربارکښې ورته دعاکووچې:

"خدایه!

زمور دغه دوستان پۍ ژوندنیوستونزواوپلندیوکښې دومره مۍ ښکیلوه اوستومانوه،چې مور تري هیر شواو داراته پلمه اوعذرکاندي چې:روزګارستړی دی،فرصت نۍ شته ،وسایل اوامکانات دمرغۍ پې دي،لاس موتش دی او..."

هن!!

ددغوځرګندونوترڅنګ راته دهغودوستانوپه باب چې لۍ مور سره دمادي اومعنوي ټرون دټینګښت پرځای دپلموپۍ لټه کښې دي،دالفت صاحب(مرحوم)هغه د(هاینه)لۍ خولې رااخیستې خبره رایادیږي،چې وایي:

«ځینوپۍ خپل عشق وځورولم،ځینومې پۍ کینه زړه آزار کړ،چامې دعشق پۍ زهروډوډۍ ولړله،چامې دشرابوپۍ پیاله کښې دکینې زهرتوی کړه؛

مګرلۍ هرچانه هغه چادیر وځورولم،چې نۍ یې راسره کینه پیداشوه اونۍ مینه.»

یوځل بیا مننه

xxxxxxxxxxxxxxxxxxxxxx

دقلندر صاحب دغه لیکدودي اصول چې « متقدمینو » ته یې وضع کړي دي ، په کښې مراعات شوي نه دي . لیکدود یې تر زیاتې اندازې لې پتې خزانې سره ورته دی .حتی دکتابت کال یې په هندسه (۱۲۸۰) اوپه توریو (الف مائتین خمسین) کښلی دی .مګرما او هېڅ واقعبین لوستونکي ته داخبره په زړه کښې لاهم نه راګرځي، چې ګویا دانسخه « جعلي » ده اودسنې داختلاف په وجه به یې « ټول عمارت راپرېوځي ». (محترم لوستونکي دې دمیرزاحنان بارکزي ددیوان نوي چاپ ته مراجعه وکړي، چې ددې کرښو دلیکونکي له خواسرکال خپورشوی دی).

زما په شخصي کتب خانه کښې په لسګونو داسې قلمي نسخې شته، چې په یوه عصر کښې لیکل شوي دي، خو املایي توپیر یې خورا ډېر دی، زه په یقین سره ویلای شم،چې داراز مواردبه دقلندرصاحب ترسترګو شوي وي؛ ځکه خطي نسخې یې زیاتې لېدلې اوکتلې دي ،صرف درحمان بابا ددیوان (۱۶)نسخې یې کتلې دي.(پته خزانه في المیزان « ۱۹ » مخ).

« پر صفحاتو باندې په هندسو کښې « دشمېر دلیکلو په باب د(پته خزانه فی المیزان) په شپږم مخ کښې لولو:

« که دنولسمې صدۍ بله یوه نسخه کښې چرې دصفحاتو شمېر په هندسو کښې راوښیلی شي نوزما اعتراض به غلط شي »دمحمد هوتک ژوند اومزار کتاب په ۲۶ مخ کښې ښاغلي هېوادمل اووه، اته داسې خطي نسخې راښوولې، چې دپانې نومره لري اوزیاتره یې دپښتور دپښتو اکیډمۍ په خطي کتابونوکښې خوندي دي ، دانسخې که ښاغلي قلندر صاحب کتلې نه وي، دهیواد مل صاحب دیادونې په صورت خوبه یې هرو مرو پر ځان داتکلیف منلی وي چې آیا په رښتیا سره دانسخې دپانو نومرې لري، که یه ؟ داتحقیق یې ضرور کړی دی خو موضوع بیا له سره شاربې . نه پوهېږم چې ولې ؟

داوو،اتو نسخو ښودل آیا دقلندر صاحب «چپلنج»نهٔ ماتوي . دخپل کتاب (پټه خزانه فی المیزان) پهٔ اووم مخ کښې خودهند دکتابخانو پهٔ پښتو قلمي نسخو کښې صرف یوکتاب «نمبرې » لري» . پهٔ دې اعتراف خویې دخپل کتاب دشپږم مخ اعتراض پهٔ خپله « غلط» ثابت کړ ،زهٔ به مو څهٔ سر در خوږ وم.

د(پټه خزانه فی المیزان) پهٔ ۱۶ـ۱۷ مخونو کښې ویل شوي دي:

"پټه خزانه" کښې داسې ډېر توري اوترکیبونه استعمال شوي دي، چې دهغو داستعمال پهٔ باره کښې مونږ خو غلطي کولی شو خولهٔ هغه متقدمینو دچاپهٔ وجه چې دالفظونه تر مونږ رارسېدلي دي دداسې غلطیږ امکان قطعاً نهٔ شو کېدی اوداغلطي دپټې خزانې د اصلیت دعوی مشکوکوي »زهٔ نهٔ پوهېږم چې د قلندر صاحب پهٔ نظر دا «متقدمین انبیاء دي (نعوذ بالله من ذلك) که ها څهٔ دي ؟ چې لهٔ خپلو اصولو څخه قطعاً نه تېرېږي اولهٔ تېروتنو او ګناهونو څخه معصوم دي مامخکښې هم دخپل کوچنې کتابتون د قلمي نسخوعرض وکړچې دیوهٔعصرپهٔ لسګونو داسې نسخې پهٔ کښې دي، چې نهٔ واحد لیکدوداونهٔ واحدتوري او ترکیبونه لري زماږ عاجز خولهٔ خپلوکتابوڅخه (چې پهٔ ډېرشوق او زیارمې راغونډ کړي او اوس پهٔ وطن کې راڅخه پاته دي)

بېخې زړهٔ تورشو؛ ځکه د قلندرصاحب دداسې قاطع «حکم»پهٔ اساس خوهغه ټول «جعلي» شول ! او «د اصلیت دعوی یې مشکوکه! » که زهٔ اوس د پردېسې لهٔ شخصي او عمومی ستونزوسره مخامخ نهٔ وای نو ددغوکتابود مطلوبو ځایو فوټوکاپۍ خو مې هرومرو قلندر صاحب ته ورلېږلې.

ښاغلي معترض یوځل د پټې خزانې مؤلف پهٔ دې تورن کوي، چې د کتاب د ترتیب طریقه یې معاصر روش دی او پهٔ یوولسمه صدۍ کښې دا راز روش رواج نهٔ

درلود.

بل ځای چې د «متقدمینو» پرپله ګام ږدي، بیا زمونږ د زمانې د تحقیقي اصولو د پیروۍ تقاضا ورځخه لري او په دې یې مقصر ګڼې چې ولې یې د پلانې د ژېړیدو یا وفات د کال ماخذ نه دی ښودلی. پلانۍ خبره یې ولې بې حوالې کړې ده (جالبه ده، یو ځای له محمد هوتک عاجز ځخه د هغه د پلار د تولد د کال «صریح مأخذ» غواړي!)(د کتاب ۲۰۸ مخ)

یو ځای لیکي «د تاریخي او تنقیدي روایاتو تقاضاداوه چې محمد هوتک دابسیلي وی چې ده داغزل (د رحمان بابا غزل .م.هـ) له کومې نسخې رانقل کړې ده هغه چا او کله لیکلې وه»(۱۹۱ ـ ۱۹۲ مخونه)

دا تقاضاخوپرځای ده،مګر نه له «متقدمینو» ځخه دا کار اوس د «تاریخي او تنقیدي روایاتو» له پاره حتمي دی ځکه چې د تحقیق او نقد اصول وضع شوي او عام شوي دي زما بیایقین دی چې د «متقدمینو»په نورو تاریخي او ادبي آثاروکښې قلندر صاحب هرومرو پرداسې مواردو پېښ شوی دی.د (راویان اخبار)او (ناقلان ...) پرعبارتویې ضرورسترګې لګېدلې دي، د هغو په باب یې سکوت غوره ګڼلی دی ولې یې یوازې پته خزانه په کښې انتخاب کړه ؟ د (پته خزانه فی المیزان)کتاب له ۱۷۵ مخ ځخه بیا تر ۲۱۲ مخ پورې ټول هغه فرمایشات دي، چې مؤلف یې محمد هوتک ته ورکوي، ولې دې دا سنه نه ده کښلې؟ ولې دې مأخذ نه دی ښوولی ؟ ولې دې د پلانې شاعر په باب معلومات نه دي راکړي ؟ ولې دې د پلانې ددیوان ذکر نه دی کړی ؟ او په لسګونو دا راز (ولې؟)

که دې ټولو (ولې) ته محمدهوتک ځواب ویلی وای، رښتیابه یې کتاب نورهم په زړه پورې شوی وای اوکاشکې

یې داسې کړي وای، هم به د پښتو ادب تاریخ نورې تیاري روښانه شوې وای او هم به د قلندر صاحب قیمتي وخت د پټه خزانه فی المیزان پۀ کښلو ضایع شوی نۀ وای. خو دا کارې نۀ دی کړی او مونږ هم د پټې خزانې پرتپروتنومعترف یو، لکه پۀ لسګونو نورآثار چې تپروتنې لري پټه خزانه یې هم لري د نعوذبالله (لاریب فیه) حکم وضع د بښاغلي قلندر خپله اختراع ده ،هیڅوا وهیڅ افغاني لیکوال او نورو خواخوږو پښتنو داشان ادعا نۀ ده کړې، مګر لۀ دې تپروتنوسره سره چې د زیاترو د توجیه لۀ پاره زمونږ بښاغلیو لیکوالو علمي دلایل ویلي او ځوابونه ورکړي دي د جعلي حکم هم نۀ منو او دا یوه بې انصافي ګڼو. بښاغلی قلندر صاحب د پټې خزانې مؤلف پۀ دې خبره کړي، چې ولې یې د (بډنی) کلي نوم (بدنی)لیکلی دی او «پښتون هوتک ته ... د اولې معلومه نۀ وه چې (بډنی) د پیښورپه نواح کښې یوکلی دی اوددې کلي ذکر(اوپۀ پیښور او بدنی نه بلکې (دپیښور په بډنی) پۀ صورت پۀ کاروو. (۱۴ . ۱۵ مخونه)

د بډنی د ناسم تلفظ یو بل مثال د محمد هوتک یاد کتاب پۀ ۱۱۴ مخ کښې داسې ښودل شوی دی.د نمونې پۀ توګه بښاغلي عبدالحلیم اثرسالارزی چې دبډنی پر سیند پۀ وارو وارو تپر او بېر شوئ پۀ تپرهیرشاعران کښې دبې بې ګلې د پیژندګلوی پۀ برخه کښې د بې بې نیکبختې ژوند څېړي. پۀ دې څېړنه کښې ۲۴ د(بدنی) نوم راغلی چې پنځۀ ځایه«بډنی» **او نور نولس ځایه (بدنی) ضبط شوی دی.** بښاغلي برېښنا دا موضوع پۀ ډیرپاخۀ منطق ډېره ښه څېړلې ده.مونږ پۀ تپروپانو کښې دامسئله

څېړلې ده چې قلندرصاحب ته د محمدهوتک یاد کتاب رسېدلی دی، مګر اوس چې پرې منکر دی ، نو د انکار په صورت کې مونږ مجبور یو چې نور دې ته

ورته مثالونه چې په کښې د ځایونو او اشخاصو نامسم تلفظ شوی خو هیڅ دنامسم تلفظ په ګناه! کتاب «جعلي» نه دی ګنلی آخر په همدې پېښور کښې مو دپښتنو له خوا پرپښتوکتابو د(پشاور...) پته نه ده لوستې؟ همدا اوس چې دا کرښې کاږم یو دوه کتابه راته ځرمه پراته دي، پریوه یې کښلي دي (ډاکخانه. عمرزایي تحصیل چارسده ضلع پشاور) کتاب پښتودی او مؤلف یې پښتون. پربل یې کښلي دي (د ملاویدوپته؛ شهر پشاور. جنډابازار مولوي نورګل صاحب چای فروش) کتاب پښتودی او منصف یې پښتون په (پشاور) سره د(پېښور) دتلفظ مثالونه هغه هم دپښتنو له خوا، دومره ډېر دي چې لست یې رسالې غواړي، مګر مونږ دلته دومره تنګ نظري کیږونه،چې د (سیف الموحدین) او (بهارمدینه)کتابونه چې مخکښې مې دمثال دپاره یاد کړل د(پېښور) دغیر پښتوتلفظ په خاطر «جعلي» فرض کړو .په هیڅ صورت نه. ښاغلي انوارالحق داودزی (پته خزانه في المیزان خطاط) په هیڅ ډول نه ملامتوو چې د «نارنج» قصر یې د «تاریخ» قصرکښلی دی (۲۴۴مخ) یایې د «تشویق» کلمه «تشریق» کښلې ده (۲۱ مخ) یایې د «شامحمود هوتک پرځای شاه محمدهوتک ضبط کړی (۱۹۸ . ۱۹۹ مخونه) یا یې د افضل الطرائق دمؤلف ملاپیرمحمد میاجي نوم «ملامیرمحمد» لیکلی دی په دې ځلورو ټپروتنو کښې صرف لومړۍ یې په (سبحان الله) کښې سمه شوې ده.

مونږ وایو انسان دی، غلطي کوي، په کندهار کښې بلد نه دی نو عاجز ته به د «نارنج» دقصرځه پته وه؟ د شکرځای دی چې دا ټپروتنه په (سبحان الله) کښې سمه شوې ده، کم نه خدای خبرچې ښاغلي داودزي او د پته خزانه فی المیزان مؤلف ته به ځینو (کوتاه بینو) تر وفات وروسته

څهٔ هم نه واى ويلي !

ښاغلي قلندر صاحب د(ږوب) د تلفظ پهٔ برخه کښې هم قلمفرسايي کړې ده اوليکي «د پټې خزانې پهٔ ډپرو ځايونو کښې د (ژوب) او (پشين) ذکرد (ږوب) او(پښين) پهٔ «ترتيب» پهٔ شکل کښې شوى دى. ددې پودواړو منطقو د نوم پهٔ تلفظ کښې پهٔ پښتنو کښې هيڅ اختلاف نهٔ شته او نهٔ ددې نومونه د (ږ) او (ښ) پهٔ مخصوصوآوازونو و يلى کيږي . البته دا صحيح ده چې جديد افغانستان کښې دا علاقې هم دغسې د ږوب او پښين پهٔ شکل ليکلى شي لکه چې پټه خزانه کښې ليکلى شوې دي. (۲۲۴ مخ) د حيرانتيا خبره داده چې يو وار د خپل عادت لهٔ مخې قاطع حکم کوي، چې د دې منطقو دنوم پهٔ تلفظ کښې پهٔ پښتنو کښې هيڅ اختلاف نشته » يوه کرښه وروسته بيا خپل حکم بيرته اخلي او وايي «البته داصحيح ده چې جديد افغانستان کښې دا علاقې هم دغسې د ږوب او پښين پهٔ شکل ليکلى شي ... زهٔ پرزيا توم چې ته يوازې ليکلى شي بلکې پهٔ همدې شکل لوستلى هم شي» د کوټې،پښين او ږوب او سپدونکي چې همدا نن ورځ دغه سيمې هم د (ږوب او پښين) پهٔ ډول لولي او ليکي څهٔ پښتانهٔ نهٔ دي ؟ چې قلندرصاحب د هيڅ اختلاف نشته » حکم صادروي. د چمن او کوټې اڅکزي د ږوب کاکړان خو د قلندرصاحب پهٔ اصطلاح د (جديدافغانستان) اوسپدونکي نهٔ دي دوى يې ولې د (ږوب اويښين) پهٔ شکل تلفظ کوي.

ښاغلي معترض يو ځاى ليکي: «بابا هوتک پهٔ لوړ ژغ داسندره لولو له ... (۱۷۷ مخ) لهٔ دې خبرې به تېرشو، چې لهٔ پټې خزانې دنقل قول پهٔ وخت کښې ښاغلي ناقل پهٔ عبارت کښې ناروا تصرف کړى دى. ځکه هلته (ژغ) پهٔ همدې شکل نهٔ دى ضبط . زما پوښتنه داده

چې له ۀ کوم کندهاري څخه دې دا کلمه په ۀ همدې شکل اورپدلې ده ؟ دا کلمه پښتانه ۀ د (ږغ) ،(غږ) او (ژغ) په ۀ شکل تلفظ کوي. د کندهار تلفظ يې (ږغ) دی او په ۀ افغانستان کښې يې اوسنی مروج تلفظ چې په ۀ ليکنه کښې دمعيار په ۀ ډول منل شوی دی (غږ) دی ،نو دکندهاري تلفظ پرخلاف(چې پټه خزانه په ۀ همدې لهجه کښل شوې ده) د(ژغ) ضبط به دښاغلي قلندر صاحب دکتاب د«جعليت» دليل تصور کړو. بياهم په ۀ هيڅ ډول نه. مور دې خدای (ج)دومره نه ۀ تنګ نظري کوي.

نه ۀ پوهيږم ښاغلي قلندر دپټې خزانې مؤلف ته ولې دومره خښمپدلی دی؟

هغه وايي « زما پلار داودخان په ۀ ۱۰۲۹ ه کال زپږيدلی دی.» دی پرې راغورځي،« صريح مأخذ »څې غواړي! (فکر مودی، له ۀ زوی څخه دپلاردتولد دنيټې مأخذغواړي ! ښايي دښاغلي قلندرپه ۀ نظر به متقدمينو ! په ۀ داراز مواردوکښې مأخذونه ښوول!)

هغه وايي چې:«زماپلار په ۀ هغه جنګوکښې شريک ۇ چې ميرويس نيکه ۀ له ۀ ګرګين سره کړي وه ۀ »

دی پرې وردانګي اوليکي:« حالانکې تاريخ کښې دداسې يو جنګ هم ذکر نشته چې دميرويس نيکه ۀ اوګرګين خان ترمنځ شوی وه ۀ تاريخ ديوې خونړۍ واقعې ذکر کوي چې دهغې په ۀ نتيجه کښې ګرګين ووژل شو...»(۲۰۸مخ)

ډېره جالبه ده ! محمد هوتک ته دخښمپدو په ۀ خاطر دميرويس نيکه ۀ اوګرګين خان تر منځ پر جګړه هم ناګاره کپږي، ددې جګړې په ۀ بيان خو تاريخونه ډک دي (ښاغلي لوستونکي دې ددې جګړې بيان دپښتنو تاريخ ـ ۱/ ۵۵ مخ افغانستان در مسير تاريخ ۲۲۰مخ ، ميرويس نيکه ۶۲ـ۶۵ مخونو کښې وګوري) زما په ۀ خيال دقلندر صاحب به (تن به تن)جنګ ياهم (دو يل) مقصدوي! ددې جنګ ذکر نو

ربښتیاهم په تاریخ کښې نه شته او محمد هوتك غریب هم ددغه راز جګړې ادعانه ده کړې.

دقلندر صاحب په بیان کښې د «خونړې واقعې» ترکیب لږځه غور غواړي. له خونړې واقعې څخه یې مراد هغه پېښه ده، چې دهغې په نتیجه کښې ګرګین ووژل شو اودحاجي میرویس خان په لاس زمون هېواد د پردو له تسلط څخه آزاد شو، دا پېښه زمون دګران هېواد په تاریخ کښې یوه له ویاړه ډکه کارنامه ده چې دارواښاد غبار په قول «دافغانستان دراتلونکي سرتاسري دولت دجوړېدو» هسته (زړی)یې کښېښود. د «خونړې واقعې» په ترکیب کښې یوضمني تاسف اودپېښې له وژل شویوکسانو سره دخواخوږۍ احساس پروت دی.

داچې مون د(قصه خوانې) پېښې ته «خونړې واقعه» وایو په حقیقت کښې ددغه ترکیب په استعمالولو سره مون دواقعې له قربانیانوسره همدردي اودعاملینوپه نسبت یې (چې پرنګیان وو) کرکه اونفرت څرګندوو.

دحاجي میرویس خان په مشرۍ ملي پاڅون ته دقلندر صاحب په خوله «خونړې واقعه» ویل ،تصادفي انتخاب نه دی ځکه ده دخپل کتاب په «ورومبې خبرې» کښې ویلي دي، چې هرڅه یې «په دلیل کړي دي». ملي قیام ته د «خونړې واقعې» نوم هم په «دلیل» ورکړ شوی دی . ګویا دښاغلي قلندر په نظر دپښتنو دغه ملي پاڅون یوه «خونړې واقعه» وه اودګرګین وژل کېدل دتأسف وړ عمل ! دامسئله زه نوره هم شنلای شم خو اوس همدومره کفایت کوي.

د «علیین مکان» په برخه کښې هم ښاغلی قلندر صاحب اعتراض لري.دی لیکي: «هم په دې لړکښې د «خان علیین مکان ترکیب دی چې محمد هوتك یې دخوشحال بابا اومیرویس خان بابادپاره استعمالوي داغلط ترکیب زما دتحقیق مطابق پښتو کښې له ټولونه اول افضل خان ختك په

تاریخ مرصع کښې دخوشحال بابا دپاره استعمال کړی دی.»(۱۲مخ)

دښاغلي قلندر دتحقیق ځواب خو اروښاد علامه حبیبي مرحوم (دمحمد هوتك یاد) په ۱۱۹ مخ کښې ویلی دی. لوستونکي دې یې هوریې ولولي. زما له ۱ پاره په ۱ زړه ۱ پورې خبره بله ده، هغه دا: کله چې افضل خان په ۱ تاریخ مرصع کښې د« علییون» پرځای « علیین » کاږي؛ نو قلندر صاحب وایي» افضل خان که غلطي وکړه؛ نو تقاضای بشري ده؛ لیکن محمد هوتك داغلطي ځنګه وکړه »دې ته وایي(یك بام ودو هوا) قضاوت ! کله چې افضل خان « علیین » کلمه استعمالوي او په ۱ اصطلاح غلطي کوي؛ نو ښاغلی قلندر یی « تقاضای بشري» بولي؛ خو چې محمد هوتك بیا داکلمه استعمالوي، ښاغلی معترض ورځخه (مافوق بشري) تقاضاکوي! عجب قضاوت! آخر محمد هوتك بشر نه ۱ وو،که څه؟ داولې نورو کسانوته ښاغلي قلندر صاحب دلورینې پلو د پر پراخ غوږولی دی؛ مګر محمد هوتك ته دومره خښمپدلی دی، چې دبشریت له ۱ قلمرو څخه یې باسي! ضرور څه ۱ خبره شته یابه « کوم خاص مصلحت» په ۱ منځ کښې وي !

زه ۱ دخپلو « معروضاتو» یوه برخه پر همدې ځای رالندوم اوزیاتوم، چې د(پته خزانه فی المیزان) کتاب دراتلونکی نسل له ۱ پاره یو (ګمراه کن) اثر دی ځکه چې هرچاته په ۱ تپره بیا ماغوندې مبتدیونوته دکتاب دپانې پانې دکره کولو اوځپرلونه امکانات شته او نه ۱ هم وخت .کتاب خوظاهراً عمیقه لیکنه ښکاري اود پر(فریبنده) عبارتونه اوترکیبونه لري لوستونکی چې یې لومړی ځل وګوري، یا یې مؤلف ته دعقیدت په ۱ رونا کښې ولولي، پر مطالبو یې یقین راځي؛ مګر دایقین به یې پر ناسمو احکاموو‌ي. (دناسمو اقتباساتو اوتحقیقي انحرافاتو اوردلست یې ښاغلي صمیم صاحب خپور کړی دی دالست نورهم اوردیدلای شي) ددغه راز ګمراه کوونکي مهم دپیل افتخار دپټې خزانې دمؤلف نه ، بلکې دښاغلي قلندر په ۱ برخه

دی ـ ددهٔ دې مبارک وي ! خپلې خبرې دفتح خان برېښ دنکل پهٔ یوه ناره پای ته رسوم:

اوردې وسي دېرېښو پهٔ سپین ږیرو
مرور یې پخلانهٔ کړل، لادلاسه ورښیي یاغي ملکونه
(یار زنده ،صحبت باقی)

معصوم هوتك

کراچی ـ د۱۹۹۱ع جون ۱۲مه
د۱۳۷۰ ش دجوزا ۲۲ مه

ډیر ښکته پورته پهٔ غرورغوکښې
لاړم او ځیرشوم پهٔ قافلوکښې
دخدای دلارې بنیادم نهٔ و
پهٔ دومره ګنو پلیو سپروکښې

* * * * * * * *

داد زلیانو د نجونو وینې
داد لکونوسرو نو وینې
دجاه طلبو د هوس تنده
هره خواتوی کړې دزړونووینې

* * * * * * * *

دعزیزی ژباړه اولنډیز

نبوي حدیث

وعن عایشه قالت رسول الله صلي الله علیه وسلم الرحم معلقة بالعرش تقول من وصلنی وصله الله ومن قطعنی قطعه الله . متفق علیه

ترجمه : له بي بي عایشې (رض) نه روایت دی، چې حضرت رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي:رحم پۀ عرش پورې ځوړند دی اووائې هر ځوك چې ما وصل کړی پاك خدای به هغه پۀ خپل رحمت سره وصل کړي .اوهر ځوك چې ما پرې کړی، پاك خدای به هغه هم پرې کړي ." پرهغه باندې بۀ رحم اومهرباني ونۀ کړي"یعنی ځوك چې رحم نۀ کوي پر هغه باندې رحم نۀ کیږي ،ځوك چې دالله(ج) پر بندګانو رحم نۀ کوي الله (ج) پر هغۀ باندې رحم نۀ کوي.یاداچې ځوك پر بل رحم نۀ کوي، هغه بل به هم پر دۀ رحم ونه کړي.

درشماره‌ء دوم (اسد- سنبله) سال ۱۳۶۹ مجله سپیدی مقاله یی زیر عنوان « همکو نساز ی‌املای زبان دری » (صفحه های۱۱ -۲۶) به چاپ رسید . هدف از نوشتن این مقاله جلو گیری از تشتت وپراگنده گی در نگارش ورفع اشتباههای املایی دری بوده. چاپ مقاله مذکور، برخی از دانشمندان عرصهٔ ادبیات را بر آن داشت که با نوشتن سطرهایی، از ین نوشته قدردانی نمایند ، ونیزبسیاری‌از شیفته گان ادب،این شماره را به ویژه به خاطراین مقاله ومقاله یی زیر عنوان « دپښتو نوی متفقه لیکدود » از ادارهٔ مجله به دست آوردند .

یکی از قلم به دستان کشور ، محترم عبدالجلیل وجدی ، بانوشتن مقاله یی زیر عنوان « املایی وحدت » (صفحه های ۱۵- ۲۵) درشمارهٔ ششم (حمل -ثور) ۱۳۷۰ این مجله بر مقاله های نامبرده ایراد هایی گرفت.با سپاس از اظهار نظر موصوف در مورد

مقاله ها،سخنانی هست که باید گفت تا سؤ تفاهم بر طرف شود .
در این جا صرف به پاسخ حرفهای محترم وجدی در باره مقاله «همگونسازی املای زبان دری» نوشته شده، پرداخته میشو د .
محترم وجدی نوشته که :" نویسنده (م .آویشن)، مقاله نامبرده را به گونه انفرادی نوشته وخودش به تنهایی کار کمیته یی را به سر رسانیده ». وی سپس اظهار داشته که : « هر چند این نظریات مفید وعالمانه هم باشد ، چون جنبهء تأییدی آن از سوی کدام مؤسسهٔ علمی یا مجمع علمی مبهم است.لهذا موضوع تعمیم وترویج آن قابل دقت است ».
هم چنان موصوف در سطر های بعدی نوشته که:"نویسنده (م.آویشن) مدعی است که او درین نوشته ، فشرده یی از روش پذ یرفتهء استادان ، دانشمندان ونویسنده گان با اعتبار کشور را پیشکش کرده »، واما به این گفته نویسنده به دیده تردید نگریسته .
درپاسخ این حرفها باید گفت که نویسنده ، هیچ گاه به خود جرأت نداده ونخواهد داد که مسؤولیتی این چنین بزرگ را به تنهایی به سربر ساند . چنان که در نخستین صفحه مقاله « همگونسازی املای زبان دری » جایی نوشته : « برای همگونی درنگارش ورفع اشتباههای املایی زبان دری روش پذیرفتهٔ استادان ، دانشمندان ونویسنده گان با اعتبار کشور را به گونه فشرده به منظور آگاهی قلم به دستان به دست نشر میسپاریم ».
باآنکه محترم وجدی این سطور را از نظر گذرانده ودر مقالهء

خویش نیز ازآن یاد کرده ، اما به درستی آن وبه صداقت نویسنده شك کرده. نویسنده ، نوشته وباز هم مینویسد که این مقاله فشردهٔ نظریات دیگران است . نظریات ارزشمند دانشمندانی چون شاد روان پوهاند عبدالحی حبیبی ، پوهاند سرور همایون ، محقق رضا مایل هروی، پوهاند داکتر عبدالاحمد جاوید ، پوهاند محمد رحیم الهام،پوهنوال محمدعمر زاهدی ، واصف باختری ، اعظم رهنورد زریاب ، پوهنمل لطیف ناظمی وپوهیالی پویا فاریا بی،که در رساله یی زیر عنوان « روش املای زبان دری » به چاپ رسیده . این رساله، نتایج پژوهشها، مطا لعات وگفتگو های علمی وادبی این دانشمند ان است که تنظیم ، تکمیل ونگارش آن قریب سه سال را در بر گرفته .

هم چنان محترم وجدی بر پایهٔ این که در زمان تحصیلش ، استاد عبدالا حمد جاوید واستاد محمد حسین نهضت زمانی که واژ ه های مختوم به های غیر ملفوظ رابه{ـگان } یا {ـها } جمع میبستند ، «های غیر ملفوظ » را حذف میکردند ، مانند :نماینده- نمایندگان ، تشنه ـ تشنگی ؛ کار نویسنده را به دید ه تردید نگریسته .

سهمگیری استاد جاوید در تهیه این رساله گواه براینست که موصوف اکنون میپذیر د که درصورت جمع بستن ، « های غیر ملفوظ » از واژه های مختوم به«های غیر ملفوظ » حذف نمیشود؛ مانند : نماینده- نماینده گان ، تشنه -تشنه گی .

با آنکه از چاپ رسالهء مذکور چندین سال واز چاپ مقاله دربارهء

این رساله چندین ماه میگذرد ، تشتت وپراگنده گی هنوز هم در نوشته های قلم به دستان چه در داخل وچه در خارج کشور موجود است تا پیستها وخطاطان نیز با وجود رهنما ییهای بیش از حد ، هنوز هم آنچه دل شان خواست ، مینویسند . در مجله سپیدی ، حتی در مقاله مورد بحث نیز این نا همگونی وجود دارد . زیرا یك شماره مجله خطاطی میشود وشمارهٔ دیگر کامپیوتر.همین که خطاط اندکی با این روش آشنا شد ،مجله بعدی به کامپیوتر سپرده میشود وبه همین گونه ، کار شکل متناوبی را به خود گرفته وآخر ش هم معلوم نیست .

در اخیر باید گفت هر زمان که همه نویسنده گان کشور به چنین یك روشی احساس نیاز مند ی کنند ، آن گاه همگونی در املاء پدید خواهد آمد، در غیر آن، این پراگنده گی بیشتر از پیش ادامه خواهد داشت .

حبیب الله رفیع

په پېښور کښې رحمان ادبي جرګې دهرکال پۀ شان د ۱۹۹۱کال دمی پۀ لومړۍ نېټه یوځل بیا درحمان بابا سیمینار جوړکړی ؤ،دامقاله پۀ همدې سیمینارکښې واورول شوه،سپېدې مجله چې داګڼه درحمان بابالۀ انځور سره ټرې،دامقاله هم پۀ همدې اړه خپلو درنولوستونکیوته وړاندې کوي»

«اداره»

داعادت دی چې لۀ درده زګپروی خپړي
ګڼه ځۀ وو د«رحمان»لۀ شاعرۍ

د رحمان باباشاعري د دردشاعري ده،دسوزشاعري ده، دمینې شاعري ده،دعا طغې شاعري ده،ساده خورنګینه شاعري ده، روانه خومعجزه شاعري ده او بالآخره ملکوتي، لاهوتي او آسماني شاعري ده.

لهٔ دې سره سره درحمان بابا په شاعري کښې سره يپل رنګونه ترستر ګوکپږي ،سره يپل فکرونه ترغوږوکپږي اوسره يپلې خبرې رابرسېره کپږي چې دامشکل،داستونځه او حتی دا تضاد مور کولای شو هغه وخت حل کړو، چې ددهٔ شاعري پر يپلا يپلو دورو او دورونو وو يشو:

دا يپلا يپل دورونه ، دورې او پراوونه يوازې د رحمان بابا پهٔ شاعري کښې نهٔ دي؛ تر دې وراندې دډيرو لويو شاعرانو پهٔ شاعري کښې داډول پراوونه شته. ددوی پهٔ ذهن کښې انقلاب راغلی ،بدلون راغلی او لهٔ فکري تطور ، تحول او انکشاف سره مخامخ شوی، ددري دعرفاني ادب باني ابوالمجد مجدود ابن آدم سنايي غزنوي چې رحمان بابا يې لهٔ وينا سره آشنا دی اوځان يې مخی اوسيال بولي :

«پهٔ پښتو کښې رحمٰن ووې پهٔ فارسي کښې سنايي»

لهٔ همداسې فکري تحول اوانقلاب سره مخامخ شوی ؤ دی لکه د غزنې ددربارد نوروسوونوشاعرانو غوندې دباچايانو مداح اوستايوال ؤ اودمجازي عشق پهٔ پوړيويې يون پيل کړی ؤ؛ خو دوخت د يوهٔ رسپدلي انسان پهٔ مرسته يې پهٔ فکرکښې ژورانقلاب اوبدلون راغی. دمجازي مينې پوړه يې دحقيقي مينې بام ته ورسولې اوپهٔ دري ادب کښې يې دعرفاني ادب بنسټ کښېښود.لهٔ سترګونه يې پردې لرې شوې،هغه شاهان چې ستايل به يې پهٔ غندلويې سرشو، ددوی دعدل بيان به يې چې کاوهٔ ددوی دظلم اړخ يې رابرسېره کړ،دريا کارو ملايانواو شېخانوسپين څادريې دقلم پهٔ څوکه ځيرې کړل او ددوی اصلي څېرې يې ترې رابرسېره کړې او همدادی چې ددري ادب څېړونکي لومړی اودوهم سنايي ورته وايي،بالکل د ذهنٔ سره دووپلو کسانو پهٔ حيث

یې معرفي کوي او ددواړو دورو پر افکارو یې پېله رنا اچوي او پېل قضاوت پرې کوي.

د رحمان بابا د وخت خو تر دۀ مشر دپښتو لوی شاعرخوشحال خان ختک هم داسې شخصیت دی چې دوې څېرې لري او د فکر دوې دورې، یوه یې دمغولودخدمت دوره او بله یې لۀ مغولو سره د عداوت دوره، دی پۀ خپله وینا کښې دادورې مشخصوي :

د مغول نمک مې وخوړشپږپېړۍ
مادزروپۀ کښې روغې کړې پېړۍ
رعیت مې یو سفزیه درست ختک ؤ
پۀ عزت او پۀ حرمت کښې مې څۀ شک ؤ
د مغول دپاره ماتورې وهلې
پښتنو به راته کړې ډېرې ښکنځلې
که ورکزیه که بنگښ او که یوسف دي
دوی همه دمادتېغ پۀ تاسف دي
پښتانۀ مې پۀ زرګونودي وژلي
پۀ سرونوبه یې خرۀ غوایې وولښلي
لاتراوسه د سرونویې انبار دی
پۀ اټک پۀ پښور کښې یې منار دی
پۀ دوران د اورنګزیب پادشاه پۀ بندشوم
بې تقصیره بې ګناهه دردمندشوم
درې څلورکاله پۀ بنددراورنګزیب شوم
خدای چه خلاص کړم انتقام ته ناشکیب شوم
دمغولوزیست روزګار رابانديې اوړۀ
پۀ صحبت یې د مارنګ لکه تورسکوړۀ
راپۀ غاړه د مغول منصب پۀ زور ؤ
تۀ به وایې چې منصب نه ؤ سور اوړۀ
ناګهانه پۀ دامملک فساد بنیادشو

د ماهم د تلافیِ کارپهٔ یاد شو
د فساد که یو بخری وَ ما اورکړ
اورمې پورې د اورنګ پاچاپهٔ کور کړ

نن د وارو پښتنو پهٔ ننګ ولاړیم
داچې هسې پهٔ هر درهردرنګ ولاړیم
چې پښتون شوم پهٔ داهسې سپینه ږیره
نورمې خدای مهٔ کړه مغول،وایم پهٔ خیره
ومغول ته به خبرې پهٔ وربوز کړم
سرمې پرپوزه که به سرورته بیا کوز کړم
نهٔ پهٔ خپل نهٔ پهٔ پردي یم، خو پهٔ ننګ یم
پهٔ دانګ کښې زویه پلار سره پهٔ جنګ یم
ومغول وته به نن کړم اتک پوله
ملک به خلاص کړم د مغول لهٔ غاله غوله

هو! خوشحال باباچې ددې پهٔ خپله اصطلاح لهٔ مغولتوب نه پښتون شو،دې بدلون ددهٔ د عمل،فکر او شعر پولې سره بیلې کړې او موږ یو خوشال پهٔ دوودورو کښې مطالعه کوو خوددهٔ لهٔ اشعارو نه ما ددهٔ د ژوند یوه بله دوره هم رابرسیره کړې چې هغه ددهٔ د مایوسۍ او بېوسۍ دوره ده.

خیر زهٔ تردې اوږدهٔ تمهید وروسته درحمان باباد ژوند درپښو دوروته رارسیږم ،ما چې د رحمان بابا د شعراوږده مطالعه کړې، ددهٔ پهٔ شعر کښې مې درې دورې پهٔ نخښه کړې او ددهٔ شعرونه مې پر درپو دورو وپښلي چې دلته پهٔ لنډیز پرې غږوږم :

لومړی: د زده کړې او ملایۍ دوره.
دوهمه :د جذب او مستۍ دوره.
دریمه : د تعمق او ژورفکرۍ دوره.
لومړی : دزده کړې او ملایۍ دوره:
رحمان بابا د پټې خزانې د معتبر تاریخي کتاب د زاړۀ سند لۀ مخې په ۱۰۴۲هـ ق کال زېږېدلی چې ددې کال په ردکښې ترذهني اټکلونو پرته هېڅ دول سندچانۀ دی وراندې کېږی او پر دې سربېره یې ددۀ ددیوان داخلې شهادتونه هم ملاتړکوي.

پټه خزانه وایي چې دۀ لۀ ملامحمد یوسف یوسفزي څخه لوست وکااو لۀ هغۀ څخه یې فقه اوتصوف زده کړل او بیاولاړکوهاټ ته، هلته یې هم سبقونه ولوستل اوښه عالم شو.

دۀ کې په اووۀ کلنۍ درس پیل کړی وي، نو د ۱۰۴۹ کال شااو خوایي درس پیل کړی او دوولس د یارلس کالې یې کې درس ویلی وي نو د۱۰۶۲ هـ ق کال شا او خوایي په شل کلنۍ کښې دزده کړې دوره بشپړه کړې ده. د رحمان بابا دلومړۍ دورې شاعري ددۀ د درس او ملایۍ لۀ وخت نه متاثره ده او هغه مطالب چې ددین او شرعي په باب په کتاب کښې لولې په شعر کښې یې پلي کوي او په اصطلاح وعظیه شاعري ګڼي مورد دې مطالبو په نظرکښې نیولو سره ددۀ د شاعرۍ پیل لږترلږه لۀ پنځلس کلنۍ او زیات نه زیات لۀ شل کلنۍ څخه اټکلوو او وایو چې رحمان بابا د پنځلس یا شل کلنۍ په عمر د شعرویل پیل کړي دي او داطبیعي هم ده ځکه چې د ځپاندې طبعي

شاعران پهٔ همدې سن کښې شاعري پيلوي. دخوشال خان بابا د شاعرۍ ډيګ هم پهٔ شل کلنۍ کښې پر اورباندې شوی دی.

د رحمان بابا ددې دورې د شاعرۍ ګڼې نمونې ماددهٔ پهٔ ديوان کښې تشخيص کړې، چې يو څويې دلته سره لولو :

چې دوې ښځې وي دچا هم سنې وي هم پارسا
خدمت کړونې وځښتن ته پهٔ ښه خوی وي آراستا
تفاوت پکښې حرام دی که سړي وي که خاصا
لازم دادي وځښتن ته تفاوت دې نهٔ کابيا
پهٔ خوراک هم پهٔ پوښاک کې که ګنډه وی که حلوا
او که داهسې بنه نهٔ کا خپل عمل به کابيدیا
يودلې به مجنون ومړي بل هوړې به شي روسيا
داحديث دی وارد شوی که څوک فهم کا پهٔ دا
هغه څوک چې تفاوت کا زهٔ ويزار،نهٔ دی لهٔ ما
پهٔ مشکوة کښې دي راغلي ورته وپوښته علما

رحمان ژغورې يوه خدايه
لهٔ عذابه لهٔ خطا

يا

بنه ده بنه ده دادنيا چې توبه ده د عقبی
ددنيا پهٔ بازارکښې دهغهٔ جهان سودا
سخي هريودخدای دوست دی ولوکان فاسقاً
هربخيل دخدای دښمن دی ولوکان زاهداً
دنيا کښت داخرت دی دا خبره ده رښتيا
دنيانه ده هغه ديندی چې له تمې وي سوا
وطاعت وته ولاړوي همېشه ترلې ملا
له حراموپې پرهېزوي هم مشغول پهٔ پنج بنا
کلمه يې وي قبوله هم پهٔ جهرهم پهٔ خفا
ددنيا دکار د پاره فرض لونځ نهٔ کاندي قضا

همدارنګه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي. په رحم کوونکيورحيم خداى رحم کوي؛ نوپر هغو کسانو چې پۀ ځمکه کښې دى رحم وکړئ، چې پر تاسې باندې هغه ذات رحم وکړي، چې آسمانونه يې پۀ تصرف اوقدرت کښې دي. ابوداود اوترمذى.

وعن جرير بن عبدالله قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم لايرحم الله من لايرحم الناس «متفق عليه»

لۀ جرير بن عبدالله (رض) نه روايت دى، چې رسول صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله پر هغه چارحم نۀ کوي چې پر خلقو باندې رحم نۀ کوي.

پۀ يو حديث کښې راغلي دي چې يوسړى پر لاره روان و اوډير زيات تږى شو اوداهم ورته معلومه نه وه، چې اوبه به کوم ځاى وي.خواتفاقاً پر يوه کوهي ور پيښ شو ، خوبوکه(سلواغه) ورسره نۀ وه هغه سړى کوهي ته ور کښته شو او اوبه يې وڅښلې.

لۀ کوهي څخه چې را ووت ؛ نو دکوهي ترڅنګه يې يو سپى وليده،چې لۀ ډيرې تندې څخه يې ژبه راايستلې اووارخطا ولاړ دى اولۀ ډيرې تندې څخه دکوهي دڅنګ خټې څټي.

دۀ چې دسپي دغه حال وليد، خپله تنده ور پۀ زړۀ شوه اودسپي پر دغه حالت يې ډير زيات زړه وسو سړي بيا کوهي ته ورکښته شو او پۀ خپله پټه کښې يې دهغۀ سپي لۀ پاره اوبه راوخيژولې .

دالله پۀ دربار کښې پرسپي باندې دسړي دغه ترحم قبول شو،نوالله ورته ګناهونه وبښل . اصحابو چې دغه واقعه واوريده ؛ نو پوښتنه يې وکړه : يا رسول الله لۀ حيواناتو سره ښه سلوک دثواب موجب کيږى ؟پيغمبر

هم صائم درمضان وي هم زکات کاندي ادا
که يې توان دحج رسېږي هم حج وکاپسې بيا
دا پنځهٔ بنادديـن دي چې بيان يې وکړما
چې يې يون پهٔ داطريق دی هغه کس دی اولیاء
که يې مال ددنيادپردی هېڅ دې نهٔ کاندي پروا
دنيا بده د هغو ده چې يې کسب وي ربا
يا يې کسب دربا وي يايې وګټې پهٔ غلا
يا يې ټوله کا پهٔ ظلم يادخمر پهٔ سودا
يايې ورکاپهٔ شرابو يايې ورکاپهٔ زنا
ياناحق خونونه کاندي يامالونه خوري د چا

حق باطل کاباطل حق کا پهٔ سبب دروی ريا
نهٔ يې وپره شي لهٔ خدايه نهٔ يې شرم نهٔ حيا
ديوې ګډې لهٔ پاره هزار خونې که بېديا
همېشه يې لهٔ ستمه خلقه وي پهٔ غوغا
ګوش اوهوش يې هرګزنهٔ وي دمظلومو پهٔ ژړا
دفرعون پهٔ ځيربه ناست وي بې پروا او کبريا
ميخانې وته يې مخ وي ومسجدوته يې شا
اختلاط کالهٔ بدانو لهٔ نېکانو وي جدا
هېڅ يې نهٔ وي پهٔ خاطرکښې تولا او تبرا
ورحمان ته پېښه مهٔ کړه
خدايه هسې رنګ بلا

يا:

نېک عمل دعالمانونېک فرزند دی
خدای ځوک مهٔ کړه شراب خور او قمارباز
چې فرزندپې شراب خوراو قمارباز شي
ترې کانې شي د پلار پهٔ خونه ساز
خدای لهٔ هسې زاهوزاده امان راکړه
چې بې دين بې ديانت شي بې نمازِ

یا:

چې لۀ مرګه بې پروایې پۀ هردم
دغه هسې غم دې هېردی پۀ کوم غم
هغۀ بیاموند سعادت پۀ دادنیا
چې یې وکړ قناعت پۀ دا دنیا
پۀ دنیا کښې لوټ هغوعالموکړ
چې یې وکړ عبادت پۀ دا دنیا
که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی
ګنې نشته بل نعمت پۀ دا دنیا
که محنت که مشقت دی خود دین دی
پۀ کارنۀ دی بل محنت پۀ دادنیا

د رحمان بابا ددې دورې شعرونه سره لۀ دې چې د موضوع لۀ پلوه ساده مسئلې او وعظونه دي دفن او موضوع لۀ پلوه هم کومه خاصه هنرې او شعری ښکلانۀ لري او که درحمان بابا هردلعزیزي ورسره نۀ وي، سامعه نوازي نۀ شي کولای.

درحمن بابا ددې دورې پۀ شاعری کښې داهم جوتېږي چې دۀ ځومره ظاهري علوم لوستي او ځومره اخذیې تري کړی دی او دپټې خزانې داخبره چې ښه عالم شو، پۀ ښۀ ډول تایید وي.

دویمه: دجذب او مستۍ دوره:

د ظاهري علم زده کړې د رحمان بابا دباطن ستر ګې رنې کړې، لۀ ظواهرورها-خوایې یو ځۀ محسوس کړل، لۀ ښکلو او ښکلا سره یې مینه پیدا شوه او د حقیقت بام ته یې دمجاز زینه کښېښوده. دۀ پۀ خپل ځان کښې یو بدلون حس کړ، دبغاوت اومستۍ ځپې یې پر مغز مسلطې شوې. د ملایانو او شیخانو دروی

او ريا دنيايي پهٔ خپله اصلي بنه ولپده او ديوهٔ نوي
ژوند لورته يې مخه کړه، د مينې
معرفت،اخلاص ،جذب او مستۍ لورته :
که مين يې پهٔ خپل يارباندې رښتيا
اواره کړه اول دين پسې دنيا
دجنت تر حورو تپرشه که يارغواړې
خداى دې نقددچانهٔ کاندې نسيا
هرمطرب چې غوږى تاوکادرباب
پهٔ داتاوکښې زمازهٔ کاندې کباب
چې سامع يې پهٔ نغمه پهٔ ترانه شم
ديوانه شم گرېوان څيرې مست خراب
هم يې تارهم يې گفتارهسې اثرکا
چې هېڅوک يې نهٔ طاقت لري نهٔ تاب
يويې ساز بل يې آواز وي دلښتيو
دريم شعر پرې آغاز کا انتخاب
څلورم يې يو ساقي دځنګه ناست وي
چې مخى يې نهٔ آفتاب وي نهٔ مهتاب
داڅلوروارهٔ فتنې پهٔ څلور کونجه
اوپنځم يې صراحي دميوناب
شپږم وخت دنوبهار اووم ځواني وي
اتم شغل د کتاب نهم رباب
چې داهومره آفتونه سره ټول شي
تروځوک ځرنګ ځنې کاندې اجتناب
چې داهسې دلبران پرې اثرنهٔ کا
يابه دپويابه ديواروي يا دواب
راڅرګند به شي پرهېزدپرهېزګارو
که قادرشي پهٔ شاهداو پهٔ شراب
زهٔ رحمان لهٔ ريازهده پناه غواړم
دريازهد عذاب دى هم عتاب

هـو! رحمـان بـابا مجنـون خپل نائب پـرپښـوداو خپـل مـراتب يـې وروښنل :

زهٔ پهٔ سل رنګه راغب ته پـهٔ سـل رنګه غايب
دابه ځرنګ شـي دلبره چې زهٔ مست يم ته تايب
چې مجنون پهٔ ځنکدن شو زهٔ يې پرپښودم نايب
وصيت يـې راتـه وکړ پهٔ څو رنګه عجـايب
چې روزي دې شه رحمانه

زمـــا وارِه مراتب

هو! داروحاني وصيت وُ، چې دمکان ارزمان لهٔ قيده وتلی وُ وُ.پهٔ دې دوره کښې ددهٔ شاعرې نوی خوند پيدا کړ:

چې مې مدح دخـوبانو کړه آغـازه
هرکلام مې دلپذيـر شـو دلپسند
هغه قندچې خدای زماپهٔ خوله کښې کښېښود
حلوايانو څخه نهٔ شته هسې قند
بې لهٔ عشقه که مې عيب کـه مې هـنر دی
ماغوځ کړی دی لهٔ ځانه بل پيوند
زهٔ عاشق يم سـروکـارمی دی لهٔ عشقـه
نهٔ خليـل نهٔ داوٗدزی يم نهٔ مومند
د عشق لار د توکـل پهٔ پښو غوڅېږي
نهٔ پهٔ پښو د رياضت او ديانت
اوس تهٔ وايه چې پهٔ ځرنګ دې وستـايم
زهٔ خـوستـاپهٔ مينـه لاړم لهٔ شعوره
دا جذبه دعاشقې نهٔ ده نور څهٔ ده
ګنه کله څوک وتی شي لهٔ دستوره
چې مې مينه خدای پهٔ تاباندې پيداکړه
ترکه ما پهٔ هـغه ورځ خپله رضاکړه
هسې رنګ مې دخپل زړهٔ لهٔ وينو واخيست
چې ځان درست راته پهٔ شکل دجانان دی

داحجاب چې نورعالم يې حجاب بولي
دا زما ديار ترميانه حجاب نۀ دی
بېخو دې ددنيالۀ غمه خلاص کړم
لارمې بيا مونده بيرون لۀ شش جهته
درحمان پۀ عاشقې کښې ستر کې وشوې
څوک چې وايي عاشق ړونددی هغه خوار شه

******

ما ددهر غم وهلی دی پۀ لته د پيالې دصراحي لۀ برکته
رحمان هسې وزګار چېرې دی لۀ عشقه
چې غوږ کښېږدي دناصح غوندې وزګارته

****

عشق څۀ هسې علم نۀ دی چې حاصل شي لۀ مکتبه
مکتب حال د مذهب وايي عشق سوا دی لۀ مذهبه
دعاشق مذهب هم دادی چې دم نه وي بې مطلبه
ستا دحسن پۀ تعريف کښې رحمان ګونګ دی لۀ ادبه
هېڅ يې مۀ پوښته لۀ فرضولۀ واجبو
پۀ هغو چې عاشقې کړه خدای واجبه
زړۀ مې پۀ نغموسوری سوری کړمطربانو
عقل ساقيانو پۀ شراب راځخه يوړ
يوساقي بل ياردريم مطرب سره يوځای شول

زړۀ يې لۀ ګوګله پۀ شتاب راځخه يوړ
خط دې تورحرفونه مخ دې پانې دکتاب دې
شکل دکتاب دې بل کتاب راځخه يوړ
هراسباب چې ما څخه دزهد د پرهېزوۀ
واړه تا د حسن پۀ اسباب راځخه يوړ
کړی مارحمان پۀ زړۀ کښې نقش دمحراب وۀ
ستا ابرويو نقش د محراب راځخه يوړ
جذب اومستۍ د سماع اورقص پورېوته ورساوه :

ساقي راکړه ته ؤ ماته جام درقص
زهٔ آرزو پهٔ زړهٔ لرم مدام د رقص
دهٔ وی اوس به دخوښۍ ساعت په تاشی
مغني راکړ وما پیغام ذ رقص
«مسقي» علم خپل استادراته تعلیم کړ
رانمایي کړهر تار مقام د رقص
سریې پاس ترنه فلکه څرګندیږی
چې پهٔ چاوشي ارشاد، اعلام درقص
چې جلوه پرې دمحبوب لهٔ لوري کېږي
هرګزنهٔ شته پهٔ هغه آشام د رقص
لیاقت یې هروګړي څخه نهٔ شته
پهٔ لایقو باندې وي انعام د رقص
څویې ساپهٔ وجود شته عبدالرحمانه
حقیقت به هو مړې نه کاتام د رقص

اولهٔ دې غزل سره دمولویه طریقې هغه صوفیانه رقصونه چې اوږ دې چپنې اولوړې خولې به یې پرسروې د. سړې ستړګوتنه دریږي او یا د چشتیه طریقې درقص او موسیقیې محفلونو ته سړی بیا یې، چې لاتر اوسه هم پهٔ قونیه کښې دمولانا جلال الدین بلخي او پهٔ اجمیرشریف کښې دخواجه معین الدین چشتي هروي پهٔ مزارکېږي.

رحمان بابا خپل ددې ذورې حالت پهٔ څومره بلاغت او صراحت بیانوي:

پهٔ یوه غمزه د سترګویې فنا شوم
سر ترپایه بې بنیاده بې بقاشوم
ښهٔ چې تن مې تویه تومنه شوه پهٔ عشق کښې
هاله څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم
مستوري راڅخه یوړه مستوستړګو
رحمان څکه پهٔ ژړې کښې رسواشوم

بادشاهي د ګدايانو پهٔ دعاشي
زهٔ رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

ددهٔ دادجذب اومستیږ حالت هغه وخت پيلپيږي چې پهٔ هند اوسيمه کښې د شاه جهان پاچايي ده:

يوويښتهٔ مې د صورت بې عشقه نهٔ دی
څوکيدارپهٔ هرنفس دخپل کاروان يم
د کاملې عقيدې لهٔ برکته
ددونهې پهٔ غاړه ناست شاه جهان يم

رحمان بابا د شاه جهان دواکمنيږ پهٔ وروستی کال ١٠٦٨ هـ ق ٢٦ کلن ؤ او داد جذب او مستيږ دوره پهٔ همدې کلونو کښې پرې راغلې ده : دی ددې حالت تمثيل داسې کوي :

چې برهم کا عاشقي دچامزاج
حکيمان يې درمانده شي پهٔ علاج
دواړه لاس يې وي لهٔ دوارو کونوللي
ډوب وي تل دعاشقيږ پهٔ لوی امواج
ابراهيم ادهم څهٔ هسې نادان نهٔ ؤ
چې نظريې يا پهٔ تخت ؤ يا پهٔ تاج
مجنون هسې رنګ مين پهٔ ليلی نهٔ ؤ
چې پهٔ نورويې موقوف وي احتياج
لپونتوب لهٔ لپونيو تلونی نهٔ دی
که يې راج پهٔ خونه ورشي که تا راج
که يې سرلکه منصور غوندې پهٔ دارشي
دغه دار دی ورحمان وته معراج

* * * * *

درحمان بابا مجازي مينه کاميابه شوه، پهٔ ازدواج بدله شوه او دانوداسې وخت و؛ چې دی د معرفت لوړبام ته ختلی ؤ:

که مې ولمانځې ساقي پهٔ یوهٔ جام
تر داهورته به نور څهٔ وي احترام
بس دی ما لره دافیض دشرابو
چې پرې پرې مینځم دادلق ارزق فام
میخوري نهٔ پهٔ عالم کښې بدنامي ده
ماترپښودی لاندې کړی ننګ اونام
عاشقان دسپین رخسار دتوروزلفو
څهٔ پروا لري د کفرد اسلام
پهٔ مجنون باندې قلم راغلی نهٔ دی
که حلال پهٔ مخ کښې ورشي که حرام
حلال عشق دی پهٔ رحمان باندې راغلي
پهٔ حلالوکښې مدام وي احترام

درحمان بابا ددې بدلون او اوښتون دوخت یوبل غزل چې دملایانو، زاهدانواو نورو مدعیانو اصلي څېره را برسېره کوي دادی،

که مې وشي لهٔ دلبره ملاقات
بیا به نهٔ ځم لهٔ دې دره پهٔ حیات
پس لهٔ دې مې دې استوګنه خدای نصیب کا
پهٔ دادر که مې حیات وي که ممات
ځای لري که زهٔ ویاروته سجده کړم
هغه یار زماقبله دی دحاجات
دخپل یارتر لعلو لبوبه یې ځارکړم
که شکرې وي که قند وي که نبات
دازمادیار جلوه ده چې لیدهٔ شي
لکه نمر پهٔ صومعه دسومنات
ترمالا پهٔ دلبرانو دپر مین دي
چې خبرې کا د کشف د کرامات؟
د ریا لهٔ زاهدی زما توبه ده

چې يې کاندې څوک پۀ رسم اوپۀ عادات
پۀ ورځ پنداو نصيحت وايي وبل تـــه
پۀ شپه نـاست وي دمغان پۀ خرابـــات
دين يې دام وي ددنيا پۀ لارکښې ايښی
پـرې را اړوي وحشيـان دمـــخـلوقـات
پۀ هغۀ لوري يې ســترګې وي ختـلي .
چې پۀ لاس يې ســرسايه وي يازکات
زۀ رحمان لۀ هسې اهله پناه غواړم
هـر چې لاف کا پۀ خلاف دمقامات

..*******..

درپيم: دتعمق او ژور فکرې دوره:

درحمان بابا مينه پخه شوه ،
عمر يې پوخ شو، شعريې پوخ شـو او دعـرفـان او تصـوف دنـوراوځـلا ، رڼااو بـرپښنـا دايمـي جهـان تـه وردننـه شـو، خـودی دډيـرو دګـومـان پـر خـلاف چې وايي: «ملنګ شو، ګوښه شو، لۀ ژوند او ژوندو بېل شو» لۀ نوي فکر، نوي عمق او نـوي نظر سره ژوند تـه وردننه شـو، دباطـن سترګې يې وشوې، هرڅۀ ته دقيق شو او ددنيا ظواهر يې پۀ اصلي بڼه وليدل ، دخلکـو دژونـد ژور جاج يې واخيست، دخپلـو وګـړو مشکـلات يې درک کـړل، ددوی پۀ درد خبر شو او دخپلې ټولنـې نبـاض اوحکيـم شو اوزړۀ يې دې حالت ته ورسېد:

هغه زړۀ چې خدای روښان کا جام دجم شي
پـۀ داجـام کښـې ورښکاره تمام عـالم شي
چې پخه شي اشنايـي تـرمنځ ووزي جدايي
ومطلب تـه نـۀ رسيـږي پـۀ شپخې پـۀ ملايي

دی داوخت دغروپۀ غـارونـوکښې نـه؛ بلکـه دمشاهـدې پـر لـوړه غـونډې کښېنـاسـت اودخپـلې ټـولنـې ټـول

سیاسي ، اجتماعي ، اقتصادي اوثقافتي حالات يې تر غور اوڅېړنې لاندې ونیول او پۀ تعمق اوژور فکرۍ يې نتیجه ګیري وکړه:

پۀ بزرګۍ دهغۀ پاك پروردګار
موقوف مۀ شه پۀ سړي دسړي کار
پۀ سړي چې دسړي غرض موقوف شي
نور بې آبه بې حرمته شي روزګار
ترپایه

چې پۀ زورورسره نه يې برابر دهغوترڅنګه مۀ کښېنه زړور
ترپایه

اورنګ زېب اوشاه جهان غوندې اشراف
صدقه شه ترمنصورغوندې نداف
ترپایه

مۀ غوږباسه دنااهلو قیل وقال
پۀ کارنۀ دی قیل وقال دبدسګال
ترپایه

داڅل هم دښولارښوونه کوي خوپۀ وچ وعظیه اوملایي اندازکښې نه بلکه پۀ ژورفلسفي اولۀ حکمته ډك انداز کښې:

څوترمیانه ورانه نۀ کړې دتن پوله
وبه نۀ رسې تر خدایه تر رسوله

ددنیا دسود دپاره غمګین مۀ شه
غم ددین اودایمان کړه بې دین مۀ شه
عاشقي اوخود بیني دې سره لرې
که مطلب دې عاشقي ده خودبین مۀ شه

باړه وتړه هاله کښت زراعت کړه

صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل: يواځې پر ذيروح باندې نۀ؛ بلکې دونو او بوټو نباتاتو خدمت اوپالنه هم اجراو ثواب لري «بخاري ابواب الحرث والزراعه»

يووار محمد رسول الله صلي الله عليه وسلم لۀ خپلواصحابوسره پۀ يو سفرکښې ملګري و ؛ نوپۀ لار کښې حضورصلي الله عليه وسلم پۀ يو رباط (پراو)کښې کښته شو، او اصحابوته ورغی،نوويې ليدل چې يو صحابی په يوداسې ځای کښې نغری جوړکړی اوکټوی يې ورباندې اينښې، چې دميږيانوسوره وه، ددې حالت پۀ ليدو حضور عليه السلام لۀ اصحابې څخه پوښتنه وکړه،چې داکار چاکړی دی . يوصحابه غږ وکړ،يا رسول اللهصلي الله عليه وسلم ماکړی دی ،حضور ورته وويل ژر دا اور مړ کړه اوبل ځای اور بل کړه، لۀ دې کار څخه دحضور (ص) غرض داو، چې ميږيانوته تکليف ونه رسيږي اويامړه نۀ شي «مسند ابن حنبل لومړی جلد»

وعن عبدالله ابن ابی اوفي قال سمعت رسول صلي الله عليه وسلم لاتنزل الرحمه علي قوم فيهم قاطع الرحم «بيهقی في شعب الايمان»

ترجمه: له عبدالله بن ابی اوفي (رض) نه روايت دی ،چې له رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مې اوريدلي چې فرمايل ئې: پرهغه قوم باندې رحمت نۀ نازليږی، چې رحم پريکوي، اوياداچې درحمت پرېښته پرهغه قوم نۀ نازليږي ،چې پۀ کښې درحم غوڅوونکي وي .

وعن جبير بن مصعم قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم لايدخل الجنه قاطع الرحم «متفق عليه»

له جبير بن مصعم نه روايت دی، چې حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي ،درحم غوڅوونکي

تقوی دار شه هله طمع دجنت کړه
هغه زړهٔ چې عرش الله دی ګوره کوم دی
ځودې توان شي دجمله زړونوخدمت کړه

رحمان بابا په دې دوره کښې اوږدهٔ اوږدهٔ قصیده نما نظمونه ویلي، چې دخلکو ژوند پکښې انځوروي اودمعاشي سیاسي اواقتصادي چارو جاج اخلي :

هرچې کښت یې په باران اوبهٔ سیلاب وي
دهغو عمر به واړه په عذاب وي
هغه ملك چې پکښې سینداورودبار نهٔ وي
دهقانان به یې همه خانه خراب وي

ټول ترپایه

هغه دم چې زړهٔ ملال شي یوساعت ورباندې کال شي

ترپایه

بیادګلوتماشا کړه په بوستان کښې

ترپایه

کردګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مهٔ کړه په پښو کښې به دې خار شي

ترپایه

په همدې وخت کښې چې ددهٔ دژوند وروستي کلونه دي، یوه قصیده لري، چې داورنګ زیب مرینې او کړوړوته په کښې اشاره ده، اورنګ زیب د١١١٨هـ ق کال په پای کښې مړ شوی اومحققین ددې قصیدې دویلو کال ١١١٩ هـ ق بولي؛ خو ځینې شکاکان بیا شك کوي اووایي : کیدای شي دایې داورنګ زیب تر مرګ وړاندې کلونه وروسته ویلي وي؛ اما که وروسته وي هم تر ١١٢٤ع ق کال وروسته

نۀ ده؛ ځکه د «اوس» پۀ قید شاه عالم پۀ کښې یادوي :

اوس نوبت د شاه عالم دی دور ظـــورشۀ دګـــر

اوشاه عالم تردې وخته باچایي کړې ده ، پۀ دې حساب داقصیده پۀ اغلب ګومان د۱۱۱۹هـ ق کال ده؛ چې رحمان بابا داوخت د۷۷ کلونو ؤ اوددې عمر نقشه پۀ همدې قصیده کښې داسې راکاږي :

داخوته یې زمـا نفـسه چې دې زۀ کړم کوراوکر
تـمام ووتې لـۀ عقـله پۀ دنـیا پسې اوتـر
نۀ دې فرض د خـدای اداکړۀ نۀ سـنت دپیغـمبـر
نۀ دې مرګ پۀ زړۀ کښې یاددی نـۀ خـواری د مـحـشر
وودۀ پـروت یې دادې نۀ زده چـې پۀ خـوالرم سفر
پـۀ هـر دم درځـخـه درومـي که پـوهیږې دابـشـر
هـغـه تورویښتۀ دې ځۀ شوۀ چې هم مشك ووهم عنبر
هـغـه قـددې مـجنون پیدشۀ چې چـنار ؤ هـم نښتـر
تن دې درست زیر وزبـرشۀ زړۀ دې نۀ شـۀ لر اوبر
تر پنجاه ترشصته تیر شوې تـۀ لاځـان بـولې پسر

دی پۀ همدې قصیده کښې دفریبیانوملا یانواومنافقو قلندرانو پر ځپرورداسې رناڅوي:

هـای لـۀ هسې فریبـیانو لکه ځورنـدچاوډ کمر
نـیم پـۀ زمکه کښې دننه نیم بر سپره لکه غر
پۀ دستارکې یې مسواك وي تر بغـل لاندې خنجـر
پـۀ ایـرو کښې پټ بڅری پۀ وښوکښې پـټ ژور
پۀ شپه وینې دمظلوم خوري سـبـا کښـینې پۀ منبر
پۀ زړۀ تورلـکه تبـر وي پۀ مخ سپین لکه قمـر
ددنـیا پۀ طلب ګـرځـي خـپـشـربـولې قـلـنـدر
کـلـمـه پـۀ ژبـه وایـي پـۀ زړۀ نـۀ لري باور
پرپشان ګرځي سروهلی کوی پۀ کوی اودرپۀ در
همـیشه رفـت وآمـد کا د زردارو پـۀ ګـذر

پۀ کوڅه ددنیا دارو ګوه خوري کا لکه خر

بیا داورنګ زیب دژوند ټوله نقشه راباسي:

اورنګ زیب هم یوفقیرؤ چې ټوپۍ یې وه پۀ سر
وټوپۍ وته یې شاکړه چې قادر شۀ پۀ افسر
خو یې هومره فقیري وه چې څۀ نۀ وو میسر
چې فلك یې یاري وکړه نور یې ملك کړ مسخر
ګوره څۀ چارې یې وکړې پۀ عیال دخپل پدر
وارپۀ واریې ترتیغ تپرکړ دخرم تمام تیر
یو تیر دخرم څۀ ؤ ډیر عالم یې کړ ډیر
تمامي جهان یې ونغږد چې یې لاس شۀ باندې بر

بیاوایي:

باري ورځ ور څخه ولاړه وقت پرې راغی نمازدیګر
نۀ یې مراددزړۀ حاصل شۀ نۀ یې یخ کړ خپل تتیر
همګي شو ځني پاتې که یې ملك ؤ که لښکر

خولۀ دې ټولو سره دیوۀ سپین زدې مسلمان پۀ توګه لاس ورته پورته کوي اووایي:

اوس یې زۀ پۀ روح دعا کړم که یې خدای کا بهرور
حق تعالی یې پۀ نصیب کړه شیرین حوض دکوثر
دجنت پۀ خوشبویې یې خدای دماغ کړه معطر

اوبیا لۀ خپل ټول بیان نه یوه عمومي نتیجه اخلي:

ماخونوم داورنګ واخیست دااحوال دی دهرهر
هرسړی دخپلې خونې هم بادشاه دی هم سرور
هر چې اهل ددنیا دي واړه هسې دي اکثر
دابیان د ورودرازدی رحمان وکړ مختصر

درحمان بابا یوبل قصیده وشمه مهم نظم دګل خان اوجمال خان دواقعې پۀ باب تاثر دی، چې داپینه پۀ ۱۱۲۲هـ ق کال پینه شوې او رحمان بابا تر دې پینې پنځۀ کاله وروسته پۀ ۱۱۲۸هـ ق کال وفات شوی دی؛ نومور دانظم درحمان بابا دشاعرې ددریمې دورې لۀ وروستیو

نظمونوځخه ګڼو،چې تر ۱۱۲۲ هـ ق کال وروسته يې ويلی دی اودپښتنو دتربګنيواودښمنيو نقشه پۀ ژور تاثر سره پۀ کښې راکاږي :

دپر ياران وو دګل خان اوجمال خان
پۀ کار نۀ شۀ يوپۀ وخت دزارستان

دهمه واړو يارانو مخ دې تور شي
که به څوک وبله ياري کاپۀ داشان

چې يويارپۀ سيوري ناست وي بل پۀ اورکښې
وهغوته به څوک څۀ وايي ياران

هيڅ تعزيف به يې پۀ ژبه راونه شي
صدرحمت شه پۀ ياريِ دګل خان

تردا هورته دياريِ شرط نورځۀ دې
چې پۀ اورکښې دواړه وسوزي ياران

چې لۀ آله لۀ اولاده سره وسول
خدای دې نۀ کا څوک داهسې مظلومان

چې پۀ اورکښې يودبل دپاره سوزي
ماليدلي نۀ وو هسې مخلصان

دنمرود چاړې مې ولپدې پۀ ستر ګو
چې يې اچول واورته مرسلان

بيا دپښې عاطفې اوانساني خواته راځي اووايي :

څۀ رنګ شوخ وُ هغه اورهم هغه خلق
چې يې مړنۀ کړداوښيوپۀ باران

الغياث دی الغياث دی الغياث دی
چې انسان کاهسې ظلم پۀ انسان

ودې زمکې واسمان وته عجب يم
چې نۀ زمکه پۀ نارڼشوه نۀ آسمان

هم دې لويولويوغرونوته حيران يم
چې ونۀ لوښته لۀ وپخه دم غلطان

لهٔ دې خپله سپيه نفسه مې زړهٔ بدشهٔ
چې اوبهٔ ځنې ياخوړهٔ خوري پهٔ جهان
عالم وايي چې قيامت به پهٔ جمعه وي
ولیدماپهٔ یکشنبه پهٔ دادوران
ورپسې دپښې تصویر کشي کوي اوعلت يې بيانوي :
سر بندونه ګويادشت کربلاوو
چې سيلاب شهٔ دسروويښوپرزوان
هزارحيف دی چې داهسې رنګه چارې
واقع کيږي ددنيا پهٔ سود او زيان
پهٔ عيسی اوپهٔ جمال کښې ګناه نهٔ وه
دامکرونه وو دنفس اودشيطان
بيادیوې منطقي اوفلسفي نتيجه ګيږي برخې ته رارسيږي :
هسې نه چې دايې وکړهٔ نوربه نهٔ کا
چې يې زړهٔ شي هغه کاندي بادشاهان
شاه عالم اعظم وګوره چې يې خساکړ
پهٔ خونونوواړه ملك دهندوستان
لهٔ نژدې پښښونه بيا لرې اوزړو پښښوته ځي، داورنګ اوداراشکوه جګړوته نغوته کوي، دحسن حسين شهادت ،ورپسې ددنيا پهٔ مادیت لړليو خلکو اوځاروو پهٔ باب غږيږي اوپهٔ پای کښې دخپلې دروپښې اوددنيا لهٔ پليتې نه استغنا ته رارسيږي اوپهٔ دې منطقي نتيجه يې ختموي :
مرداري ددې دنيا خوهمدغه ده
ځکه پيرته ځنې ګرځي دروپښان
مکاري دزماني ځهٔ هومره نهٔ ده
چې رحمان يې کا وچاوته بيان
هوا! پهٔ دې توګه رحمان بابا پهٔ خپل ژوندکښې

د شاعرۍ دري پراوونه طی کړل، په لومړي پړاو کښې يې دواعظ اوملا دنده درلوده، خلك يې عبادت اوپنج بناته رابلل اوله عقوبته يې وپرول؛ خوپه دوهمه دوره کښې يې دمينې اوعرفان ددنيا په کشفولوسره دظاهرعبادت اعتبار له نظره ولويد:

چې دزړه حضور يې نه وي په لمانځه کښې
په کار نه دی مقتـــــدي وي که امام

اودباطن په تصفيه بوخت شو، څېړونکي ليکي، چې ددې دادجذب اومستۍ دوره له دې سره دملايانو ددښمنۍ دوره هم وه؛ خوله دې دورې نه په تېرېدو سره رحمان بابا ملنګ شو،قلندر شو، دروپش شو؛ خوداسې دروپش، چې دزړه ستړکې يې وشوې اوزړه يې جام جم شو اوداوخت وُ، چې دخپلو خلکواوخپل چاپېر ژوره مطالعه يې وکړه اودخپلو فلسفې اوحکيمانه افکارو اظهار يې وکړ اوله ټولنې نه لرې نه؛ بلکه ټولنې ته ورنژدې شو اوديوه ماهر نفسيات په توګه دخپلې ټولنې دمعايبو انځورګر شو.

دريا خرقه يې خدای مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلی قلنـدردی

مفاهیم سترگ

از

زبان شاعر بزرگ

آزادی وباز تاب آن درشعر خلیلی :

درواژه نامه هستی، واژه زنده گی به معنای آزادیست ، وزنده گی خود آزادیست . وآزادی واژه مقدسیست . واژه‌ییست به بهای همه هستی. واژه ییست بر ضد اسارت وبندگی.

آن گاه که خداوند (ج) زمین و زمان را آفرید ، زنده گی را آفرید وانسان را آفر ید،گوهر گرانبهای آزادی را بدو بخشید . انسان راستین در همه روز گارا ن این هدیه پر ارج را به بهای زنده گیش با خود داشته است . دزدان ورهز نان وچپا ولگران وغارتگران در درازنای سده‌ها همواره کوشیده‌اند این گوهر بیهمتا را -گوهر آزادی را -از کف انسانهای ساده دل وپاکنهاد بر بایند ودر کنج اسارت پنهان دارند. اما انسان راستین، آنکه نگهدار این گوهر بیهمتهاست ، با دژخیمان به مقابله برخاسته ونگذاشته که ناباوران سیاه دل سیاه روی حلقه بنده گی را برگردنش بیفگنند واو را به خدمت خویش بگمارند .

آزادی واستقلال چه فردی باشد یا گروهی باارزش است .

استقلال برای هرملت واژه مقدسی است. نهایت آمال وآرزوهای هر ملت است وجز باتلاش وایثار وجانفشانی واز خود گذری به دست نمی آید . یك ملت وابسته هدفی جز آن ندارد که از قید وبندها رها شود وزنجیر های وابسته گی را از هم بگسلد ، وآن گاه مستقل شود وسرنوشت خویش را خود تعیین کند. خود اراده کند وتصامیمش را به اجرا در آورد . هر ملت برای کسب استقلال از هیچ کوششی فرو گذار نمیکند ومبارزات آزادیخواهانهء خودرا گرامیتر ین فصل تاریخ خود میداند.سالروز استقلالش راجشن میگیرد واز تجدید خاطره اش به خود میبالد .

نگاهی گذرابه تاریخ ملتها در نقاط گونا گون جهان نشان میدهد که اکثر این ملل در دورانی کوتاه یا بلند از تاریخ خود مستعمره بوده واز خود هیچ نداشته اند .به امید یافتن همه چیز مبارزه کرده اند وبا قدرتهای استعماری جنگیده اند ،تا به آزادی برسند .

ارزش واعتبار وحیثیت هر ملت به حق موکول به آن است که تحت انقیاد نباشد ودر جوامع بین المللی به عنوان عضوی حاکم برمصالح خویش، شناخته شود.چنین ملتی سربلند وسر فراز است ومیتواند بااتکاء به خویش وعضویت در مجامع بین المللی احترام دیگران را برانگیزد واز حقوق خویش دفاع نماید (۳،ص ص۲۱-۲۲).

درنیم سده اخیر دنیاشاهد بوده است که ملتهاي دربند برای کسب استقلال چه کوششها وجانفشانیهایی نموده ، ظاهراً نیزاز قیدوبند

وابسته گی رها شده اند .ملتهایی که با نثار یك میلیون شهیدوتحمل خسارات فراوان به استقلال دست یافتند ویا نمونه های دیگری درشبه قارهٔ هند،افریقا،امریکای مرکزی وافریقای جنوبی که کم وبیش این چنین بوده اند (۳،ص ص ۲-۳).

آن گاه که ما از آزادی واستقلال سخن میگوییم آزادی در تمام جنبه ها اعم از سیاسی،واقتصادی ونظامی وفرهنگی مد نظر ماست.آزادی سرنوشت سازوشرط ترقی وتوسعه علوم ومدنیت است(۲،ص ۱۳). از آن رو مذاهب نیز وجود آزادی را برای بشر ضروری میدانند ، زیرا انسان از دید مذهب موجودی است متعهد ومسؤول ومکلف. تا آزادی نباشد تکلیف ومسؤولیت معنایی ندارد (۲،ص ص ۱۶-۱۷).

اسلام خواستار استقلال سیاسی واقتصادی واجتماعی مسلمانان است .اسلام دین آزادی است (۳،ص ص ۱۳۵، ۲۰۹). مسلمان مستقل است ووابسته نیست وهر جا که مسلمان در وابسته گی باشد ، اسلام نیست، بلکه چیزی به نام اسلام است .

درفرهنگ اسلامی اسارت وذلت ووابسته گی وتحت سلطه بودن مفهومی‌ندارد (۳،ص ۶۰) فکر واندیشه اسلامی در مسیر آزاد کردن‌وآزادی دادن است .

در اسلام اصل واساس زنده گی برروی آزادی است . پیامبر بزرگوار اسلام میفرماید : «الناس کلهم حِرًا الاّ من اقرَّ بالعبودیّة» یعنی انسانها همه گان آزادند مگر آن گاه که خود بر برده گی خویش اقرار کنند (۲،ص ص ۹۱-۹۲). این خانواده است که

کودکی را آزاده ویا برده میپروراند . این مدرسه وفرهنگ است که قومی را آزادمنش ویا بنده میسازد (۲،ص ٦٥).دراسلام قید وبندها به گونه یی نیست که ریاضت آورباشد وافرادمجبور باشند که زجر فراوانی را در زمینه تحمل کنند وراه عیش وکامیابی را کاملا برخود ببندند (۲،ص ۹۵).دامنهٔ آزادی دراسلام گسترده وشامل همه ابعاد وجوانب زنده گی انسان است. به حرف دیگر میتوان گفت اسلام وسیعترین آزادیهای قابل تصور رابه افراد بشر داده وسعی کرده است همه راههاو ذخیره های فکری وروانی را در اختیار بگذارد تا در بسیج آدمیان به سو ی خیر وتکامل منعی وسدی موجود نباشد . برای آدمی آزادی در فکر ، دربیان ؛ آزادی درتجمع واجتماعات ؛ آزادی دردادوستد؛ آزادی از قید وبندهای بیحساب درپذیرش مسؤولیتهای مشروع ؛ درتفکر، درشناخت ، درتلاش برای اجرای حق وعدل و...است (۲،ص۱۱۰).

آدمی آزاد است که درجامعه کار وفعالیت نماید وتلاش کند . امااین آزادی را ندارد که کسی را صدمه بزند وسبب زیان وگمراهی وخطر به دیگران شود . او حتی آزاد نیست که به برده زر خرید ش لطمه وارد آورد (۲،ص۱۰٤). آدمی را هرگز چنین حقی نیست که از آزادی سوء استفاده کند ودر راه تحمیق واستثمار مردم، یا غافل داشتن از آن سود برد .آدمی حتی درراه رسیدن به هدف جمع آزادنیست از هر طریقی که خواست پیش برود (۲،ص۱۱۳). مردمانی اند با نامردمی که از بنده گی تن در برخی موارد چشم میپوشند وبه برده کردن روان وافکار دیگران میپردازند که کاریست

(١) به جنت ته ننه نه وځي.

(١) نوټ :دپررتنې حديث پۀ شرح کښې ځينو محدثينوداويلي چې درحم غوځول غليظه اوسخته ګناه ده،البته لۀ مجازات ياعفوې څخه وروسته به جنت ته ننوځي .

اوبعض محدثينوويلي دي :ځوک چې قطع صله رحمي حلال ګڼي نو کافردی، هرګز به جنت ته داخل نۀ شي اوکۀ حرامه يې نۀ ګڼي مګر رعايت يې نۀ کوي؛ نودی به پۀ اول ځل کښې پۀ دوزخ کښې وي اوتر معاف کيدلو وروسته به جنت ته ننوځي .

پۀ يوحديث کښې راغلي دي ،چې کۀ چا پر چوغکه اويا کومه بله کوچنۍ مرغۍ باندې رحم ونۀ کړ اوپۀ ناحقه اوبې ضرورته يې حلاله کړي ؛ نو خدای(ج) دهغې پۀ هکله لۀ هغه شخص څخه پوښتنه کوي، اصحابو پوښتنه وکړه يا رسول الله دهغې څۀ حق دی ؟ حضور(ص) وويل چې حلاله يې کړئ اوويې خورئ اوداسې نۀ چې سر يې غوڅ کړئ او ويې غورځوئ، يعنې ويې نۀ خورئ .

لۀ دې حديث څخه معلوميږي چې دکومو مرغانو غوښې نۀ خوړل کيږي او ځيروونکي هم نه وي،نوويشتل يې روانه دي «مشکوه کتاب الصيد والذبايح» .

پۀ سنن نسائی کښې راغلي دي،چې کۀ ځوک بې ضرورته يوه چوغکه مړه کړي ،نوهغه به دقيامت پۀ ورځ دخدای(ج) په حضور کښې فرياد کوي، چې فلاني زه بې ضرورته مړه کړې اوويشتلې يم او زما پۀ وژلواو ويشتلو کښې دهغۀ هيڅ ګټه او فائده هم نۀ وه .

xxxxxxxxxxxxxxxxxxxx

سود بخش تر ودرآمد زاتر (۲، ص۴۱).

شعار اسلام این نیست که اهداف مهم اند واز هرطریق میتوان بدان رسید. حتی درجنگهای اسلام نیز آزادی آدمی محدود ومشروط است .نمیتواند ویرانی به وجود آورد ، پیر، زن وکودك بیگناه بیطرف رابکشد. نمیتواند آبادیها راخراب کند ، ارزاق عامه رابه خطر افکند،زخم خورده یی راتعقیب نماید، متعرض ناموس مردم شود وکارهایی بکند ازین دست که به مسلمانی، ضرر ی از آن متصور است (۲ص۱۱۴) .

هنگامی که انسان نسبت به سرنوشت خود بی اعتنا شود، نتایج وعواقب اموررا آن چنان که باید ، مورد توجه قرار ندهد وبرای آزادی حد ومرزی قایل نشود باید اعمال خواسته ها را درسایه قدرت شمشیر توقع داشت وبلای آسمانی رامنتظر بود (۲،ص۷۳).

برای آزاد بودن وآزاد شدن کسی نمیتواندبه ما کمك کند ویا کسی نمیتواند آن را به ماهبه کند وببخشد ، خود باید خود را آزاد کنیم ، یعنی آزادی باید محصول فکر وتلاش خود ما باشد (۲،ص۱۱۹).آزادیخواهی بارقصیدن به هر ساز ولبیك گفتن به هرندا سازگار نیست وبا تن دادن به استثمار جورنمی آید . باید خود طبیعت خویش باشیم ، درد ازماست وسیله درمان هم به دست ماست . تا خود نخواهیم وتاخود تلاش نکنیم امکان پیروزی نخواهد بود (۲،ص۱۲۳). درهمه حال خوشحالی وسربلندی زمانی میسر خواهد بود که افراد بتوانند مدعی شوند درجامعه آزاد زنده. گی میکنند ، جامعه یی که درآن حق وعدالت است ؛ آزادی بیان

است؛ آزادی رای است ؛ حق انتخاب اصلح است. وگرنه درجامعه-یی که زور وفرمانروای بیحساب وتبعیض وستم باشد چه افتخاری وچه عزتی (۲،ص۱۱٤)؟

انسان برای آزادی حاضر است از میهن ودیار خویش رخت سفر بربندد وبه خاطر آن رنج غربت رابپذیرد وزنده گی درمحیط بیگانه ودور از جنبه عاطفی دوستان وخانواده وکسان راتحمل نماید (۲،ص۱۳). وافغانان باایمان نیز چنین کردند ، به خاطر آزادی ، به خاطر این هدیهء خداوندی، ترك میهن مینونشان خویش کردند وهرگونه مشقتی را درین راه برخود پذیرفتند. زیرا افغانان از قماش مردمانی اند پاکنهاد و از تبار انسانانی اند والا،که هیچ گاه دربرابر هیچ رهزنی،هیچ تجاوزگری وهیچ غارتگری سر تسلیم وبرده گی فرونیاورده وگوهر آزادی را به بهای خون خویش با خویش داشته اند.

برای پاسداری از آزادی -این هدیه گرانبهای الهی ، که به ارزشمندی جهانست -مردمان آزاده وپر غرور وبا شهامت افغانستان، بیشتر از یك دهه است که دربرابر گیرنده گان ودهندهگان استقلال کشور میرزمند وبا جا نبازی وفداکاری، آن را برای نسلهای آینده که وطندوستی چنان خون دررگ رگ شان جاریست، به یادگار میدهند وپیداست که تا افغانی وافغانستانی است ، این گوهر بیهمتها را- آزادی را- از کف مردم آزادهء ما کسی در نخواهد ربود.

البته در پهلوی سنگر داران قلم به دستان کشورما نیز آزادی را

میستایند وبه خاطر آن از هیچ گونه جانفشانی دریغ نمیدارند.یکی از فریاد گران آزادی استاد خلیلی الله خلیلی شاعر گرانما یه معاصراست که در واپسین لحظه های زنده گی، این واژه مقدس را برلب داشت . به این باورکه دردفتر ایام شعری به بلندی آزادی نیست ، دفتر"اشکها وخونهای" شاعر را میگشا ییم وبیتهایی از آن را بر میگزینیم که آزادی وآزاده گی از آن نمودار است .

خلیلی ، این سوار بر توسن شعر، برده گی را ننگ انسانیت میشمارد وزنده گی را درآزاده گی میداند ومیگوید که انسان راستین نباید هیچ گاهپیش هیچ کسی سر فرو آرد . او بدین باور است که انسان باید باآزاده گی بزید وباآزاده گی بمیرد ، چنان که فریاد میدارد :

زنده گی در برده گی شرمنده گیست،
معنی آزاد بودن زنده گیست
سرکه خم گردد به پای دیگران
برتن مردان بود بار گران
بندهٔ حق درجهان آزاده است
مست وی فارغ زجام وباده است
(۱،سفیرمانم ،ص ۱۱۹)

گفتیم ،آن گاه که انسان نخستین به روی زمین پانهاد ، خداوند(ج) بدو گوهر آزادی را بخشید ، گوهر بیهمتای جهان را، گوهر زنده گی را . استاد خلیلی زنده گی آدم را در زمین به سه چیز پیوند میزند : عشق وآزادی وایمان. باسه چیزی که بی آن زنده-

گی وجود ندارد. او، این سه هدیه الهی را شرف انسان میداند که بی هرکدام آن ، انسان زنده گی انسانی نخواهد داشت . عشق وایمان راستین مایه نشاط ورستگاری انسانست . و آزادی در نبودن عشق وایمان جلوه‌یندارد. بنده‌ء بیگانه گان شدن وسرطاعت پیش دیگران نهادن نه از ویژه گی انسانست ونه از مسلمان . دربرکهٔ زلال این شعر چهره این گفته ها را تماشا میکنیم، بدین گونه :

چون خدا آدم خاکی به خلافت بگزید
وزگلستان بهشتش به یکی دانه کشید
شادفرمود دلش رابه سه تشریف جدید
عشق وآزادی‌وایمان به تبارش بخشید

عشق وآزادی وایمان شرف انسانست
مرگ درراه شرف شان جوانمرد انست

وای از آن قوم که محروم ازایمان باشد
دل بی عشق نها نخانه‌ء شیطان باشد
نیست مؤمن که به آیین غلامان باشد
حریت جوهر شمشیر مسلمان باشد

بنده غیر شدن خصلت انسان نیست
سر نهادن به درغیر مسلمانی نیست

(۱،مبارکباد آواره گان ،ص۱۹۱)

دین وآزادی باسرشت افغانان عجین است . برای حفظ این دو- که از جان عزیزترش میدارند - هستی خویش را فدا میکنند

درشعر خلیلی این جوهر زنده گی چنین رخ مینماید :

دین وآزادیست درذرات خون مانهان
ما واین پیمان ما تا جان شود از تن برون

(۱،دود پیچان ،ص ٤۱)

آزادی آبیست که درخت زنده گی از آن شاداب است . اگر ازادی نباشد ، درخت از بی آبی میمیرد ، درخت هستی انسان میمیرد . وانسان اسیر وغلام بی آب وبی آبرو ست . وخلیلی، این شاعر آزادیخواه ، گوهر آزادی را شرف هستی میداند ودرراه آن از جان ودل میگذرد، بدین گونه :

شرف هستی ما گوهر آزادی بود
جان ودل درره آن گوهر یکداند کنم

(۱،دل دیوانه ،۹۳)

آزادی ، روح یك ملت است. اگر کشوری آزادي نداشته باشد، چنان جسمی است بیروح . وجسم بیروح مرده است.ملتی که آزادی ندارد ،مرده یی بیش نیست . خلیلی مرگ را بهتر از زنده گی میداند که دراسارت بگذرد :

چو آزاده گی نیست کشور مباد
زن ومرد ما زنده یکسر مباد
سرافراز را درسر افگنده گی
بودمرگ زیبا تر از زنده گی

(۱،خزان خون، ص۱۱۲)

انسان راستین به جز از پروردگار یکتا سر تسلیم به درگاه هیچ

موجودی فر و نمی آورد . اومیداند که بنده گی برای بنده مقام والای انساني را از او میستاند . از آن روگرانبهاتر از آزادی چیزی راسراغ ندارد . وشاعر آگاه از ین رموز میگوید :

گر غلامی طوق الماس است بند بنده گیست
بشکنش در زیر پا چون کردی از گردن برون
(۱،دود پیچان ،ص۴۱)

کسی که به ارزش آزادی آگاهست ، مرگ را برتر از زنده گی دراسارت میداند .او نه از تیغ میترسد ونه از تانگ ، نه از ماشیندار ونه از دار . چون مرگ با افتخار را بهتر از زنده گی پست وخوار میداند .خلیلی را در ین باره سخنی است، بدین رنگ :

گردن آزاده گان را تیغ بهتر جای طوق
مرد حق راسرفرازی باشد از دار وطنا ب
(۱،به پیشگاه اقبال،ص ۷۰)

خلیلي، این مرد انساندوست ، همه بشریت در بند را رها از بند میخواهد وبه آرزوی آن روز،روزیکه انسانها همه آزاده گان اند ، خطاب به آفتاب میگوید :

بپنی خجسته رایت آزادی بشر
برپا ی گشته باز به بوم وبرآفتاب
(۱،آفتاب ،ص۴۰)

انسانها بادرد ، همیشه برای خوشبختی بشریت درتلاش اند . هرگامي که مینهند به خاطر خیر وسعادت انسان است.هیچ تبعیضی وتعصبی این که کسي چه شغل وپیشه‌یی دارد ، مهم نیست. مهم آنست که او چه اندازه برای مردم وجامعه اش مصدرخدمتی میشود ، اگر پیاده‌ء دفتری است یا رهبر کشوری. البته مسؤولیت دانشمندان، بیشتر از بیدانشانست ، به ویژه آنانی که قلم به دست دارند وبا نوشتن حقایق هستی ،مردم رابه سوی نور وروشنایی رهنمون میشوند وگرانخوابان شب غفلت رابه سحرگاه بیداری وهوشیاری، فرامیخواند نویسنده گان وشاعران آگاه ورسالتمند که از ین تبار اند ، همیشه برای رهایی انسان از بند رنج واندوه درکارند ومشعلدار آزادی بشر اند . خلیلی راسخنانیست اندرین باب، بدین گونه :

شاعر سرود دلکش آزادی بشر
درپیش پیش رهرو ادوار میبرد
آوازه‌ء شکستن زنجیر برده گیست
سازی که وی به محفل احرار میبرد
(۱،شاعر ،ص۱۰۷)

آن گاه که دست روزگار نیش جفا را برجان خلیلي، این شاعر رنجدیده،فرو میبرد وآزادیش را میر باید ، او با ورش را به همه چیز از دست میدهد وغمگنانه فریاد برمیدار د :

افسوس که درقسمت ما شادی نیست
جز رنج وغم وجفا بربادی نیست

علم وهنرو صنعت ونیروونظام

اینها همه هیچند چو آزادی نیست

(۱،آزاد ی ،ص۱٤٤)

اما درست آنست که به آیند ه وآزادی باید باور داشت ، به آزادی کشور وبه آیندهء روشنش .اگر نه زود ، که دیر آمد نیست. سربه کف وچشم به راه باید بود .

مأخذ

۱- خلیلی ،خلیلی الله . اشکها وخونها : برگزیدهٔ جز سوم دیوان. اسلام آباد:رایز نی فرهنگی سفارت جمهوری اسلامی ایران ،۱۹۸۵.

۲- قائمی علی آزاده وآزادی .قم : کانون نشرجدید ،۱۳۹۷ هـ.ق.

۳- منصوری ،جواد . فرهنگ استقلال .چاپ اول. تهران: چاپخانهٔ دفتر نشرفرهنگ اسلامی، ۱۳٦٦.

پروفیسور سیال کاکړ

د ملا عبدالسلام آشیزي یوناچاپ کتاب



پښتنو لره عبدالسلام یوازې
ښهٔ غمخور دزماني خوشحال خټك سو

دپښتو پهٔ ویاړلي ادبي تاریخ کښې دسهیلي پښتو نخوا نیاز منو پښتنو د تاریخ پهٔ بېلا بېلو دورو کښې خو رالوی لوی ادبي اتلان پیدا کړي دي.

پهٔ دې ادبي سلسله کښې لهٔ بېټ نیکهٔ څخه رانیولې بیا تر «ملا عبدالسلام آشیزي» پورې ددې کلتوري سیمې هر لیکوال او شاعر د ګرانې پښتو پهٔ تاریخي وربل کښې راز رازادبي ګلان ټوملي چې د همېشه د پاره به د پښتو ټولې ادبي تذکرې ددوی پهٔ علمي کار ناموښایسته وي.

د سهیلي پښتو نخواپهٔ ادبي اتلانو کښې د اځکزیو ملاعبدالسلام آشیزی هغه ابتکاري شاعردی چې دپرنګیانو پهٔ استعماري دوره کښې پهٔ ۱۲۰۰ هجري کال د ملا

حبش پهٔ علمي او پښتني نغري باندې دې نړاندې دنيا ته راغی. د پښتو دغه مجاهد شاعردکورک پهٔ تاريخي چاپېريال کښې رالوی او دهمدې جلالي غرهٔ د «شاخه» نومي کلي پهٔ بختوره ادیره کښې د ۱۹۷۴ عيسوي کال د جنورۍ پر ۲۶ نېټه پس لهٔ مړينې وسپېرو خاوروته وسپارل شو.

ملاعبدالسلام آشيزی ددينې علومو پهٔ زرينو پلوشو منور او د خوراتينگو نظرياتو څېړن ؤ، دهٔ خپل انقلابي، اصلاحي وطني،اجتماعي ،اخلاقي او ديني احساسات د پښتو پهٔ لافاني اشعارو کښې رانغښتي چې د«سوسن چمن »او «طلب مذهب » پهٔ ادبي پانو کښې خوندي سوي دي. دملاعبدالسلام آشيزي دغه دواړه ابتکاري کتابونه ددهٔ پهٔ ژوند کښې څو ځووارہ چاپ سوي او پهٔ سهيلي پښتو نخوا کښې د پښتو د هړ شيدايي تر کوره پورې رسېدلي دي. البته زهٔ پهٔ درنو لوستونکيو باندې لومړی واردا زړی کوم چې زمونږ د دې مبارز شاعر «زردانه در»نومي شعري ګلدسته لاتراوسه پورې د چاپ پهٔ انتظار ناچاپه پرته ده.

«زردانه در» د ملي شاعر او ديني مصلح اروابناد آشيزي هغه ناچاپه شعري مجموعه ده چې په خپله ادبي او اسلامي غېږه کښې د پښتو و«زرو» بيتوته ځای ورکوي . د ۷۶ مخونو دغه خورا قيمتي رساله اروابناد آشيزي پهٔ خپل لاس کښلې ده . ددې ګټورې رسالې يوازنۍ خطي نسخه د ملاعبدالسلام آشيزي لهٔ ګلاليوزامنو ښاغلي شمس-طالع اوګران غلام يحيی سره خوندي. ده چې

حبيب الله رفيع

پښتو تفسيرونه

دپنځو سورتونو تفسير

«پنجسوره» يا پنځهٔ سورتونه د قرآن کريم هغه سورتونه دي، چې زياته وظيفه اوتلاوت يې کيږي اوصوفيان او شيخان يې پهٔ خانګړي ډول لهٔ خانه سره ګرځوي.

ددې پنځو سورتونو يو پښتو منظوم تفسير کښل شوی، چې خطي نسخه يې دپيښورپښتو اکيډمی دخطي نسخوپهٔ زيرمه کښې پهٔ (۳۱) نومره خوندي ده.

دااثريوه حمديه سريزه لري، ورپسې دسورت والضحی تفسير، دسورت الم نشرح تفسير، دسورت والتين تفسير،د سورت فلق تفسيراو د سورت قدرمنظوم تفسير پکښې راغلی دی .د شعر قالب يې لنډه اته څپه ايزه مثنوي دی.

د تفسير شريف دانسخه د ليکلو نيټه نهٔ لري،

البته د همدې خوندورې شعري مجموعې عکسي کاپي زماپهٔ ځاني کتابتون کښې زېرمه پرته ده،

د کتاب پیل :

ارواښاد آشیزی د «زردانه در» پرلومړي مخ باندې ترهر څهٔ دمخه «بسم الله الرحمن الرحیم» لیکي، بیا تریوهٔ مخیز عربي تمهیدي کلماتو وروسته پښتو شعرونه راوړي. دلته د کتاب د سرد بیتوڅخه ځینې د نمونې پهٔ ډول وړاندې کېږي:

یا الهي ستابنده یم — که بناغلی که ګنده یم
سایل مهٔ شړه د دره — تارا وغوښت ناخبره
امتي مې د رسول که — بې طاعته مې قبول که
حق روښانه که وماته — لکه ونه و موسی ته
امت ځونې طایفی شوې — روحې هم پرخلکوشپې شوې
کلمه وایه «اځکه» — چې لارنه شي درځه ورکه

د کتاب پای :

ملا عبدالسلام آشیزی خپله درنه شعري ګلدسته پهٔ لاندې بیتوسره پای ته رسوي:

د اسلام غریب زوال دی — نن دکفر لوی کمال دی
خلك ولاړو سامري له — دجال راغی انغري له
یا الهي موږکامیاب کې — دین روښان دښمن کریاب کې
روحې بېرته د موسی که — اپي (۱) مار دده عصا که
چې اتیا ډلې تمامې — ګرځي لاندی کې در(۲) زامې
پردېسان بوزې وطن له — هوسې ورولې خټن له
پرافضل د مخلوقات هم — د باران درځاځکوزیات هم
صلواتو نه کوته توکه — د ارواح زما دبیتو که
ګردنبیان دې شي درلاندې — هغه بیاچې پرخدای ګران دي
جمله آل و اصحاب ګرد — امامان عالي جناب ګرد

---

(۱) اپي = افعي (۲) در = تر

چې پۀ دين دمحمد وي پرهېزګاره وي که بد وي
هغه واړه جنتي کې ما دده ښۀ امتي کې

يادوه عبدالسلامه
ملـه امين دعا تمامه

د «زردانه در» ټوله بيتونه د مثنوي پۀ اته څپه ايزلند بحر کښې جوړشوي دي. ددې ارځښتناکې رسالې ګردا شعار پۀ يو تور کرښيز جدول کښې دننه ليکل سوي او پر هر مخ باندې **خپلې وخت ۱۲ خپلې وخت ۱۳ او خپلې وخت بيا ۱۵ بيتونه راغلي دي.** د اروابـاد آشيزي د شعري ګلدستې خط مناسب او نسخ ډوله دی، ډيره خوشخطي پکښې نۀ شته، البته دومره ده چې د نوموړي شاعر خطي نسخه ښه پۀ اسانۍ سره ويله کيږي، څرګنده دي وي چې په «زردانه در» کښې املايي نيمګړتيا وي زياتې ليدل کيږي. اروابـاد آشيزی د پښتوځينې ږغونه لکه «پ» پۀ «ف» او «څ» پۀ «س» بدلوي، دمثال پۀ ډول غاپي، پوليټکل او پرېږده دغافي، فوليټيکل او فرېږده پۀ شکل راوړي، دغه راز "څرګنده" او "درځه" د "سر ګنده" او "درسه" پۀ ښه ليکي.

«زردانه در» دملاعبدالسلام آشيزي دلونګينو اشعارو هغه جانانه مجموعه ده چې هربيت يې خورا ساده، خوږ، روان او پۀ زړۀ پورې دی. داروابـا د آشيزي لۀ پښتو اشعارو څخه هر بې سواده او باسواده پښتون خونداخستلای سي. لوی شاعر پۀ خپله شعري کرونده کښې د کليوالې پښتو ډېرې زيات لغات زېرمه کړي دي. د اځکزيو همدغه نګه کلمات دپښتنو ليکوالو سره د پښتو قاموس پۀ ليکنه کښې ښه مرسته کولای سي. څرګنده دي

وي چې اروابښاد آشيزي په «زردانه در» کښې دسوچه کلماتو په څنګ کښې د پښتو ځينې ناسپيڅلي کلمات هم کارولي دي چې البته داد ملا عبدالسلام آشيزي دځانګړي شعري سبک يوه مهمه خاصه ده.

«زردانه در» دادبي ملغلرو هغه قيمتي لاړدی چې په ډول ډول رنګينو مطالبو پسو لل دی، په دې ادبي خزانه کښې ديني ،اخلاقي،اصلاحي، انتقادي،وطني، سياسي ، اجتماعي ،تاريخي او معلوماتي مطالب دهمپښه د پاره خوندي سوي دي. دغه ګټوره شعري مجموعه داروابښاد آشيزي د «فن او شخصيت» د هرارخيزي څېړنې په باره کښې له درنو محققينو سره ښه په زړه پوري کومك کولای شي.

«زردانه در» دپښتونخوا په ادبي دنيا کسبې ديوې داسې لونګيني ګلدستې حيثيت لري چې د پښتو رنګ به د همپښه د پاره په ښايسته او تاريخي نوم به يې د تل د پاره په لوړوي. داشعارو په دې ښايسته ګډډه کښې د ملا عبدالسلام آشيزي کوټلي افکار او ځانګړي نظريات په ښه ډول ځای شوی دي او د همدې خوندوري رسالې ابتکاري شعرونه زمور د غيرتي شاعر دويارليو افکارو ښکارندوی دي. اروابښادآشيزی د خپلو اشعارو داثباتولو په خاطر په «زردانه در» کښې ځای

پرځای قرآني آيتونه نبوي حديثونه او د فقهي کتابونو مستندې حوالې راوړي.

ښکاره خبره ده چې په ملا عبدالسلام آشيزي کښې پته نه وه، وهرچاته يې سپيڅې مامدينې کړې دي. څه چې يې پرزړه ورغلې

دي هغه يې پۀ کامل اخلاص بې لۀ څۀ بيري د خپل انقلابي شعر پۀ نشتري ژبه تر پښتنو پوري رسولي دي. نن ورځ لوی ملاعبدالسلام آشيزی زمونږ پۀ مابين کښې نسته ،خوهغه د خپلو درنو افکارو پۀ وسيله د پښتنو پر زړونو باندې حکمراني کوي .

دانګلستان يرغلګر د پښتنو ملي قهرمان ملاعبدالسلام آشيزی پۀ خپلو اشعارو کښې ځای پر ځای غندلی دی. د همدې غندنې پۀ نتيجه کښې اروابناد آشيزي دپر نګيانو پۀ استعماري دوره کښې دکوټی تر زندان پوري رسيدلی دی . پۀ دې باره کښې دی يو ځای پۀ «زردانه در» کښې داسي کاږي:

دوی درهر مجرم بترکړم وخبيث «آغا» تی ورکړم
اوس بيا اوسي پۀ «چمن» کښې «سيد» کفر پۀ علن کښې
بيا پرما «سيکان» پيره سو لوی کالخوايه مې «ګوره» سو
سيک» پۀ سيل ګاډی کښې يووم کله کلي پوښتيدووم
ګايولم هر جاسوس زۀ وم پۀ «کوټه» کښې محبوس زۀ
چې اول زما چغل سو در «آغا» وروسته «بازګل» سو
بيارا خلاصه دروازه سوه خو «کتاب(۱)دوربې قبضه سوه
اروابناد آشيزی پۀ همدی سلسله کښې د «زردانه در» پر ۲۵مخ باندی بيا داسې ليکي :

زما قصه اخبار خوره کړه
نوره ما لګی ورسره کړه
بيرته اوم دده قانون سو
خښمجن ورته پښتون سو
آخر ووتم د قيده
فيصله داسې سوه زيده

(۱) مراد "سوسون چمن" دی چې انګريزانو ضبط کړی وُ .

زما هغه «کتاب» مغضوب سو
اوس ددهٔ مخ پر غروب سو

ملا عبدالسلام آشيزی پهٔ «زردانه دو» کښې د پرنګيانواو ددوی دپلويانو کرغيړنې ځيرې پهٔ ښهٔ ډول ښکاره کړې دي. اروابناد آشيزی دپښتنې احساساتو ځښتن او د اسلامي جذباتو خاوند وٗ. دهٔ د خپلو اشعارو پهٔ وسيله پهٔ «زردانه در» کښې پرنګيان خورا زيات غندلي اوپښتانه يې د خپلې خاورې د ساتنې پهٔ خاطر ددوی پهٔ ضد راپاروليدي. زمور دې ويښ شاعر پرنګيان ډيرښهٔ پيژندلي دي، ددوی استعماري ځيره يې، د «زردانه در» پهٔ پاڼو کښې داسي لوڅه کړې ده:

ډير بې شماره نازولي پر نګيانو کونتلي
د تمامې مځکې سر دهٔ ټوله ونيو بحرو بردهٔ
پرنګيانو کډ پهٔ باغ کو درترکيانومرويې چاغ کو
پرنګی موختا باسي د واويادلي راباسي
دانګريز بيوری دلته ما در وښووې پهٔ ګوته
خلك چپه ځې د مسجده پرنګيانو کوبې سده
دښمنې د انګريزانو موږلهٔ ښايي عزيزانو
چې د هرملت دښمن دی هغه دغه دروغجن دی
ناخبره پهٔ پرنګ يې اچولی در ګرنګ يې
کل دوستان يې پرله اړکو اوس نوراسهٔ دې خړکو
کهٔ رښتيا انګريزرهي سو زمور طالع مخ پربهي سو
د انګريزه سره خانه غزا کيږي پهٔ اسانه
خوراڅاډي «فلسطين» هم هلته سته دا شياطين هم

د انګريز دوستي مني ځوك ؟
پهٔ ليوه کوی شپني ځوك ؟

ملاعبدالسلام آشيزی دپښتنو يولوی خواخوږی

وُ. دهٔ د پښتنو پهٔ بد حال باندې پهٔ پښتني احساس او اسلامي جذبه ژړلي دي. دې مصلح شاعر همیشه د پښتنو پاملرنه وخپلو نیمګړتیاؤ ته راګرځولې ده، ودوی ته یې پهٔ ډیره خوږه ژبه دملي یووالي اوپښتني وحدت خبرې کړي دي.دی پښتانه اتفاق ته رابولي اوداسې درس ورکوي:

اتفاق وکئ کمزورو ملک موګړدو نیوئ نورو
چې میږیان پریوه لارسی غبرګ به بیرته پرښامارسي؟
راسئ پره پر اتفاق سو خاوندان دښه اخلاق سو
ګډدپښتونه متفق سه مددګاره دې خالق سه
دوني لږ پښتانه ولې ځله کیږي ډلې - ډلې
ویښوه پښتون د خوبه د«هراته» ود «ډوبه»

طالع تللې دپښتون دی
چپه سوې نن پرون دی

اروابنداد آشیزی بیا دپښتنوپهٔ باره کښې داسې وایي:

پره منی ځلور مذهبه حنفي پښتون نسبه
نوراني ځراغان پهٔ کار دي پښتانه پهٔ جهل باردي
موږپښتون چې یوامت یو راضي ډیر پهٔ شریعت یو

ملاعبدالسلام آشیزی داعلیحضرت غازی امان الله‌خان لوی طرفدارو ده دپښتنو دغه ملي شخصیت اومحبوب رهنما پهٔ زردانه در»کښې پهٔ ملي مینه ستایلی دی،دلته دنومورې قهرمان پهٔ باره کښې د«زردانه در»لهٔ بیلو بیلو مخونوڅخه ځینې بیتونه دنمونې پهٔ ډول وراندې کیږي:

وغازي امان الله ته وکه ست پهٔ بسم الله ته
خان امان الله بې تاجه خوشې ولاړ دبل محتاجه
ښه امیر دپښتنو وُ کښلې کریچ پرزنګنو و
دانګریز درنظرچپ سو غل«سقاء» دده خلف سو
ورك یوسف بهٔ لاس له درسي ښې به سترګې دپدرسي

چې اعليحضرت غازي ولاړ پټ پۀ مکر انګريزی ولاړ
دۀ اعلی حضرت غازي بوت په کمک يې د «قاضي» بوت
هم غازي فخر افغان ولاړ هغه سيل ټوله مرغان ولاړ

« زردانه در» پۀ خپله ويارلي لمن کښې وځينو اشخاصوته ځای ورکوي. تاريخي اوملي شخصيات يې دشعر پۀ ادبي ژبه خورا ښۀ ستايلي ،البته دپيرنګيانوپلويان يې ترژور انتقاد لاندې نيولې دي.داروا ښادآشيزي پۀ دې ادبي ګلدسته کښې دغه نومونه پۀ يوه نۀ يوه حواله راغلې دي لکه :

فخر افغان اعليحضرت غازي امان الله خان ،غازي محمد ايوب خان،امير عبدالرحمن خان، ميرخدای دادخان بلوڅ، شاه شجاع، محمد نادرخان،ابوالکلام آزاد،مهاتماګاندي، محمدعلي جناح،قاضي محمدعيسی،خانتما،بازګل اويوونيم بل...دلته دهمدې کسانوڅخه دځينوذکر د«زردانه در» داشعاروپۀ حواله داسې کيږي:

هم «غازي محمدايوب» ولاړ لکه نمر چې پۀ غروب ولاړ
پښتانه چې شهيدان سو سورپۀ وينو هرميدان سو
بندي«ميرخدايداد بلوڅ»سو بيابانې جهان لۀ کوچ سو
چې د«شاه شجاع» نوبت ؤ دا پۀ کفر مسلط ؤ
د«يزيد » درجنګ بتره دغه روڅ سوه برابره
«شجاع»هم د«پرنګ» مل ؤ دپښتون خاندان غل ؤ
بيا دو همه غزا بله چې «غازي ايوب» کوله
نو«امير عبدالرحمن » هم وګروبد زماپۀ ګومان هم
قتل کوته پښتانه سو انګريزان باندې درانه سو

ملاعبدالسلام آشيزی هغه جلالی شاعر دی چې دخپل انقلابي زړګوتی خروښ يې پۀ انتقادي ژبه پۀ زردانه در» کښې پۀ ډاګه ښکاره کړی دی .

وښوته يې پۀ ښه نظراوبدوته يې پۀ بدنظر کتلې دي. دلته دهمدې شعري ګلدستې پۀ حواله ځيني نمونې

وړاندې کیږي :

زمونږ همدغه مشران دي پۀ پسې ړانده خواران دي
نـاخبر د شریعتـه شین بوده سر بیره کته
نۀ ساتي د دین لحاظ یو نۀ محمود سي نۀ ایاز یو

اروابنادآشیزی یوځای بیا داسي وایي

بینښتان پوړته پرسر ږمونږ سي
روژه وخوري پاته نمونږ سي
د اقـرآن چـې نۀ چلیـږي
پـۀ زورکوندې مایـنـي کـیږي

دغه راز اروابناد آشیزی پۀ "زردانه در "کښې و"پتلون" "خولې"، "تصویر"، "قیافه" او "اسکـول" تـه پـۀ انتقادي نظر داسي ګوري:

چې اغوستی چا "پتـلون "وي دمنجلسه دې بیـرون وي
بیاکه خـان دپښتنـو سي لنډ "پتلـون" پرځنګنوسي
چې "خولې" یې د "ګوره" سي دهغو سـردې اره سـي
د "ګوره" "خولې "چې سپرده د "اخوند" دزوی پرسرده
بنې واوښتـي اکـثره خیـال پۀ کفر کـوي خره
رسوم مۀ پالـه دکفـر پـر ایمان وکـاږه شکر
زام "تصویر "که درسره وي دابه رسـم د "ګوره" وي

"اسکول" سوی ټوله "پښین" دي
بد بدبوتي پـکښې شـین دي

مـلاعبـدالسـلام آشیـزی پـۀ "زردانـه در "کښې یوځای بیـا داسي وایي :

"ریډیو" جوړه کۀ هـر سازهـم
"ټینک"، "موټر"، "ګاډی"، "جهاز" هـم
"تـوپ"، "ایټم" "بومان" تیار کـه
خـان در هغـه ملـت جـارکـه
چـې قـرآن پـري رانـازل سـو
خـله بیـل حـق وبـاطـل سـو

زه دانۀ وام چې جاهل سه
يا ماينه لاندې در پل سه
چې مۀ څه د« قرآنه»
« پښتنواله » کوه خانه

ملا عبدالسلام آشيزي دقرآن عظيم الشان ولورته دپښتنو پاملرنه راګرځولې ده،پۀ دې باب نومورې پۀ «زردانه در» کښې ډير څه ويلې دي. دلته ددې آفاقي کتاب پۀ باره کښې دارواښاد آشيزی لۀ شعري مجموعې څخه ځينې بيتونه دنمونې پۀ ډول وراندې کيږي :

قرآن څرنګه ارزان سو چې کالخوايه انګريزان سو
وچ خزان ګل دريدي کئ اوس قرآن شريف خوندي کئ
دقرآن درسونه کم سو ملاځه پۀ کوردې غم سو
قرآني بحثونه ورک سو دين پۀ دې زمانه سپک سو
پۀ قرآن کې کوم نقصان سته يا د کفر څۀ احسان سته
قرآني اخلاق راباسه پر هر ګل بادصبا سه

اسلامي لحاظ ساته څۀ آخر شرم حيا سته څۀ
کوه فکر پۀ قرآن کښې خدای به هر مشکل آسان کې
مسلمانه متفق سه
پر قرآن باندې عاشق سه

ارواښاد آشيزی بيا يوځای د«اسلام» پۀ باره کښې داسې پۀ زړه پورې بيتونه راوړي :

اسلام واړه يوصورت دی داخبره حقيقت دی
کۀ زخمی دا يواندام سې بدن ټوله ناارام سې
يوبل ځای بيا داسې وايي :
دربارونه راکريږاب که پۀ اسلام کښې ځان حساب که
ارواښاد آشيزی يودينې مبارزاودحقيقي اسلام يولوی

پلوي دی ،يوځای دمسلمان پۀ باره کښې داسي کاږي :

نن زړه مسلماني ځي تاج وتخت د«داني» ځي
نن دخلکو نوی دين سو همدهمه لوی ناورين سو

دملا عبدالسلام آشيزي پۀ انقلابي اشعاروکښې دهردول استبداد غندنه اودعدل اوانصاف طرفداري شوې ده،نوموړي هرظالم دشعر په جلالي ژبه کوټلی اوهر مظلوم يې پۀ انساني مينه پۀ ځيگر پوري ټينگ نيولی دی. پۀ دې باره کښې انقلابي آشيزی خپله عقيده د«زردانه در» پۀ پانوکښې داسي څرگندوي :

ډيرپر عدل برابر ځه بې کمبوته لکه غر ځه
کۀ غيرت لرې خوتوره چلوه پر هر مغروره
دنامي ظالم ريښې ته کاږه خان دبيخه بې ته
پنډ مغزی وهه پۀ توره مۀ سه مور درباندې بوره
کاږه بيخ د کبر جنو د فرعون د زامنو
غريب ږوندپۀ ځاکښې منلي ږغ دې نسته پرنټلي.

ملاعبدالسلام آشيزی دخپلو اشعارو لۀ رويه پۀ سياسي ميدان کښې پۀ فکري لحاظ د«کانگريس» پلوی ښکاري. دی پۀ دې باره کښې خپل سياسي نظر داسي راوړي :

نو«کانگريس» پرځۀ دښمن دی
«ليگ» ناحقه ګيله من دی
او ل دا توره ښکاره که
ورك د مخکي څه ګوره که
د«ګاندی» سره اوستری ته
پټ مجلس وکه نری ته
کۀ صفا مسلماني ده
چې غرض مودانې ده
دښمني د انګريزا نو
مورله ښايي عزيزانو

خوکاغذاو خط يې ښيي چې پۀ ديارلسمه هجري پيړۍ کښې دی کښل شوی وي .کاغذ يې پيړۍ،اوبه ورسيدلې او مرمت شوی؛ خو متن يې بشپړپاتې شوی دی.خط يې نسخ خام دلوستورۍ، متن پۀ توره سياهی او ځينې مهم بيتونه او قرآني آيتونه پۀ سره رنګ کښل شوي او پاڼې يې پۀ سپين مسطرمسطر شوي دي.دکتاب نوم نه لری دا قلمي نسخه ٦٩ پاڼې=۱۳۸ مخونه لري ،کچه يې ۱۵ * ۲۵ سانتي متره او د متن کچه يې ۱۱ * ۲۱ سانتي متره ده او هر مخ يې ۱۹ کرښې لري.

مؤلف : دکتاب د مؤلف نوم «مستعان» دی . پروفيسر افضل رضا دا شاعر د محمد مستعان پۀ نوم معرفي کړی اود سورت يس دتفسير مفسريې بللې دی (۱) خوزما پۀ ياد دا شتونو کښې د سورت يس مفسر د «حبيب» پۀ نوم دی، چې پۀ خپل وار به يې تفسير دروپيژندل شي.

همداراز د قاري عبدالمستعان پۀ نامه يو شاعر لرو چې پۀ ۱۲۵۲هجري قمري کال وفات شوی ،دۀ د تجويد او د قرائت پۀ علم کښې ژور معلومات درلودل،پۀ پښتو او دري يې شعر وايه، د پيښور پۀ اکبر پوره کښې اوسيده، لۀ انګريزانو سره يې قلمي اوعلمي مبارزه کړې ده، د«حزب الله » دډلې غړی وۀ، دکړپې ،خاپښ او ناوګی پۀ غزاګانو کښې يې برخه اخيستې وه،دی د سرۀ کمر پۀ غازي آباد کښې وفات او هم هلته ښخ شوی دی (۲).

کۀ زمور د تفسير خطي نسخې ليک وخت وتاکل شي او دوخت فاصله ونۀ لري نو بيادا اټکل کولای شو چې ددې تفسير مؤلف دی همدا قاري عدالمستعان وي؛ خو دا حکم به لۀ راتلونکو څيړنو سره اړه ولري.

چې دهر ملت دښمن دی
هغه دغه دروغجن دی
راسی پره پۀ اتفاق سو
خاوندان دښه اخلاق سو
هر «هندو» و «سیك» دځان کو
خپل منصف سړی به خان کو
چې فرمان دشریعت وړي
دین ساتي پرځان مکنت وړي
بې چاره هندوان کمزوري
لاندي وساتو درسوری

او داهم دملا عبدالسلام آشیزی داشعارو یوه پۀ زړۀ پوري نمونه :

چې نۀ ربدوٗ نۀ دا تار وٗ نۀ اسکول نه ځوك هوښیارو
زموږ کړدی مستي کوډلې بیغمي وه دهر کلي

اویا داروا ښاد آشیزی دغه تاریخي شعر :

د «میوند» وینې به چیرې زما پۀ عمر نه سې هیرې

دخپلې دې لیکنې پۀ پاى کښې داویل خپله ادبي وظیفه بولم چې دکوړك لوی شاعر ،ملي مبارز، دیني مصلح اوخواخوږی پښتون اروابنیاد ملا عبدالسلام آشیز ی پر ټولو پښتنو،پۀ تیره بیا پر لیکوالوباندی داحق لري چې دوی دنومورې پۀ نامه یوه ادبي اوعلمي ټولنه جوړه کړي اوبیا دهمدې ټولنې پۀ وسیله ددې غیرتي شاعر اوانقلابي پښتون دطلایي افکارو پۀ باب هر اړخیزې څیړنې وکړي همدا به دپښتو پۀ ادبي دنیاکښې یو لوی خدمت وي، پۀ خپله اروا ښاد آشیزی داسي وایي:

زه وام زما ویل دې لنډو ي
نسته سود چې کار پۀ ځنډ وي

$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$$

محمد آصف صمیم

زمونږ ټولیزې ژبې د معیاري اړخ یو ځای

۲۸ـ دنجیب دیوی میاشتی په اندازه مونږ ته په یو کال کښی هومره کومك نه کیږی .

۲۸ـ ... دنجیب دیوی میاشتی هومره مرسته مونږ ته په کال کښی (هم) نه راکو ل کیږی.

۲۹ـ ... یوه ډله خلك وایی،چی په افغانستان کښی دنجیب له کوندنه غیر دی ... انتخابات وکړای شی.

۲۹ـ ... یوه ډله وایی چی دنجیب دکوندله ګډون پرته دی انتخابات وشی.

یا:

یوه ډله وایی چی بی دنجیب له کوندنه دی انتخابات وشی.

۳۰ـ دجګړه ماروډلوترمنځ دی سوله منځ ته راوړی .

۳۰ـ... دجګړه ماروپا دښمنوډلوترمنځ دی سوله راولي.

ځیرنه : «راوړل» او«راوستل» په پښتو کښی لږ«پرعکس»یوه صوری (شکلي)اومعنوی یا کیفی باریکی لری،چی ژبپوهانوداسی سره بیلي کړی دی:

الف:ـ راوړل (له خپلو ټولو فعلي مشتقاتو سره) دیو ځای جامد څیزدلیږدو نې له پاره کارول کیږی،لکه لرګی،کتاب،قلم ،مشوانې او...

ب:ـ راوستل(له فعلي مشتقاتوسره) دخوځنده، تلونکیو اومجردویانامحسوسو څیزونولە پاره کارولکیږی ،لکه: ځاروی،،موټر،هلك،الوتکه ، خندا،ژړا،سوله ،امنیت ،عدالت او...

دزیاتی څرګندونې له پاره به دبایسکل مثال یادول موضوع لږه نوره هم روښانه کړی.

بایسکل که په خپله فعال وی اودچا د رسولو وړتیاولری ؛ یعنی روغ وی ، نوویل کیږی چې بایسکل می راووست ؛ خوکه وران یا په اصطلاح پنچر وی،نو«بایسکل می راوړ ویل کیږی.

دهمدغویادونوپه رنړاکښې سوله چې یوه مجرده کلمه ده ـ راوستل کیږی، یعنی... سوله راولي،ویل اولیکل په کار دی.نه ...سوله راوړی.

۲۱ـ .. داور ګاډی دتګ لیکی په دواړو غاړوکښې ګڼ شمیر خلك په کتارونو کې ولاړوو.

۲۱ـ داورګاډی دپټلي دواړوخواووته ګڼ شمیر خلك لیکه ولاړ وو

ځیرنه: داورګاډی لار یا لیکه داور ګاډی له راتګ سره سمه پټلۍ بلل شوی اودود شوی ده،تګ لیکه چې بې بې سې یې کله کله دخط مشی یا پالیسی له پاره، کاروی ـ ورسره څه نه ایسی .

۲۲ـ دخدای ورکړی پوهې اوزکاوت (ذکاوت) له مخې وتوانید ترڅودکانکور امتحان په ورکولو سره دعالي تحصیلاتو له پاره په جامعه امام محمد شیبانی رح داصول دین په پوهنځی کښې شامل شو.

۲۲ـ دکانکور امتحان تر ورکولو یا تر کانکورامتحان وروسته دامام محمد شیبانی رح پوهنتون په اصول دین پوهنځی کښی شامل شو.

ځیرنه:

دخدای ورکړی پوهی یادونه که دزیات عقیدت له مخی نه وی؛ نو جمله پری اوردول نۀ وو په کار.

۲۲ـ تیره ورځ د ګنګا په سیند کښی دراجیودایروپۀ اچولوسره دهندو مذهب له مخی دراجیو وروستی مراسم ختم شول.

۲۲ـ ګنګا سیند ته دراجیو دایرو په اچولو سره دهغۀ وروستی مذهبی مراسم تیره ورځ پای ته ورسیدل.

۲۴ـمجاهدینو نوموړی ولایت دسرپل اولسوالي پراته کمونیستی مرکزونه دخپلو درندو او سپکو وسلو تر برید لاندی نیولي اوورته یی دځان اومال درانده تاوانونه اړولي دی.

۲۴ـ مجاهدینو ددغه ولایت دسرپل اولسوالي کمونیستی مرکزونه تر سختو بریدونو لاندی نیولي اودرانده ځانی اومالي تاوانونه یی ور اړولي دی.

یا :مجاهدینوددغه ولایت په سرپل اولسوالي کښی پر کمونیستی مرکزونوباندی په سختو بریدونوسره(دښمن)ته درانده ځانی اومالي تاوانونه ور اړولي دی.

۲۵ـپدی عملیاتوکښی له مؤمنومجاهدینو څخه (۱۱) کسه ټپیان او (۷)کسه نور دشهادت لوړ مقام ته ورسیدل،روح یی دی شادوی .

۲۵ـ په دغو عملیاتو کښی (۷) کسه مجاهدین شهیدان او (۱۱)کسه نور ټپیان شول.

ځیرنه:

الف: عملیات په مغیره حالت کښې راغلي؛ نو اسم اشاره (دی یا دغه) هم ورته مغیره کول په کار دی،لکه :په دغه ښار کښې اوپه دغو ښارونوکښې.

ب-خبر جوړوونکی دخپل خبراددده په ګومان) دسمون اوشهیدانوته ددعا - چې په خبر کښې حتمی توکی نه دی-له پاره تپیانوته پر شهیدانو لومړیتوب ورکړی دی، حال داچې قاعده ددی پر عکس ده .

۲٦-مجاهدینو دکابل رژیم پوه هیلیکوپتر الوتکه دجګړې په وخت ځمکې ته رانسکوره کړه.

۲٦- مجاهدینودرژیم یو هیلیکوپتر رانسکورکړ.

ځیرنه:

الف: دمجاهدینوپه مقابل کښې چې کله درژیم یادونه وشې؛نو هم دیوی «معرفي» معنی ورکوی، د«کابل»دمضاف الیه دمل کولو ضرورت ورسره نه شته .

ب:دهیلیکوپتر په یادولو الوتکه په ذهن کښې ورسره مقدره (تاکلي) وی،لیکل یې ورسره هم ضرور نه دی،البته په دی صورت کښې هیلیکوپتر دژبنی دود له مخې مذکر لفظ دی. نوځکه بې صفت هم مذکرول په کار دی.

۲۷- قومی مشرانو اوعلماووته حق ورکړل شوی دی، چې دوی دی دهری اولسوالي څخه لس تنه دلویی جرګی له پاره انتخاب کړی.

۲۷-قومی مشرانو اوعلماووته دلویی جرګی له پاره له هری اولسوالي نه دلسوتنو دانتخاب حق ورکړ شوی دی .

یا قومی مشرانو اوعلماووته حق ورکړ شوی،چې دلویی جرګی له پاره له هری اولسوالي نه لس لس کسه غوره کړی .

ځیرنه:

د«دوی دی»حکم په جمله کښې نغښتی، دی.نوځکه

بې لیکل هم ضرور نه دی.

۲۸ـ... افغانی ډلو خپل مشخص موقف نیولې دی.

۲۸ـافغانی ډلوخپل ټاکلې دریځ غوره کړی دی.

ځیرنه: دموقف یا دریځ له پاره به «نیول» ددری ژبې دژباړې په ټوګه سم وی؛خوپه پښتو کښې دریځ غوره کیږی،یاهم لرل کیږی.

۲۹ـ ځکه دوی... نه شی کولای ،بیا دافغانستان دجنګ ځپلې او وروسته پاتې ټولنې په منځ کښې په ګرانو شرایطو ژوند وکړی.

۲۹ـ ... ځکه دوی ... بیا په افغانستان غوندی جنګ ځپلې اووروسته پاتې ټولنه کښې په ګرانو شرایطو ژوند نه شی کولای .

۳۰ـدافغان کمیشنری پوری تړلې ښوو نځیوتعلیمی نصاب اوفعالیتونه دایجوکیشنل سیل داداری لخوا پر مخ وړل کیږی.

۳۰ـ په افغان کمیشنری پوری دتړلیویاارونډوښوونځیو تعلیمی نصاب دایجوکیشنل اداری له خوا څارل کیږی،یا اداره کیږی.او پر مخ بیول کیږی

ځیرنه:«په» په پښتوکښې سربل (پیشینه) دی، چې لـ «پوری» اوستربل (پسینه) سره ملګری کیږی اویو مکانی حالت رامنځ ته کوی (لیکلار۲۵ مخ) نو(د) چې یواځې یو اضافي اداه دی ـ له پوری سره یې ملګری کول له ژبنی دودنه سرغړاوی دی.

۳۱ـ ... چې مالي مصارف یې دملګرو ملتوله بودجې څخه تمویلیږی .

۳۱ـ ... چې (لګښت) (یا مصارف) یې دملګرو ملتو له بودجې نه ورکول کیږی .

ځیرنه:

الف: «مالي» بایدد «مصارف» دصفت په توګه ورسره مل نه شی؛ ځکه «مصارف» په خپله له «مالي» سره یوبنیادی نغښتی یا مستترتړون لری، یعنی مصارف یواځی په پیسو یامال کیدای شی.

ب: اورد(و) باید دمغیره جمعی رو ستاړی(لاحقه) وی، چی باید داسم په وروستی توری پوری ونښلي، ځکه ددی قاعدی مخالفت التباس اوګډون پیښوی، لکه: سړو(یخنی) وواژه اوسړو(مردها) وواژه (لیکلاره ۱۳۲مخ).

۴۲ـ... ټول فعالیتونه یی دایجوکیشنل سیل لخوا تنظیم اوښوونکی یی کله ناکله دباند نیومؤسسود ښوونکو دروزنی دکورسونوپه مرسته مسلکی پوهه وینی.

۴۲ـ... ټولي چاری یی دایجوکیشنل سیل له خوا څارل کیږی اوښوونکی یی کله کله (وخت ناوخت) دباندنیو مؤسسو په ښوونیزو(تعلیمی) کورسونوکښی روزل کیږی.

ځیرنه:

الف: دغه شان یوه دوه توکیزه اوږده، جمله په هغه صورت کښی سره پپیل کیدای شی چی، دپای فعل یا مرستیال فعل دجملي ددواړو برخو بشپړوونکی (متمم) وی؛ خوپه نوړی بیلګه کښی «... مسلکی پوهه وینی» د«... له خوا تنظیم» بشپړوونکی نه ده.

ب:ـ... دباندنیومؤسسو دښوونکیو «روزنی دکورسونو» جمله پرله پسی دریو اضافتونو(دالونو) دیره درنه کړی ده، چی دلته په «ښوونیزو» سره لنډه کړای شوه.

۴۲ـ... چی درنی اغیزی یی هیڅا ته

دسترګوپټولو چانس نه ورکوی

۳۲ـ... چې پردرنوانغیزویې هیڅوک سترګې نه شي پټولای.

څېړنه: دسترګوپټولوچانس ورکول » په لوی لاس په مروجه روانه اصطلاح »سترګې پټول) کښې یوه بې ډوله لاسوهنه ده .

۳۳ـ... هغوی روسی تابعیت پرې اینبی دی.

۳۴ـ... هغوی روسی تابعیت پرینبی دی .

څېړنه:

« پرې اینبی » د«پرې اینبودل »(بالایش گذاشتن) قریبه ماضی ده،نه دپرینبودل» (ترک کردن). پرینبودل یوبسیط مصدر دی، چې له پرې اینبودل سره یې توپیر په کار دی .

۳۵ـ...زه یوشمیر عکسونه لرم .کوم چې دادول دجګړې اسیران چې مجاهدینونیولي ،ښکاره کوی.

۳۵ـ...زه یوڅوداسې عکسونه لرم ،چې دمجاهدینوله خوا نیولي (اسیران شوی) روسان ښیی.

یا:

زه دمجاهدینوله خوا دنیولیو روسانو یوڅوعکونه لرم

۳۶ـ... مونږ نه یو توانیدلي چې ورته ګام پورته کړو.

۳۶. مونږ ورته ګام پورته نه کړای شو،

۳۶. مونږ ورته ګام پورته نه کړای شو.

یا: مونږ بریالي نه شو،چې ګام ورته پورته کړو.

څېړنه:

توانیدل دپښتو په مصدری وروستاړی (ل) پښتوشوی دری کلمه ده، چې مونږ یې په مصدر+ای+مرستیال فعل (شول) سره جوړوو،اویایی هم په مصدری(ل) + ای جوړوو.لکه : ومې نه لیکلای شو .

ونه توانیدم (؟)چې وخورم جمله ـ په دی

عبارت پښتو کوو:ومی نه خوړای شو.

۴۷ـ دنومبر ۱۹۹۰ نه راپدیخوا

۴۷ـ د۱۹۹۰له نومبر راهیسی یاراسی .

ځیرنه:

دمهال اونیټې په شودانه اوتسلسل کښی دپښتو جملې جوړښت ددری پرخلاف دی، داسی چی ورځ،میاشتی اومیاشت کال ته مضاف ده.لکه د۱۲۵۸کال دجدی شپږمه.

۴۸ـروسانودافغانستان په طبیعي منابعوقبضه لګولې ده.

۴۸ـروسانودافغانستان پرطبیعي زیرموخیته اچولې ده.

ځیرنه:

«خپټه اچول» دقبضه لګولو پرځای یوه دودشوی خوندوره اصطلاح ده .

۴۹ـعراقی پوځونوچی دسعودی عرب په سیمه خفجی باندی کومه قبضه کړی وه،هغه یی خوشی کړی اوبیرته په کویت کښی خپلو مورچویاځایونوتهراستانه شوی دی.

۴۹ـ عراقی پوځونه دسعودی عربستان دخفجی نومی نیولې سیمی تو خوشی کولو وروسته بیرته په کویت کښی خپلو مورچویا ځایونوته ستانه شوی دی .

ځیرنه:

الف:«عراقی پوځونو» ترکیب «ترقبضه کړی وه».جملې پوری پرځای دی؛ خوکه وروسته برخه له لومړی برخی سره غوټه شی، نوداسی لوستل کیږی ،چی: عراقی پوځونو... بیرته په کویت کښی خپلو ځایونوته ستانه شوی دی .ځال دا چی په داسی حالت کښی د جملې فاعل (عراقی پوځونه) په اصلي یا ساده حالت کښی باید راشی.

ب: په « راستانه» کښی «را» پلوی یاطرفي ضمیر دی، ،چی داسی یو حالت ښیی، چی :

دخبر ځای اودستنیدوځای ګوندی یوځای دی ،حال داچی دخبر ځای مرکز(پینبور) اودپوځونو مرکز (کویت) یوله بله پوره سره لری دی، نویواځی «ستانه» بس دی، نه «راستانه».

۵۰ـ متحدینوپه ټوله شپه کښی دعراق په شارونو۹۳ هوایی بریدونه وکړل.

۵۰ـمتحدینویا دمتحدینوځواکونوپه یوه شپه کښی پرعراقی شارونو۹۳ هوایی بریدونه وکړل.

ځیرنه:

«په ټوله شپه کښی» دامعنی لری ،لکه خبرجوړوونکی چی دمتحدینوپرهوایی ځواکونوطنز اوملنډی کوی ، چی په ټوله شپه کښی یی ایله همدا۹۳بریدونه له وسی پوره شول.

۵۱ـ هنددامریکا الوتکوته دتیلو اچولو سهولت اواسانتیا په خپله خوښه مهیاکړی.

۵۱ـ هند امریکایی الوتکوته په خپله خوښه تیل ورکړی دی .

۵۲ـ روسی ماهران مزار شریف ته رسیدلي ځوهغه پایپ لاینونه بیرته فعال کړی چی پخوا به طبیعی ګاز پکښی روسیی ته لیږل کیده.

۵۲ . روسی متخصصان یاماهران مزار شریف ته رسیدلی، چی روسیی ته ګازلیږدوونکی پایپ لاینونه بیا له سره جوړیا فعال کړی.

یا:

روسی متخصصان دهغوپایپ لاینونودبیا فعالولوله پاره مزارشریف ته تللي، چی روسیی ته په کښی ګاز لیږدول کیده .

۵۲ـ ...افغانستان دخپل واړه مساحت په اړوند

د تفسير پيل :

خداى هغه خالق څښتن دى چې رازق او ذوالمنن هم دى
د همه عالم بادشاه دى په ځرګندپه پټ آګاه دى
په همه ممکن قادر دى هم باطن دى هم ظاهر دى

ددې اثر پاى :

اوس تمام شو دا کتاب والله اعلم بالصواب
واليه المرجع والمآب يا الله يا وهاب
اى تښتنه اى رحمان فضل کړې په «مستعان»
رحم وکړې ته اکبر په حافظ جې حافظ صدر
هم په اولاددحافظ صدر چې مسکن دشيخ جى در
هم په آل دحافجى(۲) رحم ته کړې په جې جې
يا الله يارحمان مستعان له ورکړې ښه جنان
هم جنت کړې ددۀ خاى هم ماوى جنت دخداى

خداى رحيم دى هم غفاردى
په عاجزوې رحم بسياردى

(۱) رضا، پروفيسر افضل: «پت ستوري» ۱۲۸ مخ پيښور يونيورستې - پښتو اکيډمي ۱۹۸۴ع، پيښور.

(۲) خدمتګار، عبدالله : «پښتانه شعراء» ۴ټوک، ۱۰۲۸مخ، پښتوټولنه، کابل، ۱۳۵۷

- هيواد مل زلمى: فرهنګ زبان وادبيات پښتو، لومړى ټوک ۲۲۸مخ، دبنوونې اوروزنې وزارت، د تاليف اوترجمې رياست، ۱۳۵۶، کابل

(۲) حافجى دحافظ جى مخفف.

پېدک

(۷)

دوه میاشتنی ادبي اوکلتوري مجله



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓئُهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ
يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ
اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

سورة البقرة آيت ۲۵۷،

ژباړه:

خدای (ج) دمؤمنانو مل او مرستندوی دی، له
تیارونه یی رناته راوباسي، (خو) دکافرو
مرستندویان طاغوتان دي، چی له رنانه یي
تیاروته بیایي، دوي ددوزخ استوګن دي،
چي تل به په کښي پراته وي

پرښتی:

دپښتو دعارف لسّان الغیب شاعر رحمان بابا لاسکښلی انځور

انځورګر: ازهر «هروی»

سپیدی

دوه میاشتنی ادبي اوکلتوري مجلّه

دریمه دوره ، دویم کال ، لومړی گڼه ، غبرګولی، چنګاښ، پرله پسې (۲۸)

خپرونکي : دافغانستان کلتوری ټولنه

دټولنې مشر: محمد صدیق پسرلی

کتونکي ډله :

حبیب الله رفیع، میرویس مرچ

زرین انځور، امان الله ساهو

مسؤول مدیر : محمد آصف صمیم


وجه اشتراک سالانه
در امریکا ۵۰ دالر
در اروپا ۴۰ دالر
درپاکستان ۱۵۰ روپیه
قیمت یک شماره: ۲۵ روپیه یامعادل آن
آدرس پستی
G.P.O.Box 665
Peshawar
Pakistan
آدرس بانکی
GRINDLAYS BANK
AC-No.63239001
Peshawar- Pakistan

په دې ګڼه کښې

شمیر	سرلیک	لیکوال	مخ
۱	دزړه ء خوالهء	مسئوول مدیر	۱
۲	نبوي حدیث	دعزیزي ژباړه اولندیز	۳
۳	دپنځوسورتونو تفسیر	حبیب الله رفیع	۷
٤	حقیقت حج بین عبادات اسلامی	خالد کاپیسائی	۱۰
٥	«پته خزانه فی المیزان» ته یوه کتنه	محمد معصوم هوتك	۱۷
٦	سخنی بر سخنی	م . آویشن	٤۰
۷	درحمان بابا دشاعری دړې دورونه	حبیب الله رفیع	٤٤
۸	مفاهیم سترګ از زبان شاعربزرګ	آویشن	٦٦
۹	زردانه در	پروفیسور سیال کاکړ	۷۸
۱۰	زموږدلیکنې ژبې دمعیاری لرخ یوجاج	محمد آصف صمیم	۹۱

شمیر	سرلیك	لیکوال	مخ
۱۱	ناهید نامه	استاد عبدالرحمن پژواك	۱۰۶
۱۲	غزل	محمد صدیق پسرلی	۱۴۷
۱۳	غزل	نوابزاده صبح صادق	۱۴۸
۱۴	غزل	پیر محمد کاروان	۱۴۹
۱۵	غزل	نورالحبیب نثار	۱۵۰
۱۶	غزل	برکت الله کمین	۱۵۱
۱۷	په عبدالباقی رستوران کښې	اسدالله غضنفر	۱۵۲
۱۸	ډیوې بلیږی ډیوې سوځیږي	محمد زرین انځور	۱۸۹
۱۹	زړې هیلې اوزاړه وختونه	اورنگ زیب ارشاد	۱۹۱
۲۰	هغه نه مری جاویدان دی	م. ر شفق	۲۰۱
۲۱	دخدای مرسته	امان الله ساهو	۲۰۴
۲۲	لویه ونه	محمد صدیق پسرلی	۲۱۸
۲۳	جهادی لنډی	تخیرګل محمد عارف غروال	۲۲۰
۲۴	وخته راستون شه	پروین فیض زاده ملال	۲۲۶
۲۵	ادبی اوفرهنگی خبرونه	اداره	۲۲۸